# دافغانستان په توقیف ځایونو کې

# د منازعې اړوند توقیفیانو سره چلند

## یوکال وروسته

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

د بشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر

**د ۲۰۱۳ کال جنوري**

**کابل - افغانستان**

# دافغانستان په توقیف ځایونو کې

# د منازعې اړوند توقیفیانو سره چلند

## یوکال وروسته

د ۲۰۱۳ کال جنوري

کابل - افغانستان

# فهرست


داصطلاحاتو قاموس ........ i

دیوناما ماموریت ........ ii

لاس رسی او میتودولوژي ........ ii

د راپور لنډیز ........ 1

لومړی نقشه: د توقیف هغه مرکزونه چې د یوناما له خوا کتل شوی دی ........ 25

دوهمه نقشه: د توقیف هغه مرکزونه چې پکښې پیښې منځ ته راغلی دی ........ 26

دریمه نقشه: د افغان محلي پولیسو ، افغان ملي اودو ، افغان ملي پولیسو او ملي امنیت ریاست په مرکزونو کی د چلند د څرنګوالی په اړه د توقیفیانو بیانونه ........ 27

د ملي امنیت عمومي ریاست لخوا چلند ........ 28

څلورمه نقشه: په لسو ولایتونو کې د ملی امنیت په مرکزونو کو کی مختلفی پیښې ........ 43

پنځمه نقشه: د ملی امنیت ریاست د توقیف په مرکزونو کې سیستماتیکه شکنجه او موثقې او معتبرې پیښې ........ 46

د افغان ملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا چلند ........ 47

شپږمه نقشه: په اوو ولایتونو کی د افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کی مختلفې پیښې ........ 56

اوومه نقشه: د ملي پولیسو په نظارتخانو کې سیستماتیک او د اعتبار وړ او مستندې شوې پیښې ........ 61

د افغان ملي اردو چلند ........ 62

د افغان محلي پولیسو چلند ........ 63

د ملي امنیت او ملي پولیسو چلند د هغو توقیفیانو سره چې د نړیوالو پوځونو لخوا ورته سپارل شوي ........ 65

بد چلند او شکنجې ته د رسیدګي په موخه د افغانستان د حکومت اقدامات ........ 66

د قانوني مراحلو طی او د جزایې عدالت سیستم ځواب ........ 73

د توقیف ځایونو څخه د نړیوالو مرستندویه ځواکونو (ایساف) د پلټنې پروګرام ........ 77

د ملي امنیت او کورنیو چارو وزارت څخه نړیوال ملاتړ ............................................................................................. 82
په مخکې لار: د راتلونکې لپاره د توقیف ځایونو څخه د څارنې په اړه وړاندیز ................................................................. 84
سپارښتنې ................................................................................................................................................... 86
لومړۍ ضمیمه: توقیف ځایونو څخه د یوناما د نظارت پروګرام ۲۰۱۰-۲۰۱۲ ........................................................................ 92
دوهمه ضمیمه: د یوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر میاشتې راپور د سپارښتنو د تطبیق وضعیت ............................................... 94
دریمه ضمیمه: د تطبیق وړ قانون ...................................................................................................... 101
څلورمه ضمیمه: دغه راپور ته د افغانستان حکومت ، د ملي امنیت ریاست او د کورنیو چارو وزارت د ۲۰۱۳ کال د جنوری د ۱۴مې نیټې ځواب ........................................................................................................ 106
پنځمه ضمیمه: یوناما ته د ایساف قوماندانۍ د ۲۰۱۳ کال د جنوری د ۱۱ مې نیټې لیک ............................................... 132

## داصطلاحاتو قاموس

| | |
|---|---|
| OHCHR | د بشري حقونو لپاره دملگرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر (او ایچ سی ایچ ار) |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) |
| UNDP | دملگرو ملتونوپراختیایي پروگرام (یوان ډی پی) |

## دیوناما ماموریت

د ۲۰۰۴ کال راپدیخوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په افغانستان کې د ملګروملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ته دنده سپارلي چې د محابسو د بیا رغاونې او اصلاح په شمول د یو عادلانه او روڼ عدلي سیستم رامنځته کولو ملاتړ او دقانون حاکمیت لپاره د افغانستان دولت سره مرسته وکړي.

د ملګروملتونو د امنیت شورا د۲۰۴۱(۲۰۱۲)[1] ګڼه پریکړه لیک پر اساس یوناما ته دنده سپارلې چې په عدلي سیستم او محابسو کې بشری حقونو ته د لاندې ذکر شوو ټکو له لارې احترام زیات کړي:

۳۷- یو ځل بیا تأکید کوي چې د ټولو اړونده ارګانونو او نورو فعالینو په واسطه "د ټولو لپاره د عدالت او قانون د ملي لومړیتوبونو پروګرام" بشپړ، منظم، پر وخت او همغږی تطبیق د یو روڼ او روښانه عدلي سیستم د رامینځته کولو او د معافیت له منځه وړلو په نظر کې نیولو سره په ټول افغانستان کې د قانون حاکمیت کې برخه اخیستل ډیر ارزښت لري.

۳۸- د قانون حاکمیت او بشري حقونو ته د احترام په موخه په فغانستان کښې آزادی د سلبولو د ځایونو پر بیارغونه او اصلاح تأکید کوي. په افغانستان کې ټولو محابسو او توقیف ځایونو ته د اړونده ادارو د لاسرسي دتأمین پر اهمیت، او د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو، بشري حقونو او دیوناما د۲۰۱۱زیږدیز کال راپور د وړاندیزونو په شمول اړونده نړیوالو قوانینو ته د احترام پر لرلو تأکید کوي.

### په افغانستان کې د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنرۍ دفتر(او ایچ سی ایچ ار)

دملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا خپل د۲۰۰۶ کال نومبر ۲۷ نیټه ۲/۱۱۳ ګڼه پریکړه لیک کې او ایچ سی ایچ ار (دبشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ) ته دنده ورکړه چې افغانستان کې دبشري حقونو وضیعت ته رسیدګي او لاندنیو برخوکې خپلو همکاریوته ادامه ورکړي:

د بشري حقونو شورا ددبشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ څخه وغوښتل چې په افغانستان کې دبشري حقونو وضیعت څخه نظارت وکړی او افغانستان کې دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي سره په دوامداره توګه د بشر حقونو او قانون حاکمیت برخو کې تخنیکي او مشورتي مرستېوکړي او افغانستان کې دبشري حقونو وضیعت په هکله د بشري حقونو شورا ته په منظمه توګه راپور ورکړي.[2]

## لاس رسی او میتودولوژي

له ۲۰۱۰کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۱کال اګست پورې، د منازعې اړوند توقیفیانو سره د بدچلند په هکله د ټولنې لخوا د ګڼ شمیر اندېښنو ښکاره کولو په ځواب کې یونامادافغان دولت او اړوند اړخونو په سلا مشوره د ټول افغانستان په کچه د توقیف

---

[1] دملګرو ملتونو 2014,S/RES/2041 د۲۰۱۲کال مارچ ۲۲ نیټه تصویب شوی پریکړه لیک ،

[2] دملګرو ملتونو عمومي اسمبلي ته دملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا راپور، ضمیمه نمبر53,A/62/53 ، ۲۰۰۶کال نومبر۲۸ نیټه پریکړه لیک.

ځایونظارت پروګرام ترسره کړ، یوناما د ۲۰۱۱ کال اکتوبر میاشت کې[3](دافغانستان توقیف ځایونوکې د منازعې اړوند توقیفیانوسره چلند) یو راپور خپورکړ. دموندنو خلاصې لپاره ددی راپور لمړی ګڼه ضمیمه وګورئ او دیوناما د۲۰۱۱کال راپور وړاندیزونو تطبیق څرنګوالي لپاره دوهمه ګڼه ضمیمه وګورئ.

## اوسنی راپور

دغه راپور له ۲۰۱۱کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ کال اکتوبر پورې د منازعې اړوند توقیفیانو څخه د نظارت په اړه د یوناما لاسته راوړنې ښکاره کوي. پدې برخه کې د افغان ملي پولیس، افغان ملي سرحدي پولیس، دامنیت عمومي ریاست ، د کورنیوچارو وزارت او نورو ادارو مسؤلینو یوناما سره د نظارت په بهیر کې مرسته کړې.

له۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ کال اکتوبر پورې دملي امنیت عمومي ریاست یوناما ته د ټول افغانستان په کچه  پرته د کابل د ملي امنیت د تروریزم ضد ۱۲۴ نمبر ریاست ( تیر وخت کې درياست ۹۰ په نامه پيژندل کیده) د نوموړي ریاست ټولو توقیف ځایونو کې توقیفیانو ته د لاس رسي امکانات برابر کړي  وو.

 دکورنیو چارو وزارت خپلو ټولو توقیف ځایونوته د لارسرسی اجازه ورکړي وه. د۲۰۱۲ کال د جنوري په لسمه نېټه د عدلیې وزارت څخه کورنیو چارو وزارت ته د محابسو عمومي ریاست مسؤلیت انتقال ځینې ستونزې رامنځته کړي چې یوناما ونشو کولای د توقیفیانو سره مرکې وکړي .[4]

## د توقیفیانو نمونه

له۲۰۱۱کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ کال اکتوبر پورې، یوناما ۶۳۵ تنه توقیفیان او محکومین مرکه کړل چې د افغان ملي پولیسو/ سرحدي پولیسو او یاهم د ملي امنیت ریاست لخوا توقیف شوي وو. یاد توقیفیان د ملي پولیسو او سرحدي پولیسو نظارتخانوکې، دملي امنیت ولایتي توقیف ځایونوکې، دولایاتو مرکزي محابسوکې او یاهم دماشومانوداصلاح او تربیې مرکزونوکې مرکه شوي. یوناما دټول افغانستان په کچه د ۳۰ ولایتونو په ۸۹ توقیف ځایونوکې دتوقیفیانوسره دچلند په موخه مرکې کړي (دوردګ او نیمروز ولایتونو کې نیول شوي توقیفیان کابل او فراه ولایتونوته له انتقال وروستهمرکه شوي)[5]. لمړی نمبرنقشه، له ۲۰۱۱کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲کال اکتوبر پورې د یوناما لخوا نظارت شوي توقیف ځایونه ښکاره کوي.

---

[3] دافغانستان توقیف ځایونوکی دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند (یوناما/اوچا ،۲۰۱۱اکتوبر). لاس رسی ورپه: www.ohchr.org/documents/countries/AF/UNAMA_Detention_en.pdf.

[4] دځینو ولایتی محابسو مسؤولینو یوناما ته وویل چې دوی ته د کورنیو چارو وزارت څخه داسې لارښوونه شوې چې مخکې لدی چې دمحابسو څخه دلیدنی اجازه چاته وکړی باید د اړوند ولایت امنیه قوماندان څخه اجازه ترلاسه کړی. دا د ۲۰۱۱کال دسمبر او ۲۰۱۲ جنوری کی چې لمړی وخت کی محابس د کونیوچارو وزارت تر واک لاندی راغلل، یوناما غوښتل د کندهار ولایت سرپوزی زندان څخه لیدنه وکړی راپیښ شول. یوناما داموضوع کابل کی دمحابسو عمومی ریس ښاغلی جنرال جمشید سره شریکه کړه چې نوموړی یوناما ته دنظارت اجازه وکړه. دانامعلومه پاتی شوه چې آیا کورنیو چارو وزارت یا دمحابسو عمومی ریاست داواک لری چې دخپلواکه ادارو/ اشخاصوته د محابسو څخه دلیدنې اجازه ورکړی. دمرکزی محابسو مسؤولینو وڅرګنده کړه چې دتحقیق مدیران، دملی امنیت رئیسان او امنیه قوماندانان هغه کسان دی چې یوناما باید ورسره اړیکه ونیسی ترڅو دنظارت اجازه ترلاسه کړی. یوناما لدی کبله اندیښنه لری چې دا دول دشفافیت نشتوالی شاید دتوقیفیانو سره دچلند او قانونی مراحلو مراعت کیدلو څخه نظارت او راپور ورکولو برخه کی کوښښونه دخطرسره مخ کړی.

[5] دملي امنیت هغه توقیف ځایونه چې یوناما نظارت کړی: فیض اباد(بدخشان)، قلعه نو(بادغیس)، پلخمری(بغلان)، مزار(بلخ)، بامیانوښار(بامیان)، نیلی(دایکندی)، فراه ښار(فراه)، میمنه(فاریاب)، هرات ښار(هرات)، شبرغان(جوزجان)، کابل(ریاست۱ او ۴۰)، کندهار(کندهار)، محمودراقی(کاپیسا)، اسدآباد(کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال اباد(ننګرهار)، شرنه(پکتیکا)، ګردیز(پکتیا)، چاریکار(پروان)، تالقان(تخار)، او قلات(زابل). دملي پولیسو نظارتخانی چې یوناما نظارت کړی: فیض آباد(بدخشان)، پلخمری (بغلان)، مزار(بلخ)، بامیان ښار(بامیان)، نیلی(دایکندی)، فراه ښار(فراه)، میمنه(فاریاب)، هرات ښار(هرات)،

تقریباً ټولو یاد توقیف ځایونوکې یوناما دتوقیف ځایونو مسؤلینو او اړوند دولتي چارواکو سره لیدلي ، دهر توقیف ځای څخه یې لیدنه کړې او راجستر کتاب یې کتلی. دملي امنیت ځینو توقیف ځایونوکې دتوقیف ځایونو راجستر کتاب ته د یوناما له لاس رسی او هم ځینې ځایونو کې د ټولو برخو څخه دلیدنې مخنیوی شوی وو. کله چې دامخنیوی رامنځته شو موضوع لمړي ګام کې داړونده توقیف ځای مسؤلینو سره او بیا کابل کې دملي امنیت عمومی ریاست د بشر حقونو څانګې سره شریکه شوه. وروسته دملي امنیت د بشر حقونو څانګې په منځګړیتوب ، یوناما ته دملي امنیت ټولو نظارت کړای شویو توقیف ځایونوکې راجستر کتاب ته د لاس رسي اجازه ورکړل شوه.

د۶۳۵ تنه توقیفیانو له جملې څخه چې یوناما لخوا مرکه کړای شوي ، ۵۵۲ تنه دمنازعې اړوند جرمونو مظنونین یا هم محکومین وو. یوناما موندلي چې ۷۸ تنه نورتوقیفیان د ملي پولیسو تروریزم ضد ریاست یاهم دملي امنیت لخوا دجنایي جرمونو په تور نیول شوي وو. اچې ددوی ډیری داختطاف په جرم کې نیول شوي وو چې ملي امنیت درسیدګی واک لري ، یوشمیر نور ئی د دولت ضد عناصرو په توګه نیول شوي وو. یوناما دغه توقیفیان هم منازعې اړوند توقیفیانو نمونه کې شمیرلي دي ځکه چې ملي امنیت او ملي پولیس دغه توقیفیان دمنازعې اړوند یا سیاسی توقیفیانو سره یوځای ساتل او یوشانچلندیې ورسره کاوه.

یوناما موندلي چې د ۵۵۲ تنه د منازعې اړوند توقیفیانو له جملې څخه ۳۳۰ تنه د طالبانو دملاتړپه توراو ۵۷ تنه نور بیا ددولت ضد نور ګروپونو سره دتړاو په جرم تورن وو. د ۵۵۲ تنه توقیفیانو په منځ کې ۸۷ تنه د منفجره موادو یاهم نور چاودیدونکو وسایلو دلرلو په جرم تورن وو ، ۱۸ تنه د قتل یا د هغه د شروع په جرم ، ۱۳ تنه دځانمرګي حملو په جرم ، ۷ تنه داختطاف په جرم و ، ۲ تنه دجعل کاري په جرم تورن وو ، ۲تنه دمظنون شخص دکورنۍ اړیکې پر بنسټ نیول شوي وو ، ۱ تن دقاچاق په جرم تورن ، او ۱۶ تنه دنورو جرایمو په ترسره کولو تورن شوي وو. سربیره پر دې ۱۹ تنه نور توقیفیان دنامعلومو جرایمو په تور توقیف کړ شوي وو.

د۶۳۵ تنه توقیفیانو له جملې څخه ۴۱۵ تنه تیر وخت کې یا هم دمرکې پرمهال دملي امنیت توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو[6]. ۲۸۶ تنه دافغان ملي پولیسو توقیف ځایونوکې او ۹ تنه دافغان ملي سرحدي پولیسو لخوا ساتل شوي یا هم ساتل کیدل[7]. ۳۴ تنه دملي اردو توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو[8]. همدارنګه ۱۲ تنه توقیفیان دمحلی پولیسو لخوا ساتل شوي او ۷۹ تنه توقیفیان دنړیوالو ځواکونولخوا یاهم بهرني دولتي استخباراتي ادارو په تنهایۍ سره یا هم د افغان ملي امنیتځواکونو سره په

شبرغان (جوزجان)، کابل ښار(کابل)، محمودراقی(کاپیس)، قندهار ښار(قندهار)، خوست(خوست)، اسدآباد (کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتیکا)، ګردیز(پکتیا)، چهاریکار(پروان)، تالقان(تخار)، قلات (زابل). دمحابسو عمومی ریاست اړوند محابس چې یوناما لخوا نظارت شوی: فیض آباد(بدخشان)، قلعه نو(باغیس)، پلخمری (بغلان)، مزار(بلخ)، بامیان ښار(بامیان)، نیلی(دایکندی)، فراه ښار(فراه)، میمنه(فاریاب)، چغچران(غور)، هرات ښار(هرات)، شبرغان (جوزجان)، پلچرخی(کابل)، سرپوزه (قندهار)، محمود راقی (کاپیسا)، خوست(خوست)، اسدآباد (کنړ)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتیکا)، ګردیز(پکتیا)، چهاریکار(پروان)، تالقان(تخار)، قلات (زابل). دماشومانو اصلاح اوتربیی مرکزونه چې یوناما نظارت کړی: فیض آباد(بدخشان)، قلعه نو(باغیس)، پلخمری (بغلان )، فراه ښار(فراه)، هرات ښار(هرات )، کابل(کابل)، کندهار ښار (قندهار)، محمود راقی (کاپیسا)، خوست(خوست)، کندزښار(کندز)، مهترلام(لغمان)، پل علم (لوګر)، لشکرګاه (هلمند)، جلال آباد(ننګرهار)، شرنه (پکتیکا)، تالقان(تخار)، قلات (زابل).

[6] د۵۱۴ تنه جملی څخه ، ۶۸ تنه توقیفیان دملي امنیت دوه توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی ساتل شوی وو ، ۱۸ تنه دملي امنیت دری نورو توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی او دری تنه توقیفیان دملي امنیت څلورو توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی ساتل شوی وو. جمله ۶۰۱ بیلګی دملي امنیت توقیف ځایونو په نمونه کی.

[7] د۲۸۶ تنه توقیفیانو جملی څخه ، ۶۱ تنه توقیفیان دملي پولیسو یواځی دوه توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی ساتل شوی ، او دوه تنه توقیفیان دملي پولیسو دری توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی ساتل شوی وو. جمله دملي پولیسو ۳۴۷ مثالونه دنمونی په توګه اخیستل شوی.

[8] د۳۴ تنو توقیفیانو له جملي څخه د نمونې په ډول دری تنه دملي اردو یواځی دوه توقیف ځایونوکی په مختلفو وختونوکی ساتل شوی وو.

ګډه نیول شوي ، ساتل شوي او بیا دملي امنیت یا هم ملي پولیسو توقیف ځایونو ته انتقال شوي وو. یوناما موندلي چې جمله ۱۵۱ تنه په ګډه توګه دملي امنیت او ملي پولیسو لخوا یاهم ملي سرحدي پولیسو لخوا په مختلفو وختونوکې توقیف کې ساتل شوي وو. دتوقیفیانو دکتګوریو ټوله مجموعه د۶۳۵ تنو څخه زیاته ده ځکه چې ګن شمیر توقیفیان د دوه ادارو لخوا دملي امنیت او ملي پولیسو یا ملي سرحدي پولیسو او یاهم ملي اردو ، افغان محلي پولیسو یاهم د نړیوالو ځواکونو لخوا په مختلفو وختونوکې توقیف کې ساتل شوي وو.

۶۳۵ تنه توقیفیانو چې یوناما مرکه کړي ۲۶۷ تنه (یواځی ) دملي امنیت لخوا ، ۲۱۲ تنه دملي پولیسو او یاهم ملي سرحدي پولیسو لخوا نیول شوي ، ۷۹ تنه دنړیوالو ځواکونو لخوا په یواځی توګه یاهم د افغانستان ملي امنیتي ځواکونوسره په ګډو عملیاتو کې نیول شوي ، ۳۱ تنه دافغانستان ملي اردو لخوا نیول شوي ، ۲۶ تنه د نورو امنیتي ځواکونو (افغان محلي پولیس ، دکورنیو چارو وزارت جنایي تحقیقانو ریاست ، یا هم محلي قوماندانانو) لخوا نیول شوي او ۵ تنه توقیفیان دافغان ملي امنیتي ځواکونو(خپلواکه )عملیاتو کې نیول شوي وو. له ۶۳۵ تنو جملې څخه ۱۵ تنه نه پوهیدل چې کومو ځواکونو لخوا نیول شوي وو.

۷۹ تنه توقیفیان لمړي قدم کې د نړیوالو ځواکونو لخوا یاهم بهرنیو دولتي استخباراتي اداراتو لخوا په یواځې او یاهم دافغانستان امنیتی ځواکونو سره په ګډو عملیاتو کې نیول شوی وو چې ۷ تنه ئې لمړي قدم کې ملي امنیت ته ، ۲۰ تنه د افغانستان ملي پولیسو ته ، یو تن کورنیو چارو وزارت زندان ته ، یوتن هم ولسوالۍ ته ، او یوتن هم دکوچنیانو اصلاح او تربیې مرکز ته انتقال شوي وو.

یوناما د منازعېد جرایمو په تړاو درې تنه ښځینه توقیفیانې مرکه کړي. په عمومي ډول افغان چارواکې د منازعې اړونده جرمونو په تور ډیر لږ شمیر ښځینه توقیف کوي. په مجموعې توګه ، یوناما ۱۰۵ تنه توقیفیان چه د توقیف کیدو پرمهال له ۱۸ کلونو کم عمر لرونکي وو مرکه کړي.[9]

همدارنګه یوناما دقضاء ، څارنوالۍ ، مدافع وکیلانو انجمن ، دبشردوستانه او بشري حقونو ادارو استازو سره په مسلسله توګه لیدلي او مرکې کړي.

د ۶۳۵ تنه توقیفیانو سره دیوناما دمرکو دپام وړ موضوع دیادو توقیفیانو سره دملي امنیت او ملي پولیسو یاهم ملي سرحدي پولیسو کارکوونکو چلند او همدارنګه دافغانستان ملي اردو او محلي پولیسو مسؤلینو او ددولت لخوا ددوی په قضایاوو کې دافغانستان دقوانینو او نړیوالو بشري حقونو اړوند قوانینو مراعت کول وو.[10]

## د مرکو د حفاظت میتودولوژي او د اثبات معیار

یوناما په تصادفي توګه دمنازعې اړوند توقیفیانو انتخاب او په مورنۍ ژبه (پښتو یادري) یې ورسره په یواځیتوب کې پرته د توقیف ځاي کارمندانو ، نورو دولتی کارکوونکو او یا نورو توقیفیانو دحضور څخه مرکې کړي. ټول مرکه شوي توقیفیان دمرکې په هکله د د رضایت ښودلونه وروسته مرکه شوي.

[9] دکوچنیانو دحقوقو په هکله نړیوال کنوانسیون تعریف پر بنسټ کوچنی هرهغه کس ته ویل کیږي چې ۱۸ کلونو څخه کم عم لرونکی اوسی ( ۰-۱۷کلونو).
[10] دیوناما دماشومانوملاتړ څانګې او قانون حاکمیت څانګه ددغه راپور تحلیل او حمایت برخه کې تخصصي معلومات شریک کړي.

دیوناما ټولو مرکه کوونکو د۱۲ میاشتنی نظارت په دوران کې دځانګړوتوقیف ځایونو څخه په مختلفو وختونوکې لیدنه کړی. ډیری لیدنې له مخکي نه په نا اعلان شوی توګه ترسره شوي ؛ که څه هم کابل او کندهار توقیف ځایونو څخه دیوټرون له مخي چې مخکي څخه دنظارت خبرتیا ورکول کیده لیدنې ترسره شوي.

یوناما دتوقیف ځایونو څخه دنظارت پروګرام طرح او دتوقیفیانو سره دمرکو پرمهال نړیوال منل شوی کړنې او معیارونه کارولي دي. یوناما خپلو مرکه کوونکو او ژباړونکوته څرګنده لارښودونه او کړندودونه صادرکړي وو[11]. یاد اسناد دملګرو ملتونو دبشري حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر په همکارۍ دتوقیفیانو سره مرکه کول او د توقیف ځای څخه د نظارت روزنیز لارښود پر بنسټ تیار شوي وو[12].

سره ددی ، دیوناما ټولو مرکه کوونکو د توقیف ځایونو ، شکنجې ، او بدچلند په هکله دمعلوماتو کراس چک ، دمحرمیت ، دمعلوماتو اعتبار او دمرکو ترسره کولو په هکله معیاري تریننګونه ترلاسه کړي وو او د یوناما دبشري حقونو دڅانګې د تجربه لروکنو ناظرینو او کارپوهانو لخوا په جدي توګه نظارت او څارل کیدل. مرکه کوونکو د نقل ورکوونکو سوالونو څخه ډډه کوله او دهرتوقیفي څخه یی دهغه کیسه پداسې ډول پوښتله چې هرځای کې یې غوښتل ختم کولای شوه(مرکو د نیم ساعت څخه تر یونیم ساعت پوری دوام پیدا کاوه او ځینې توقیفیان د څو ځلو لپاره هم مرکه شوي)[13]. دهری مرکې لپاره د یوناما مرکه کوونکو دمرکه کیدونکو شفاهي معلومات د اعتبار او کراس چک په موخه نوټ کړي.

یوناما هغه قضایاوي چې داعتبار له مخې دد ډاډوړ نه وې دشکنجې او غیر انساني چلند په قضایاو کې ندي شمارلې. دیوناما ۶۳۱ توقیفیان دهغه توقیفیانو په ګډون دي چې د شکنجې او غیر انساني چلند په هکله شکایات نه درلودل یاهم هغه توقیفیان وو چې ادعاګانې یې د تایید او اعتبار وړ نه وې. له ۶۳۵ مرکه شوو توقیفیانو څخه ، ۳۷۷ توقیفیانو دشکنجې او بدچلند ادعا کړې ، په داسې حال کې چې ۲۵۸ تنو توقیفیانو دشکنجې او بدچلند ادعا نده کړې[14]. یوناما د۳۷۷ توقیفیانو له جملې څخه ۵۱ تنه توقیفیانو دشکنجی او بدچلند په هکله ادعا ګانې اعتبار او اطمنان وړ ونه موندلې. یوناما دشکنجې او بدچلند ۳۷۷ تنه توقیفیانو ادعاوو څخه ۳۲۶ تنو ادعاوې تائید کړای شوي[15].

---

[11] دملګرو ملتونو خپور شوی لارښود وګوری: http://www1.unm.edu/humanrts/monitoring/chapter9.html#c1.

[12] دبشری حقونو څخه نظارت اړوند د او ایج سی ایچ ار تریننګ منول .

[13] دکارپوهانو تجربه او تحقیق نمونو اختسل داښکاره کوي چې ددرواغو دکشف له پاره بهتره داده چې دتوقیفیانو دخبرو اصلی نسخه دکارپوهانو واک کې ورکړل شي ترڅو بشپړ ډول تحلیل شي. اصلی نسخه کارپوهانوته دا توان ورکوي ترڅو معلومه کړي چې ایا دتوقیفیانو لخوا ادعا دیوی ریښتینې واقعی څخه برسیره شوی یا درواغو کیسو او دمخکی څخه روزنی پربنسټ ادعا شوي. پداسی حال کې چې دخپلی رښتینې کیسې پیښی بیان کې احساسات له مخی وی او دبل چا کیسه دذهن نه نقل کیږی. دتوقیفیانو مقایسه او تحلیل ښکاره کړی چې کله ریښتینې کیسه کوی نو احساسات ، رنګ ، غږ او ځیری څخه ښکاري. او یاد راوستل بیا جغرافیوی ، تکرار ، دداخلی پروسیجرو نو او ویلو توانائی کې ښکاری. دغه څیړنو کې یوناما توقیفیانو څخه پوښتلی چې خپله کیسه خپله وینا او طرز باندی بیان کړې. لمړي پرانستی سوالونه او خپله خوښه ختمول ددی زمینه مساعده کوی چې دتوقیفیانو دویناوو صحت ارزیابی شي. کله چې توقیفی یوځل پرانستی سوالونه خپله خوښه پائی ته رسول بیا مرکه کوونکو تړلی او لارښوده سوالونه پوښتلی ترڅو دوینا وو صحت او ریښتیا معلومه شي. لازیاتو معلوماتو له پاره د Gudjonnsen(1992) and Schooler and Loftus(1986) دبشری حقونو عالی کمیشنری تریننګ کې وګوري.

[14] دیوناما ۶۳۵ توقیفیانو نمونه د۳۲۶ توقیفیانو په ګډون ده چې دشکنجی او بدچلند شکایت درلود(۱۲۵تنه دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا ، ۱۷۸تنه دملي امنیت لخوا ، ۱۰ تنه د محلي پولیسو او ۱۳ تنه دملي اردو لخوا ، چې مجموعه ۳۲۶ تنه کیږی) معتبره او اطمینان وړ موندلي. یوناما موندلي چې ۶تنه توقیفیان د ملي پولیسو او ملي امنیت لخوا شکنجه او بدچلند شوی ، او یوتن دملي اردو او ملي پولیسو لخوا شکنجه شوی.

[15] په دغه ۵۱ نمونو کې دغه توقیفیانو بیانونه شاملی دی: د ملي امنیت له ریاست څخه31 تنه ، توقیفیان نمبر ۱۳۰ ، ۱۳۴ ، ۱۳۵ ، ۱۴۲ ، ۱۹۵ ، ۲۱۶ ، ۲۵۴ ، ۳۱۸ ، ۳۷۱ ، ۳۹۹ ، ۴۰۶ ، ۴۰۹ ، ۴۱۲ ، ۴۱۶ ، ۴۳۰ ، ۴۴۴ ، ۴۵۳ ، ۵۳۱ ، ۵۳۶ ، ۵۴۸ ، ۵۵۱ ، ۵۵۲ ، ۵۸۳ ، ۵۸۵ ، ۵۹۱ ، ۶۰۶ ، ۶۱۲ ، ۶۱۴ ، ۶۳۵ ، ۶۴۱او ۶۶۱؛ د افغان ملي پولیسو څخه ۹ تنه ، توقیفیان نمبر 44 ، 168 ، 231 ، 339 ، 455 ، 496 ، 510 ، 617 او 623 ؛د افغان محلی پولیسو څخه 5 تنه ، توقیفیان نمبر 65 ، 197 ،

مرکه کوونکو دتوقیفیانو څخه د ترلاسه شوو معلوماتو د صحت او تصدیق لپاره دمختلفو کړنو څخه کاراخیستید توقیفیانو د خپلوانو ، مدافع وکیلانو ، د بشردوستانه مرستو د ادارو کارمندانو ، روغتیایي کارمندانو او نوروهغه کسانو چې دتوقیفیانو قضایاوو کې په مستقیمه توګه دخیل وومرکې کړي او فزیکي نښې نښانې او نور اړوند وسایل یی څېړلي. همدارنګه ، یوناما دیوشمیر منابعو او اړخونو څخه دشکنجي او بدچلند عکسونه او نور اثباتیه شواهد ترلاسه کړي[16] .

د یوناما مرکه کوونکو دیوشمیرتوقیفیانو بدن باندي ټپونه ، داغونه او نښې لیدلي چې شکنجی او بدچلند له کبله رامنځته شوی وو ؛ همدارنګه بنداج او نورطبي درملني نښې لیدلي.[17] دمرکه شوو توقیفیانو څخه ۵۸ تنو ویلي چې دتحقیق او توقیف موده کې د اوریدلو ټپونو له کبله یې طبي درملنې ته اړتیا پیداکړیده.

## د اثبات معیار

دشکنجې پای ته رسولو لپاره دواړه قانوني اصلاحات او دمرتکب له خوا ځواب ورکول لازمي دي. پداسې حال کې چې یوناما په انفرادي ډول توقیفیان مرکه کول او د شکنجې په ادعاګانو باندي یې د باور کولو پریکړه کوله ، یوناما د جزایي عدلي سیستم د بدیل ادعا نه کوي. یوناما دنظارت پروګرام طرح شوی ترڅو دشکنجې دپیښو په اړوند کافي ، معتبر ، او د ډاډ وړ معلومات وړاندي کړي کوم چې ددولت لخوا مناسب اصلاحې او د بیطرفه اعمالو او خپلواکه جنائي تحقیقاتو مستلزم دي.

یوناما ټول لاس ته راوړي معلومات (د انفرادي دلایلو او اړوند اثباتیه شواهدو په شمول) سنجش کړي ، ددې لپاره چې پریکړه وکړي چې آیا ترلاسه شوي معلومات کافي ، معتبر ، او د ډاډ وړدي چې دځانګړو توقیف ځایونو په هکله د خپلو موندنو پربنسټ تشویش ښکاره کړي او دجنایی تحقیقاتو او نورو اقداماتو وړاندیز وکړي[18] .

همدارنګه په کافی ډول معتبراو ډاډ وړمعلومات دپریکړو لپاره کارول کیږي چې آیا دشکنجې او بدچلند په ګډون نمونې سیستم (نظام) کې شتون لری یا نه[19] . دغه راپور هغه توقیف ځایونه په نښه کوي کوم کې چې د منازعې اړوند توقیفیانو د شکنجه کولو په اړه کافي اندازه معتبر او د ډاډ وړمعلومات ترلاسه شوي.

هغه توقیف ځایونه چې په سیستماتیک ډول شکنجه کول پکي پیژندل شوي[20] ، ګڼ شمیر مرکه شوي توقیفیان ، هغه چې ځانګړو توقیف ځایونکې توقیف شوي وو ، کافي اندازه معتبره او د ډاډ وړمعلومات ورکړي چې داثبات پورتني معیار یې پوره

233 ، 568 او 598 ؛ د افغان ملي اردو څخه 5 تنه ، توقیفیان نمبر 238 ، 372، 576، 599 او 604؛ د نړیوالو ځواکونو څخه یو تن (توقیفی نمبر 220).(د دغو ټولو توقیفیانو مجموعه 51 تنه کیږی )

[16] دافغانستان حکومت د ۲۰۱۳ کال جنوری ۱۴ نیټه دغه راپور په ځوابیه لیک(څلورمه ضمیمه) کي داسی لیکلی چې دیوناما دبشر حقونو څانګی ددی راپور ترتیب لپاره یواځې دتوقیفیانو سره مرکو او داسی شیانو بسنه کړی چې د ادعاګانو اثبات لپاره کافي ندي. یوناما پورته ذکر شوی منابعو دلاری خپلی موندنۍ ترلاسه کړی.

[17] توقیفینان نمبر: ۳ ، ۲۴ ، ۷۱ ، ۲۱۹ ، ۷۴، ۲۷۰ ، ۲۸۸ ، ۳۰۶ ، ۴۵۸ ، ۴۸۵ ، ۵۰۸ ، ۵۱۱ ، ۵۵۳ ، ۵۷۸ ، ۶۰۵ ، ۶۱۰ ، او ۶۲۷.

[18] سټیفن ویکنسون ، دنړیوال بشردوستانه او بشری حقوقو د حقیقت موندنی او تحقیقاتی ماموریت دشواهدو معیار(۲۰۱۲) ، دژنیو د نړیوالو بشردوستانه قوانیو او بشری حقوقو اکادمی ، ۳۲ پاڼه.

[19] دشکنجی ضد کنوانسیون لمړۍ مادی پربنسټ شکنجه عبارت ده له: هر عمدی عمل چه دیو کس څخه دمعلوماتو ، اقرار ، او یاهم دبل شخص په هکله معلوماتو ترلاسه کولو په موخه چې دنوموړی شخص دجسمی او روانی شدید درد یا رنج سبب کیږی ، شکنجه ګڼل کیږی. همدارنګه دفرد مجازات کول پدی ګومان چې نوموړی یا هم دریم شخص دعمل مرتکیب شوی یاهم احتمال شته چې مرتکب شی ، په تهدید ، اجبار ، دتبعیض پربنسټ دداسی کړنو ترسره کیدل ددولتی مامور یاهم بل دولتی چارواکو لخوا ، په امر یا ترسره شی شکنجه ګڼل کیږی. دغه دقانونی اجرااتو ترسره کیدلو پروخت رامځته شوی درد او رنج شامل کیدی نشي.

کاوه. داښکاره کوي چې ځانګړو توقیف ځایونوکې لویه کچه شکنجه شوې. مانا داچې دتوقیف ځای مسؤل او مستنطقینو شکنجه کولو امرورکړی ، یا حتما پوهیدل ، اویا یې هم رضایت درلود. پداسې حال کې دا نتیجه ترلاسه کیدای شي چې یاد توقیف ځایونوکې سیستماتیکې شکنجې عملاً شتون درلود ، نه ځینو قضایاووکې.

پداسې حال کې چې دشکنجې ټولې ادعا ګانې باید بررسي شی یوناما انتخاب کړی چې کافی اندازه د اعتبار او اطمینان داثبات معیار لپاره وکاروی نسبت ابتدائی مظنونیت معیار ته کوم چې دجزایي عدلي سیستم په بهیر کې په عامه توګه کارول کیږی[21]. د شکنجې د شدت او د دا ډول بشري حقونو څخه د لویو سرغړونو د قربانیانو د انعطاف پذیرۍ له امله د اثبات نه موخه دا ده چې دا ډاډ ترلاسه کړي چې یوناما په یو ښه موقف کې قرار لري ترڅو د شکنجې د مخنیوي لپاره غوره لارې چارې پیشنهاد کړي.

د ملي امنیت ریاست دهدایاتو سره سم یوناما د توقیفیانو سره د مرکو په دوران کې عکاسی او ویدیویی کمرې ، موبایل ټیلیفونونه او د غږ ثبتولو وسیلي ندې کارولې.

دټولو توقیفیانو سره دمرکو او همدارنګه دټولو لیدنو او شاهدانو او ملي او نړیوالو مسؤلینو سره دمرکو موندنې مستندې او په ځانګړي معلوماتي بانک(دیتابیس)کې ثبت شوي.

د امنیتی او محرمیت د دلایلو په خاطر په دغه راپورکې توقیفی د قضیې د نمبر په اساس پیژندل کیږی. د دې راپور په متن کې د "توقیفی" اصطلاح ټولو هغو کسانو ته کارول شوې چې په یو جرم باندی مظنون ، تورن او یا محکوم وي.

## د یوناما د میتودولوژۍ په هکله پوښتنې او د یوناما ځواب

دملي امنیت او افغان ملي پولیسو مسئولینو او ذیدخله نړیوالو لورو ، دیوناما دمیتودولوژۍ په هکله په لاندی ډول پوښتنې کړی. یوناما دمیتودولوژۍ او دتحلیل نمونوپه هکله پوښتنو ته په ځانګړو توقیف ځایونو کې په ټولیزه توګه ځوابونه ورکړي:

*دافغانستان مسؤلینو پوښتنه/نیوکه*

(1) پدې ګمان چې ددولت ضد پروپاګند په اړه توقیفیانو روزنه لیدلې چې دشکنجې په هکله درواغو او ناسمو تورونو ادعا وکړی[22].
(2) طالبانو خپلو غړو ته لارښوونه یا هدایت کوي چې دافغان چارواکو لخوا توقیف کیدو په صورت کې رشوت ورکړي چې آزاد شي او یاهم دتوقیف پرمهال کله چې بهرنیانو سره مخ کیږي نو دشکنجه کیدو ادعا وکړي.

[20] دغه راپور کې ، یوناما سیستماتیکه شکنجه دځانګړو توقیف ځایونوکې کارونی څخه عبارت ده. راپور دانه وائی چې په سیستماتیک ډول شکنجه ددولت پالیسۍ کې شتون لری. دافغانستان حکومت د۲۰۱۳کال جنوری ۱۴ نیټه خپل ځوابیه لیک کې وویلی دي. لدی کبله یوناما پدی فوت نون او راتلونکې مخ فوت نوټ کې پدی موضوع بحث کړی.
[21] پورتنی ۴۹-۵۲ پاڼی.
[22] دوهمه ضمیمه: دیوناما د۲۰۱۱ کال د افغانستان توقیف ځایونوکی دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند راپور په ځواب کی دافغانستان ددولت ، دملي امنیت عمومی ریاست او دکورنیو چارو وزارت توضیحات.

- د ټول هیواد په کچه دادعا ګانوپراخه پیمانه(۶۳۵ توقیفیان په ۸۹ توقیف ځایونوکې) کومې نمونې چې لاس ته راغلي دومره زیات توپیر لري چې د دي امکان نه لیدل کیږي چې توقیفیان دیله مخکي نه روزل شوي وي چېد توقیف په وخت کې د شکنجې د درواغو ادعا وکړي. دغه نمونې دربځانګړتیاوي لري: اول- په راپورکې ورکړل شوو بدرفتاریو کې ډیرفرق موجود و او دغه ادعاوې زیاتې یوې ځانګړې توقیف ځای پورې تړلې وې. له دې کبله دا ناشوني ده چې مخالفین دې مخکې له مخکې دهر توقیف ځای په سیمه کې خپل خلک روزلي وي. دویم- دا چې د هر توقیف ځای په هکله د مختلفو ګروپونو اړوند توقیفیانو (لکه محلي اختطاف ګرې ډلې او د یاغیانو مختلفی ډلې) یوشانته ادعاګانی کړیدي. نو د دي امکان نه شته چې دغه ټولې مختلفې ډلبدې مخکې له مخکي روزل شوي وي. دریم- د تورونو ترلاسه شوې بیلګې دمختلفو توقیفیانو لخوا په مختلفو وختونو او حتی مختلفومیاشتو کې دځانګړو توقیف ځایونو اړوند راپور شوي. همدارنګه نوموړې ادعاګانې دکومې ځانګړې نظریې اجنډا پورې تړلې نه وې.
- دطالبانو د۲۰۱۲ کال می میاشتې ۳۰ نیټه ، آخرنی کړندود (لایحه/ کود اف کندک) کې دانشته چې خپلو غړوته لارښوونه کړېوي چې افغان چارواکوته دي رشوت ورکړي او یاهم دبهرنیانو لیدو پرمهال دشکنجې ادعا وکړي.
- یوناما داسي دنیتي پرته (پښتو او انګلیسي ژبه) لارښود ترلاسه کړی چې دتوقیف په هکله دطالبانو لارښود ادعا پرې کیده ، چې خپلو غړوته یې افغان چارواکوته درشوت ورکولو لارښوونه کوله. خپلواکه کارپوهانو ددې سند ارزونه وکړه او په ډاګه یې کړه چې نوموړی سند دطالبانو معتبره سند ندی. ضمناً ددې ، سند طالبانو ته وائی چې رشوت ورکړی ترڅو آزاده شی ، مګر داسي نه ښکاریږي چې طالبان دي خپل غړي وهڅوي ترڅو بهرنیو ناظرینوته دشکنجی درواغووایی یا دې ادعا وکړي.
- په هغه توقیف ځایونو کې چې یوناما ورڅخه لیدنه او نظارت کړی ، تر زیات حده پورې کوښښ شوي چې د توقیفیانو د غیرحقیقي داستان جوړوني څخه مخنیوي وشي ، (ځیني وخت د توقیفیانو یوه ډله خپلې حقیقي کیسې او یا هم د بدرفتارۍ په هکله ادعاګانې په قصدي او یا غیراختیاري ډول له یو بل سره شریکوي چې په پای کې ورڅخه یوه ګډه وینا او کیسه جوړیږي). د ملي امنیت ریاست په توقیف ځایونو کې کله چې یوناما مرکې تر سره کولې ، نو د یوناما کارکوونکي په دي پوهیدل چېپه توقیف ځای کې دننه توقیفیان له یو بل څخه جلا ساتل کیږي. په دي توګه یوناما په دي ډاډه وه چې هغه توقیفیان چې یو شانته کیسې بیانوي دي توقیف ځای ته د رسیدلو راهیسی یی دا فرصت نه دی درلودلي چې یو بل سره وګوري او درواغ خبرې جوړې کړي.
- یوناما په مختلفو توقیف ځایونو کې له توقیفیانو سره مرکې کړي دي چې مخکې له دي چې نوموړي توقیف ځای ته منتقل شي په مختلفو وختونو کې د ملي امنیت د عین ادارې لخوا نیول شوي وو نو له دي کبله د دي احتمال ډیر کم دیچې دغه توقیفیان په ډله ایزه توګه یوشانته کیسې جوړې کړي.
- د یوناما لخوا نظارت شوو توقیف ځایونوکې چیرته چې دشکنجې او بدچلند هیڅ ادعا شتون نه درلود هیڅ توقیفی هم شکایت نه درلود. دا موندنې په ډاګه کوي چې توقیفیان پرته له کومې دسیسې یا کیسو شریکولو څخه حقیقت وایي.

- حتی که ځینو طالبانوته دشکنجې د درواغو ادعا کولو په هکله روزنه ورکړل شوېوي ، مرکه کوونکوته دیوناما میتودولوژي ، لارښودونه او تریننګونه داسي ډیزاین شوي وو چې پورته ذکر شوي درواغو ادعا ګانی کشف او لري کړي. یوناما دتوقیفیانو لخوا دشکنجی او بدچلند ۵۱ ادعاګانې بی اعتباره ارزولي.

*دافغانستان مسؤولینو پوښتنه/نیوکه*

(3)یوناما دتوقیفیانو لخوا دشکنجې ادعا شوي شواهد د ملي امنیت سره دادعا په وخت کې شریک کړی ندي ، له همدی کبله ملي امنیت ریاست ونشو کړای چې دشکنجې او بدچلند په هکله ترلاسه شوي ادعاوې بررسي کړي[23] .

*د یوناما ځواب*

- د توقیف څخه د نظارت په ۱۲ میاشتنۍ موده کې یوناما دملي امنیت ریاست او افغان ملي پولیسو ته اړوند معلومات ورکړي چې اړوند مناسب اعمال ترسره کړي. ځینو بیلګوکې دملي امنیت ریاست یوناما ته مشوره ورکړې چې دوي په ځانګړو قضیو رسیدګی پیل کړي چه د یوناما لخوا ورته استول شوي وي او راپور یی ورکړي چې دوي دا ډول قضایاوو کې هیڅ ډول دبدچلند او شکنجې اثار ندي موندلي.
- دایساف قوماندان خپل د۲۰۱۳ جنوری ۱۱مې نیټې لیک (ددغه راپور ۵ ضمیمه) کې یوناما ته ویلی چې تیرو ۱۸ میاشتوکې ایساف دتوقیفیانو سره دبدچلند ۸۱ ادعاګاني دافغانستان چارواکو سره شریکي کړي او د تحقیقاتو په برخه کې یې ورسره مرسته کړې او اجرااتو غوښتنه کړي ، مګر د افغانستان چارواکو تراوس مهاله یواځې یوه قضیه کې اجرات ترسره کړي.

*دافغانستان مسؤولینو پوښتنه/نیوکه*

(4) یوناما دملي امنیت دشکنجې دځانګړو میتودونو په هکله شواهد ندی خپاره کړي ، په ځانګړې توګه د برقی شاک ، جنسي تیري ، تهدید او دجنسی آلی وهل بیلګي په توګه دجنسی آلی تاوکول.[24]

*د یوناما ځواب*

- دهغه ځایه چې د افغانستان ملي امنیت او افغان ملي پولیسو یوناما ته د کمرې وړلو اجازه نه ورکوله دا ستونزمنه ده چې دتوقیفی پر بدن باندې د برقی شاک او دجنسی آلی وهلو عکسونه وړاندی کړي. ځینو بیلګوکې توقیفیان پدې نه وو توانیدلی چې دتحقیق دوران کې اوښتو ټپونو درملنه کړی ، او د امنیتی د لایلو له کبله روغتیائی کارکوونکي هم نه غوښتل دیادو ټپونو اړوند معلومات یوناما ته ورکړي.

---

[23] پورتنی ماخذ
[24] پورتنی ماخذ

## د راپور لنډيز

*"دملي امنيت رياست ګڼ شمير پټ ځايونه لري چې خلک توقيف او شکنجه کوي. زما دفتر دملي امنيت رياست مرکزي دفتر په ... داخل کې موقيعت درلود[25] او زه کولای شم تاسي ته ووايم چې ټول شکنجه شوي توقيفيان دخپلو اطاقونو څخه ايستل کيدل او دعين تعمير داخل کې بلې ودانۍ ته انتقال کيدل ترڅو هغه هيئت چې ملي امنيت مرکزي دفتر څخه ليدنه کوله ، ورڅخه پټ کړي."*

**(دملي امنيت کارمند، ۲۰۱۲کال اپريل)**[26]

*"زه ۱۲ ورځې وړاندې دپنجوايي په ولسوالۍ کې دکندهار ښارنه بهر دملي پوليسو امنيتي پوسته کې ونيول شوم. زه تورن يم چې دطالبانو غړی يم. زه په مستقيمه توګه دکندهار امنيه قوماندانۍ ته يوړل شوم. زماڅخه په لومړی ورځ دامنيه قوماندانۍ دتروريزم ضد مديريت کې تحقيق وشو. دملي پوليسو څلورتنو کيبل باندې په شا او پښو ووهلم. تحقيق دوه ساعته دوام وکړ. سباورځ ، ماته په لاسونو او پښو برقي شاکونه راکړل شول. بل ځل ، دوي زه وسلې باندې تهديد کړم چې که چيری اقرار ونکړم نو دوی به ما ووژني. زه يې مجبور کړم چې اسنادو باندې ګوته ولګوم او وروسته له هغه بيا تحقيق راڅخه ونشو."*

**(توقيفی نمبر۵۰۹ ، دکندهار امنيه قوماندانۍ ، ۲۰۱۲ کال سپتمبر)**[27]

د ملګروملتونو دامنيت شورا له خوا د ورکړل شوي واک سربيره چې دافغانستان ددولت سره دقانون حاکميت او بشري حقونو ته داحترام او رعايت په ښه کولو کی( د محابسو د سکتور په ګډون) مرسته وکړي ، د افغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) د ۲۰۱۱کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲کال اکتوبر پورې په ۳۰ ولايتونوکې د۸۹ توقيف ځايونو څخه د منازعې اړوند توقيفيانو سره د چلنداو ددولت له خوا د عادلانه محاکمې دقانوني مراحلو د طی کولو د پروسی د مکلفيت د رعايت په هکله چې دافغان او نړيوالو بشري حقونو د قانون پربنسټ يی لري په موخه ليدنی اوکتنی کړي دي[28]. د ليدنو پر مهال ، يوناما ۶۳۵ تنه توقيفيان او محکوم شوي زندانيان ، چې ۱۰۵ تنه ئې ماشومانوو مرکې ترسره کړي دي. دغه کسان د افغان ملي پوليسو ، ملي امنيت رياست ، افغان ملي اردو يا سيمه ايزو پوليسو لخوا د کورني امينت ضد يا وسله وال مخالفت جرايمو په تور نيول شوي وو.[29]

دملي امنيت رياست او کورنيو چارو وزارت يوناما لاسرسی تقريبا ټولو توقيف ځايونو ته او توقيفيانوته برابرکړيدي. همدارنګه يوناما دخپل ۱۲ مياشتنی نظارت په دوران کې څوځلی دملي امنيت رياست او کورنيو چارو وزارت/افغان ملي پوليسو سره په کابل اود ټول هيواد په کچه داړوندو معلوماتو شريکولو او په اندېښنو دبحث او د تعقيبي کړنو په موخه ليدلي دي.

---

[25] دنوم او افرادو ټولی منابع (ادعا شوي مرتکب او توقيفی ) چې ممکن دهغی دپيژندګلوی سبب شی پټی شوي دمنابعو دامنيت او محرميت په موخه.

[26] داپريل ۲۰۱۲ په ۱۸ نيټه ، يوناما دملي امنيت کارمند سره مرکه وکړه. دموقعيت په اړه معلومات دامنيتی دلايلو له کبله پټ ساتل شوي.

[27] ټول تاريخونه دشکنجی تاريخ څخه عبارت دی ، نه ديوناما سره دمرکې نيټه.

[28] ټول تاريخونه(نيټی) دتوقيفی د شکنجې کيدو مياشتی پر بنسټ دی نه د يوناما سره مرکی نيټه.

[29] دملګرو ملتونو امنيت شورا قطعنامه۲۰۴۱(۲۰۱۲) ۳۸بند: په افغانستان کی دزندانونودسکتور دلازياتو بيارغاونی اواصلاح باندی کوښښ کيږی ، دقانون واکمی او بشری حقوقو ته احترام په موخه. افغانستان کی ټولو زندانونوته او توقيف ځايونوته داړوند ادارو لاس رسی اهميت بانيد تاکيد کيږی . اودنړيوالو بشر دوستانه قوانينو ته او بشری حقوق ته بشپړ احترام غږ کوی. د۲۰۱۱ کال اکتوبر ۱۰ نيټی يوناما راپور وړانديزونه څخه دی . ددغه راپور ديوناما دندو او واک برخه وګوری.

نړیوالو سوله ساتو ځواکونو(ایساف) او نورو نړیوالو پوځي او استخباراتيځواکونو په دوامداره توګه دمنازعې اړوند کسانو توقیف او افغان توقیف ځایونوته د انتقال په بهیر کې د پام وړ رول درلود. د۲۰۱۱کال سپتمبر کې ایساف دتوقیف ځایونو دنظارت شپږ پړاویز پروګرام په لاره واچاوه ،په لومړي پړاوکې دملي امنیت او افغان ملي پولیسو ۱۶ توقیف ځایونه یی ترپوښښ لاندی نیولی وو. دنظارت په بهیر کې یوناما په مکرره توګه دایساف مسؤولینو سره لیدلي او دایساف دپروګرامونو او اړوند موضوعاتو په هکله یې بحث کړي دي.

په نړیواله کچه د منل شویو (میتودولوژیو)، معیارونو او ښو تجربو په کارولوسره دیوناما د۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ اکتوبر پورې دتوقیف ځایونو څخه د نظارت بهیرکې وموندلهچې د منازعې اړوند توقیفیانو سره دبدچلند او شکنجې له منځه وړلو په هکله د افغان دولت او نړیوالو کوښښونو سره بیاهم دافغانستان یوګڼ شمیر توقیف ځایونوکې شکنجه دیوې جدی اندیښنی په توګه شتون لري.[30]

یوناما کافی معتبره او د داډ وړ شواهد موندلهچې نیم برخه د۶۳۵ مرکه شوو[31] توقیفیانو دلې څخه ۳۲۶توقیفیان د۲۰۱۱کال اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ کال اکتوبر پوری دافغان ملي پولیسو ، ملي امنیت ریاست ، افغانستان ملي اردو او سیمه ایزوپولیسو ګڼ شمیر توقیف ځایونوکې شکنجه شوي ، او نور غیر انساني ، ظالمانه او تحقیر کوونکي چلند یی تجربه کړې دي.[32] دغه موندنې دیوناما د ۲۰۱۰ کال داکتوبر څخه بیا د ۲۰۱۱ کال اکتوبر پورې موندنو سره یوشان دیچې مرکه شوي توقیفیانوشمیر څخه نیمه برخه دهغه توقیفیانو چې د ملي امنیت توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو او دریمه برخه هغه توقیفیان چې دملي پولیسو توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو دملي امنیت یا ملي پولیسو کارکوونکو لخوا څخه د شکنجی یا بدچلند تجربه درلوده.[33] (دوهم نمبرنقشه وګورئ)

دیوناما څیړنوښکاره کړیدهچې پداسی حال کې چې شکنجه دافغان ملي پولیسو او افغان ملیسرحدي پولیسو توقیف ځایونوکې نسبت تیر یوکال مودې ته زیاته شوې ، ولې مرکه شوي توقیفیان دملي امنیت توقیف ځایونو کې نسبت تیر ۱۲ میاشتو ته شکنجه او بدچلند لږه اندازه تجربه کړی. یوناما لیدلیچې د۱۰۵ تنه مرکه شویو توقیفی ماشومانو څخه ۸۰ یا ۷۶سلنه شکنجه یا بدچلند تجربه کړی ، دیوناما تیرو موندنو په نسبت ۱۴ سلنه زیاتوالی راغلی[34]

---

[30] دنظارت مودی بهیر کې نورو اداراتو هم دافغانستان توقیف ځایونوکې دشکنجی او بدچلند کارونی په هکله راپور ورکړي.

[31] د۶۳۵ مرکه شوو توقیفیانو جملی څخه ، ۳۷۷ تنو دبدچلند او شکنجه کیدو ادعا کړي ، یوناما د ۳۷۷ ادعا ووڅخه ۳۲۶ ادعا ګانو په هکله معتبره او ډاډمن شواهد موندلي.

[32] دغه دشکنجې ضد کنوانسیون لمړی مادی تعریف کاروی: دیاد کنوانسیون کی شکنجه معنی هرهغه عمل کوم چې ددرد او رنج باعث ګرځی که فزیکی یا روانی چې عمدی توګه په یوشخص باندی عملی شی د هغه څخه معلومات یاهم دنورو افرادو په هکله معلومات ترلاسه کولویا اقرار ، یاهم دسزا دهغه خپل عمل لپاره یاهم دبل شخص اعمالو لپاره یا هم هغه چه مظنون اوس په ارتکاب د تهدید د مجبور کولو لپاره یاهم هربل دلیل دتبعیض یا هربل ډول پداسی حال کی چې دا اعمال د هغه شخص لخوا چې رسمی دندی په دروان کی ترسره کوی. دادقانون او طبعی پیښو له کبله درد شامل ندی. داتعریف څلورو عناصر لرونکی دی: (۱) عمل چې د درد یا درنج باعث کیږی (۲) عمل عمدی اوسی (۳) عمل باید دمعلوماتو یا اقرار ، سزا ، تهدید ، او یا طبی معایناتو ، یاهم تبعیض لپاره وی (۴) مرتکب عامه خدماتو کارمند یاهم هرهغه څوک چې دولتی قدرت کاروی. دعمدی او هدف عناصر ... دمرتکب راضی کولو تحقیقات شامل ندی مګر یواځی چه د شکنجې صد کمیټی عمومی وړاندیزنمبر ۲(د غړو دولتونو لخوا د دوهمی مادی تطبیق )، .CAT/C/GC/2(24January 2008).9

[33] دافغانستان توقیف ځایونوکی دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند راپور وګوری (UNAMA/OHCHR,10 October2011).همدارنګه دهمدی راپور دیوناما دنظارت پروګرام ۲۰۱۰-۱۲ برخه وګوری.

[34] دشکنجی ضد کنوانسیون ۳ ماده

همدارنگه یوناما لږ شمیر هغه توقیفیان مرکه کړي چې د محلي پولیسو یا ملي اردو لخوا توقیف شوي وو او کافی اندازه معتبره او ډاډ وړشواهد موندلي چې دمحلي پولیسو لخوا نیول شوي وو ، هر ۱۲ تنوتوقیفیانو څخه ۱۰ تنه شکنجه یا بدچلند تجربه درلوده. دهرو ۳۴ تنو توقیفیانو څخه یوپردریمه برخه (۱۳ ) تنو چې دملي اردو لخوا توقیف شوي وو ، دشکنجې یا بدچلند تجربه درلوده.

یوناما همدارنگه کافي اندازه معتبر او دډاډ وړ شواهد موندلیچې د ۷۹ تنو څخه ۲۵ تنه (۳۱سلنه) مرکه شوي توقیفیان چې دنړیوالو پوځونولخوا یاهم نورو دولتي اداراتو لخوا افغان توقیف ځایونوته استول شوي ؛ د افغان ملي پولیسو ،ملي امنیت یا هم افغان ملي اردو لخوا بدچلند یا شکنجه شوي. دغه ۷سلنه زیاتوالی ښکاره کوي نسبت دیوناما تیرد یوکال مودی راپورته کوم کېچې دهرو۸۹ تنو توقیفیانو څخه ۲۲ تنو (۲۴سلنه) نړیوالو لخوا انتقال شوو شکنجه یا بد چلند تجربه درلوده. یاد حالت ددولت قانوني مکلفیت په هکله اندېښنې را څرګندې کړې چې دشکنجې خطر موجود دی ، دشکنجې دخطر دشتون په صورت کې دانتقال اندیښنی ته ځواب ویلو لپاره نړیوال ځواکونه باید دانتقال شویو توقیفیانو څخه سخت نظارت او پلټنې وکړي ؛ او هغو توقیف ځایونوته چیرته چې دشکنجې باوري راپورونه شتون ولري دتوقیفیانو انتقال وځنډول شي.[35]

دایساف قواعد هم دنړیوالو قوانینو پربنسټ دي چې افراد باید په هیڅ حالت کې هغه ځایونوته وانستولي شي چیرته چې دشکنجې او بدچلند خطر شتون ولري. دغه اندیښنوته ځواب ویلو لپاره پکار ده چې نړیوال ځواکونه ، دافغان توقیف ځایونوته انتقال شوو توقیفیانو څخه په دوامدار توګه نظارت ترسره او یاهم دتوقیفیانو انتقال وځنډوي.

هرځای کې چې شکنجه ترسره شوېږه عمومي توګه دتحقیق غلط تکنیکونه هم کارول شوي کوم کې چې ملي امنیت ریاست ، افغان ملي پولیس ، افغان سیمه ایز پولیس یا افغان ملي اردو مسؤلینو عمدا دتحقیق په دوران کې داقرار یا معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه توقیفیانو باندې دردوونکې ضربې واردې کړي دي. دشکنجې دغه ډول کړنې دبشري حقونو څخه جدي سرغړونو کې شمیرل کیږي چې دنړیوال قانون او دافغانستان قوانینو پربنسټ جرم دی او په غوڅه توګه منع کړی شوي.[36]

دشکنجې او بدچلند ډولونه دیوناما تیر ځل موندنو سره یوشان وو ؛ دشکنجې څوارلس ډولونه بیان شوي. توقیفیانو ویلي چې دوي د شکنجې ګڼ شمیر ډولونه لکه د ځړولو (دیوال ، چت ، اوسپنیزو میلو او یا نورو ثابتو شیانو پورې د اوږدې مودې لپاره د لاسونو له بندونو څخه د ځنځیر او یا نورو شیانو په وسیله ځړول) ، او وهلو ټکولو ، په ځانګړي توګه د پلاستیکی پایپونو ، برقي کیبلونو او سیمونو او یا هم د لرګیو او لښتو په واسطه چې اکثراً د توقیفیانو د پښو په تلو استعمالیږي ،برقي شاک ، د تناسلي آلې تاوول ، بیضو (هګیو) ته فشار ورکول ،د پښو د نوکانو ایستل ، سخت وضعیت کې راوستل لکه په جبر درول ، او په جنسي تیري تهدیدولو په توګه تجربه کړي دي.

---

[35] دشکنجی ضد کنوانسیون ۳ ماده  دولتونه جبری عدم استرداد ته مکلف کوي "هیڅ دولت شخص باید داسی هیواد ته مسترد نکړي چیرته چې دشکنجه کیدو خطر شتون ولری "

[36] دافغانستان دولت۱۹۸۷کال جون میاشت کی دشکنجې ضد کنوانسیون لاسلیک کړی. دافغانستان اساسي قانون ۲۹ ماده صراحت لری چې : هیڅوک نه شی کولای جی له بل شخص څخه حتی دحقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم ترتعقیب ، نیونی یا توقیف لاندی وی او یا په جزا محکوم وی ، دهغه دتعذیب لپاره اقدام وکړی یا یی دتعذیب امر ورکړی. دجزاقانون هم شکنجه جرم ګڼی او ۲۷۵ ماده حکم کوی چې عمومی خدمتونو موظف (دملي امنیت او ملي پولیسو ټولو کارکوونکو په شمول) تورن داعتراف اخیستلو په منظور شکنجه کی او یا په هغی امر وکی په اوږده حبس (۵ څخه تر ۱۵ کلونو اوږد)محکومیږی.

دشکنجی او بدچلند نور ډولونه د برقي شاک په ګډون پېښو زياتوالی ، دردوونکی حالت ، اوږد وخت لپاره درول ، دريدل او کښيناستل ، سړه هواکې اوږد وخت لپاره درول. ډيرو مرکه شوو توقيفيانو خبروکړی چې په مختلفو ډولونو شکنجه شوي په ځانګړې توګه کله چې توقيفی داړوند تور داقرار کولو څخه انکارکړی ، يا هم دمعلوماتوورکولو يا تائيدکولو کې پاتي راغلي.

يوناما د ملي پوليسو ، سرحدي پوليسو او ملي امنيت توقيف ځايونوکې په ځانګړې توګه ۳۴ توقيف ځايونوکی دشکنجی او بدچلند پېښو ګڼ شمير معتبره او دډاډ وړپيښې موندلي. يوناما په کافي اندازه معتبره او ډاډ وړشواهد موندلي چې دملي امنيت رياست مسؤلينو د ياد رياست دوه توقيف ځايونوکې توقيفيان داقرار او معلوماتو ترلاسه کولو په موخه په سيستماتيک ډول شکنجه کړي[37]. همدارنګه دملي امنيت په ۱۰ نورو توقيف ځايونوکې يي دشکنجې او بدچلند ګڼ شمير قضاياوې مستند کړي دي. دشکنجی په سيستماتيک ډول کارونه دملي پوليسو ۶ توقيف ځايونو او د سرحدي پوليسو يوتوقيف ځای کې موندل شوي. يوناما دملي پوليسو ۱۵ نورو ولايتي او دولسواليو توقيف ځايونوکې دشکنجې معتبره او د ډاډ وړ قضاياوې موندلي.[38]

عين وخت کښې ، يوناما کتلي چې دهيواد په ځوسيموکې افغان ملي پوليسو زيات شمير وسله والو نښتو اړوند توقيفيان نيولي او تحقيقات او څيړني يې ورڅخه کړي ؛ چې دملي پوليسو لخوا دشکنجې راپورونه هم زيات شوي دي. ياد حالت داپه ډاګه کوي چې افغان ملي پوليس او ملي امنيت رياست چې شايد توقيفيان هغه توقيف ځايونوکې توقيف او تحقيق نکړي کومو ځايونوڅخه چېنړيوال او ملي ادارات او ايساف ليدنې تر سره کولې. همدارنګه يوناما ګڼ شمير معتبر راپورونه ترلاسه کړيچې دملي امنيت ځينو توقيف ځايونوکې توقيفيان دنړيوالو نظارت کوونکو څخه د ځکمې لاندې ياهم نورو ځايونوکې پټ کړای شويدي. دتير ځل موندنو په شان يوناما دکندهار دملي امنيت او ملي پوليسو توقيف ځايونوکې په پراخه توګه دشکنجې کولو معتبر او ډاډمنشواهد ليدلي.

يوناما دغاېب کيدو په اړوند داعتبار وړ راپورونه ترلاسه کړي[39] ، د۲۰۱۱ کال سپتمبر څخه بيا تر ۲۰۱۲کال پورې کندهار کې دپوليسو لخوا د۸۱ تنو دنيول کيدو خبر ورکړل شوی چې تراوسه يې درک ندي لګيدلي.

دتير يوکال په موده کې يوناما دملي امنيت ځينو توقيف ځايونوکې دشکنجې ادعاو دکموالي برخه کې پرمختګ ليدلی. دغه کمښت دنړيوالو ځواکونو لخوا دتوقيفيانو انتقال په بهيرکې کمښت او دايساف لخوا نظارت په نتيجه کې وو. ولې وروسته له هغه چې ايساف بياځلې نوموړو توقيف ځايونوته انتقال پيل کړ او خپل نظارت کې يې کمښت راوست ، يوناما دشکنجې په پېښو کې زياتوالي ليدلی.

## بدچلند او د شکنجی پېښو ته د رسيدګۍ په موخه د دولت تدابير

ديوناما ۲۰۱۱ اکتوبر راپور په ځواب کې ، دافغانستان دولت په توقيف ځايونوکې دشکنجې او بدچلند ته درسيدګۍ په موخه يولړ اصلاحي اقدامات په کاراچولي.[40] دملي امنيت رياست او دکورنيو چارو وزارت په دوامدارهډول يوناما ، نړيوال او ملي

---

[37] دلاس رسی او ميتودولوژی برخه دشکنجې دسيستماتيک ډول تعريف لپاره وګورئ.

[38] دشکنجه شوو توقيفيانو نمونی دځای پراساس ، دريمه نمبر نقشه وګورئ.

[39] جبری توګه دافرادو ناپديد کيدل اړوند نړيوال کنوانسيون دوهمه ماده ، زور سره لادرکه کيدل تعريف کوی: نيول ، توقيف ، تښتول ، يا ددولتی مارمور لخوا هر ډول دأزادی څخه محروم کول چې ددولت په ملاتړ او خوښه کار کوي ، چې وروسته بيا دأزادی سلبول رد کوی او ناپديد شوی فرد ځای نه ښول چې قانوني ملاتر څخه بی برخوی کولی . افغانستان ياد کنوانسيون لاسليک او تصويب کړي ندی. ګڼو منابعو يوناما سره خپلي اندېښنې شريکي کړی دي چې ګڼی ګن شمير وګړی وروسته له نيول کيدو پداسی حال کې چې دپوليس نظارت کي وو وژل شوی وی.

سازمانونولاس رسی توقیف ځایونوته برابر کړی ، ویلي دېچې دوي د شکنجهاو بدچلند ادعاګانې بررسي کوي ، د توقیفیانو سره بدچلند مخنیوي په موخه روزنیز پروګرامونه عملي کوي او ټول افغانستان په کچه خپلو مسؤلینوته لارښودې پالیسۍ صادرې کړیچې پکې ویل شویچې دتوقیفیانو شکنجه دافغانستان دقوانینو څخه سرغړونه ده.[41]

۲۰۱۲ کال کې دملي امنیت عمومي ریاست ، دبشري حقونو امریت تآسیس کړ ؛ چه دشکنجې او بدچلند ادعاګانو ته د رسیدګې صلاحیتلري او مستقیماً عمومي ریاست ته راپور ورکوونکی دی.[42] دملي امنیت پخوانی ریس رحمت الله نبیل یوناما ته وویل چې نوموړي دملي امنیت توقیف ځایونوکې دبشري حقونو څخه د سرغړونو د قضایاوو په بررسي کې په مستقیم ډول برخه لري[43]. ځینو بیلګوکې ملي امنیت ریاست یوناما ته وویل چې دوی دشکنجې او بدچلند ځانګړي ادعا ګانې او راپورونو په ګډون دهغو قضایاوو چې یوناما لخوا استول شوې وي په اړوند توقیف ځایونوکې تحقیق اوڅیړنهکړی ده. ملي امنیت یوناما ته وویل چې یادو ټولو قضایاوو کې دشکنجې او بدچلند هیڅ یوه قضیه ونه موندله. همدارنګه دملي امنیت چارواکو یوناماته ویلیچې دملیامنیت یادو ریاستونو یوشمیر چارواکي دیوځای څخه بل ځای ته تبدیل کړی شوي مګر دلیل ئي څرګند نه دی[44] .

پداسې حال کې چې ملي امنیت او افغان ملي پولیس خپلو توقیف ځایونوکې دستونزو شتون په هکله پوهیږي ولی بیاهم دویخپل کارکوونکي دشکنجې په برخه کې ګرم نه ګڼي[45] . دیوناما دمعلوماتو پربنسټ یاد داخلي تحقیقات دملي امنیت هغه چارواکې چې د شکنجې مسؤل دي یا دشکنجې مخنیوي کې پاتې راغلي ،دهغوی دعدلی تعقیب یا ددندی څخه ګوښه کېدو باندی ندی منجر شوي. یوناما دافغان ملي پولیسو یواځې یوې بیلګې څخه خبرتیالري کوم کې‌چې دملي پولیسو افسر دتوقیفي سره د بدچلند په تړاو تر عدلي تعقیب لاندې راغلي.

د۲۰۱۲ کال اکتوبر ۱۷مه دملي امنیت مطبوعاتي دفتر دیاد ریاست یوه اعلامیه خپره کړه[46] ،چې ویلي شوي ووچېملي امنیت ټولوهغه نهادونوته ښه راغلااست وایي او ملاتړ یې کویچې دتوقیفیانو او توقیف ځایونو څخه لیدنه او په دقت بررسي کوي. دملي امنیت اعلامیه کښې یادونه شوي چې دملي امنیت ریاست د بشري حقونو اداراتوته نوی مهال ویش تیاروي چې دملي امنیت توقیف ځایونو او توقیفیانو سره لیدنه وکړي او همدارنګه ملي امنیت ریاست دټول افغانستان په کچه دیاد ریاست

---

[40] دوهمه ضمیمه: دیوناما راپور په هکله ، دافغانستان حکومت ، دملي امنیت ریاست او کورنیو چارو وزارت نظریې.

[41] یوناما کابل کی د۲۰۱۲کال دمی په ۹ نیټه دکورنیو چارو دجندر ، حقوق بشر او ماشومانو دحقوقو ریاست سره ولیدل ، او یوناما ۲۰۱۲ می ۱۴ نیټه دملي امنیت ریاست دبشری حقونو امریت سره کابل کی ولیدل. دکورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست داحکامو کاپی یوناما سره فایل کی دی.

[42] د ۲۰۱۲ کال جنوری ۲ نیټه دملي امنیت عمومی ریاست دبشری حقوقو امریت لخوا یوناما تهلیک.

[43] دوهمه ضمیمه وګوری: دافغانستان ددولت ، دملي امنیت ریاست او کورنیو چارو وزارت توضیحات دافغانستان په توقیف ځایونوکی دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند په هکله دیوناما راپور.
http://unama.unmission.org/Portals/UNAMA/Documents/October10 UNAMA Detention Full-Report ENG.pdf

[44] ددی تحقیقاتو به نتیجه کی ، دکورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست حفظ الصحه وضعیت یوشمیر توقیف ځایونوکی ښه کړی. یوناما لیدلی چې فزیکی حالت په شمول د پاکی ، لمړنیو روغتیائی خدمتونو شتون ، اوغذا کیفیت ځینو توقیف ځایونوکی ښه شوي. پداسی حال کی چې دا بشردوستانه موضوعات دیوناما دنظارت اصلی موضوع نه وه ولی بیاهم دیادو تغیرراتو قدردانی کوی.

[45] دوهمه ضمیمه وګوری: دافغانستان ددولت ، دملي امنیت ریاست او کورنیو چارو وزارت توضیحات دافغانستان په توقیف ځایونوکی دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند په هکله دیوناما راپور.
http://unama.unmission.org/Portals/UNAMA/Documents/October10 UNAMA Detention Full-Report ENG.pdf

[46] دملي امنیت ریاست مطبوعاتی اعلامیه ، ۲۷/۶/۱۳۹۱ (۱۷ سپتمبر ۲۰۱۲). پر اسدالله خالد باندی د برید څخه وروسته چی د تداوی لپاره وخت ته اړتیا درلود ، حسام الدین حسام د ملی امنیت ریاست یو معاون د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په ۷ نیټه د دغه ریاست د سرپرست په توګه وټاکل شو.

کارکوونکو لپاره روزنیزو پروګرامونو باندې کارکوي. اعلامیه د ټولو ملي او نړیوالو اداراتو څخه غواړي چې پدی برخه کې ملي امنیت ریاست ملاتړ وکړي ؛ ملي امنیت دتوقیفیانو حقوقو څخه دملاتړ لپاره خپلې ژمني بیا تکراروي.

## د دغه راپور موندنو ته د حکومت ځواب

دغه راپورموندنو په ځواب کې دافغانسان حکومت ، ملي امنیت ریاست او کورنیو چارو وزارت د ۲۰۱۳ کال دجنوری په ۱۴مه نیټه لیکلی ځواب ورکړی چې ددغه راپور څلورمه ضمیمه ده.[47] په ځواب کې حکومت په توقیف ځایونوکې شکنجه او بدچلند دظرفیت دکمښت له کبله په بشپړ ډول نه ردوي ؛ مګر راپور کې دشکنجې او بدچلند ذکر شوې اندازه هم مبالغه آمیزه ګڼي. همدارنګه افغان چارواکو یوشمیر کارونه چې دوی دشکنجې او بدچلند د مخنیوي لپاره ترسره کړي په ګوته کړي. لکه ، دترینګونو ورکول ، دبشري حقوقو اندیښنو په هکله څیړنې او تحقیقات ، داحکامو صادرول ، دلارښودونو او پالیسیو وضع کول[48] .

دکورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست ویلي دي چې توقیف ځایونوکې سیستماتیکه شکنجې شتون رد کوي ، او ملي امنیت ریاست وائی چې راپورکې دتوقیف پټ ځایونه او دتوقیف بدیل ځایونه رد کوي. حکومت د ملي امنیت ریاست سره په ګډه کورنیو چارو وزارت ویلي چې دوي اماده دی چې توقیف ځایونوکې دبشری حقونو رعایت او قانون حاکمیت په موخه راپورکې شته وړاندیزونه عملي کړي.

## د شکنجې او بدچلند ته درسیدګې په موخه د ایساف اقدامات

دیوناما ۲۰۱۱کال راپور په ځواب کې ، ایساف دملي امنیت ۱۶ توقیف ځایونوته او دملي پولیسو ټولو هغه توقیف ځایونوته چې دیوناما راپورکې هلته دسیستماتیکېشکنجې یادونه شوي وه ، دتوقیفیانو د انتقال پروسه وځنډوله[49] . همدارنګه ایساف دتوقیف ځایونو څخه دنظارت یو شپږ پړاویز پروګرام طرح کړ ؛ ترڅو افغان چارواکو سره مرسته وکړي چې دتحقیق او توقیفیانو سره چلند ښه کړي ، مخکې لدی چې ایساف بیا دانتقال پروسه پیل کړي. پروګرام ددې غوښتنه کوله چې په منظمه توګه د توقیف ځای کارکوونکیاو توقیفیان نظارت او مرکه شي ؛ ترڅو دملي امنیت او ملي پولیسو لخوا توقیفیانو سره دبدچلند لمړنۍ ستونزې پیداشي او بیا دتوقیف ځایونو مسؤلینو او مستنطقینوته دتوقفیانو سره دښه چلند په شمول پرته د شکنجې او جبر سره اقرار اخیستلو تحقیق میتودونو تریننګونه او سیمینارونه جوړشي.

---

[47] دیوناما د حقوق بشر څانګې دکلني راپور مسودی ته دافغانستان حکومت ځواب( دملي امنیت شورا ، کورنیورچارو وزارت ، او ملي امنیت ریاست ) چې ددی راپور څلورم نمبر ضمیمه دی.

[48] دغه راپورته ځواب کې د ۲۰۱۳ کال جنوری ۱۴ نیټه ، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست څرګنده کړه چې دشکنجې مرتکبینو دپیژندنی او مجازات په موخه ئی لازمی اقدامات ترلاس لاندی نیولي. ولی داچې دشکنجې او بدچلند پیښې موندلی او سی رد کړي. دکورنیو چارو وزارت څرګنده کړې چې "دافغانستان جمهوری دولت کورنیو چارو وزات " دخپلو قانو کړنو ترسره کولو برخه کې دکورنیو چارو وزارت لسګونو منسوبین چې دخپلو دند څخه سرغړونه کړیوه او یاهم تخطی کړي وی دندو څخه ګوښه او یاهم څارنوالۍ ته عدلی تعقیب په موخه معرفی کړي. ملي امنیت ریاست ویلی "ادعا نلرو چې زموږ کارونو کې کمې نشته ... " مګر "کمی " نسبت ورکوی "دکارمندانو بی تجربه ګې ، او دجرم صحنی ته دامنیتی وضیعت له کبله نه لاس رسی ... پداسی مواردو کې ملي امنیت ریاست ددوی پر وړاندی لازم اقدامات ترسره کړي " یوناما لیدلی چې دتوقیفیانو سره څه ډول شکنجه او بدچلند ترسره شوی ، او دکورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست چې ورته اشاره کړی څه وو.

[49] ایساف دسپتمبر په ۴ نیټه کابل کی دملي امنیت تروریزم ضد۱۲۴ ریاست ، د لغمان ، کاپیسا ، تخار ، هرات ، خوست ولایتی توقیف خانوته او دکندهار ښار دوهمی ناحیی امنیت او پولیسو حوزی ته ، او د دامان ولسوالی ، ارغنداب ، ۹ حوزه او ژیړی ، دملي پولیسو توقیف خانه ددشت ارچې کندز کی ، او خوست او ارزګان دملي پولیسو امنیه قوماندنۍ توقیف خانوته ، توقیفیانو پروسه ځنډولی.

دتریننګونو په تعقیب ؛ دملي امنیت او ملي پولیسو ځانګړو توقیف ځایونو څخه دمخکی څخه نا اعلان شوي لیدني لدې کبله کوي چې یاد توقیف ځایونه بیاانتقال لپاره تائید شي. یوځل توقیف ځای تائید شي نو نړیوال ځواکونه دهغه توقیف ځایونو څخه په منظمه توګه نظارت کوي چېرته چې د محاکمې د بهیر  نه مخکې توقیفیان استول کیږی. دایساف موقف دادي چې دشکنجې او بدچلند مرتکبینو سره حساب یواځی د افغان مسؤولینو دنده ده او ایساف یواځې دځپلو بررسیو موندنې دافغانستان اړوند چارواکو سره داجرااتو په موخه شریکوي. دایساف وینا پربنست ؛ تیرو ۱۸ میاشتو کې دتوقیفیانو دبدچلند ۸۰ قضیې افغان چارواکوته داجرااتو په موخه راپور ورکړل شوي او د څیړنو په برخه کې دهمکاری او ملاتړ وړاندیز کړی ؛ چې تراوسه پوري یواځی دیوې قضیه په برخه کې افغان چارواکو اقدام کړی.[50]

د۲۰۱۱ کال دنوامبر په ۸ نیټه دایساف قوماندانی دتوقیف ځایونو ارزونه پیل ، اود ۲۰۱۲ کال د مارچ په۸ نیټه یی اعلان کړل چې د ۱۶ هغه توقیف ځایونو شمیر څخه چیرته چي دیوناما راپور پربنسټ شکنجه ترسره کیده ؛ څوارلس (۱۴) توقیف ځایونوته دتوقیفیانو انتقال د بیا ځلي پیل کیدو اجازه ورکړه[51]. دیوناما دمعلوماتو پربنسټ ، ایساف تائیدوي ، دایساف قوماندانی کوم تصدیق ندی کړی چې دشکنجې څخه پاکه توقیف خانه ده یا ددی تضمین کوی چې دیادتوقیف ځای کارکوونکې په بشپړه توګه بیا روزل شوي چې دتحقیق ناسم روشونه ونه کاروی. بلکېپدی مانا ده ؛چې دملي امنیت او ملي پولیسو نوموړی توقیف ځایونه دایساف د اصلاحی پروګرام لمړني درې پړاوونه بشپړ کړي او دشکنجې یا بد چلند کړنو په هکله معلومات ندي ترلاسه کړي.

دملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونوکې دشکنجېد نوو معتبرو راپورونو په ځواب کې ، د اکتوبر ۲۴نیټه ۲۰۱۲ کال ، ایساف یوځل بیا په کابل کې دملي امنیت ۱۲۴ ریاست توقیفځای ، لغمان ، خوست ، هرات ، او تخار امنیه قوماندانیو ، او دلوموړی ځل لپاره یی دملي امنیت ۴۰ ریاست ته دتوقیفیانو انتقال وځنډول [52]. همدارنګه ایساف ، یوناما ته وویل ،چې دافغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون په ځواب کې ایساف دوهم ځلي دملي امنیت او کورنیو چارو وزارت استازو سره په ګډه دتوقیفیانوڅخهدنظارت پروګرام پیل کړل[53].

## شکنجی او بدچلند پېښوته درسیدګي په موخه لازیاتو کړنوته اړتیاشته

دحکومت او ایساف دشکنجی او بدچلند پېښوته درسیدګي په موخه کوښښونه که څه هم قناعت بښوونکي دي مګر بیاهم دشکنجی دکمښت په برخه کې دپام وړ پرمختګ نه دی راغلی. دتیرځل موندنو په شان ، یوناما موندلي چې دشکنجی مرتکبینو سره نه احساب نکول خپل حالت باندی پاتي ده. لږ پلټنې شوی مګر هیڅ یومرتکب خپله دنده لاسه نده ورکړی. ددغه راپور موندنو څرګنده کړې چې شکنجه یواځې د تریننګونو ، بررسیو او لاښودونو دلاری نشي منځه تللی ، بلکی اړینه ده چې حساب ورکولو اقدامات دشکنجی دمنع کیدوبرخه کې ترسره شي. پرته د ګټورو ، مخنیوونکو کړنو ، جدی ، خپلواکه څیړنو یا هم عدلی تعقیب په ګډون افغان چارواکې دشکنجی توقف ته چمتو ندي. مخکې پرته لار روښانه ده.

---

[50] د۲۰۱۳ کال جنوری ۱۱ ، یوناماته ، نیټه دایساف دقوماندان لیک

[51] یوناما د۲۰۱۲ کال مارچ دایساف کارکوونکو سره په کابل کی مرکه. دمارچ په ۸ نیټه ایساف بیاځلی ۱۴ توقیف ځایونوته دتوقیفیانو انتقال پروسه پیکړی: کابل کی دملي امنیت ریاست ۱۲۴ ، په لغمان ، کاپیسا ، تخار ، هرات ، خوست ، او دملي پولیسو توقیف خانی دکندهار په دامان ولسوالی ، ارغنداب ولسوالی ، ژیړی ولسوالی ، کندز دشت ارچې کی دملي پولیسو توقیف ځای ، دخوست او کندز امنیه قومانیو توقیف ځایونه ، او ارزګان امنیه قوماندانی توقیف ځای.

[52] د۲۰۱۲ کال اکتوبر ۲۴ نیټه د یوناما لیدنه د ایساف کارکوونکو سره.

[53] د۲۰۱۲ کال اکتوبر او نوامبر کی دیوناما لیدنه دایساف دمرکزی قوماندانی چارواکو سره.

دخپلواکه نظارت کوونکو لخوا دتوقیف ځایونوڅخه نظارت او بررسی دحساب ورکوونی او توقیفیانو سره دانسانی چلند درامنځته کولو په برخه کې یوضروری عنصر دی. دبشری حقونو نړیوال معیارونه او ښه کړنې دداسې جوړښت لپاره یو کاری چوکات وړاندی کوي ، په ځانګړې توګه دشکنجې ضد کنوانسیون ختیاری پروتوکول چې غړی هیوادونه مکلف کوي ترڅو دشکنجې دمخنیوی ملي میکانیزم رامنځته کړي. اکثر قضایاو کې دغه تخصصی اداره باید خپل داخلي جوړښت ولری ، ددولت څخه جلا وي او دبشری حقونو دملي اداري لخوا اداره شي. نوموړی جوړښت باید چې صلاحیت ولری ترڅو ټولو توقیف ځایونوڅخه نظارت ، تعقیبی تحقیقات او څیړنی دی وکړي او عدلی او قضائی اداراتوته لازمې سپارښتنې وکړي ترڅو دشکنجې دجرم مرتکبین ترتحقیق او عدلی تعقیب لاندی ونیسې. دداسی یو میکانیزم تاسیس دنړیوالو دوامداره او هراړخیز ملاتړ ته ضرورت لري[54].

دغه نوښت هلته تقویه کیدی شي چې لویه څارنوالی ، ستره محکمه خپلو ټولو قاضیانو او څارنوالانوته روښانه لارښودونه صادرکړي او دهغوی نه وغواړي چې ټولي هغه قضایاوي چې هغه کې اقرار دشکنجی او بدچلند دلاری اخستل شوي وي په جدی توګه وڅیړی او رد ئی کړي. که چیري چارواکي د شکنجی دلاری اخستل شوی اقرارد قضایاو څیړلو او رد کولو کې پاتي راشي باید دتادیبی او انظباتی جزا ګانو او عدلی تعقیب لاندی راوستل شي.

## دملي امنیت ، افغان ملي پولیس ، افغان سیمه ایز پولیس او افغان ملي اردو لخوا په دوامداره توګه دتوقیفیانوشکنجه او بدچلند (اکتوبر۲۰۱۱ – اکتوبر۲۰۱۲ )

دیوناما لخوا ۲۰۱۱کال داکتوبر څخه تر اکتوبر۲۰۱۲کاله پوری د۶۳۵ توقیفیانو مرکه کیدل ۵۹ سلنه زیاتوالی راغلی. یوناما په ټولیزه توګه مرکه شوو توقیفیانو شمیر زیادکړی دي ترڅو دمجموعی نمونو رقم او تحلیل ته پراختیا ورکړی[55]. په نوی څیړنه کې دتیرکال په نسبت دملي امنیت دوه چنده او ملي پولیسو کې دوه نیم چنده توقیفیان سره مرکې شوې دي.

نوو څیړنوپه کافي اندازه معتبره او موثره شواهد موندلي چې د۲۸۶دمنارعي اړوند توقیفیانو شمیر په استازیتوب ۱۲۵ تنه شخړی اړوند توقیفیان کوم چې دافغان ملي پولیسو یا هم د افغان ملي سرحدي پولیسو توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو ، ۴۳ سلنه دتوقیف پرمهال شکنجه یا بدچلند شوي وو ، نسبت تیر۱۲ میاشتو دوری ته ۳۵ سلنه وه. نوو مطالعاتو ښودلي چې نسبت تیر کال ته دوه نیم ځله زیات شمیر توقیفیان دافغان ملي پولیسو توقیف ځایونوکې ساتل شوي دي.

یوناما ټاکلی(تثبیت کړی)چې دملي امنیت په توقیف ځایونوکې ۵۱۴ ساتل شوو توقیفیانو شمیرې څخه ۱۷۸ تنه یاهم ۳۴ سلنه توقیفیانو شکنجه او بدرفتاری دتیر کال په نسبت ۱۲ سلنه کم تجربه کړي ، پداسی حال کښې تیر کال ۴۶ سلنه توقیفیانو دملي امنیت توقیف ځایونوکې شکنجه او بدرفتاری راپور ورکړی وو[56]. دتیر کال په نسبت ملي امنیت کې دوه ځله زیات توقیفان مرکه

---

[54] دافغانستان – امریکا دوږدمهال همکاریو په هکله دجمهور رئیس بارک وباما او جمهور رئیس حامد کرزی ګډه علامیه د ۲۰۱۳ کال جنوری ۱۱ نیټه خپروه شوی چې وائی: "دهغه پرمختګونو پربنسټ چې ۲۰۱۲ کال کې چې افغانستان حکومت ته دتوقیفیانو انتال په برخه کې رامنځته شوی ؛ جمهور رئیسان پریکړه کړې چې افغان توقفیان افغانستان حکومت ته انتقال کړي" پداسی حال کې چې اطمنان حاصل کوی چې خطرناک توقیفیان باید دجنګ ډګر څخه لری وساتل شي. لازیات معلومات له پاره وګوري: http:// president.gov.af/en/news/1645.

[55] د۶۳۵توقیفیانو دنمونو داشتباه احتیاطی حد مثبت منفی 3.7 سلنه دی. پداسی حال کې چې د ۲۰۱۱کال کې دتوقیفیانو د۳۷۹ نمونو دغه حد ۴,۸ سلنه وو. د ۲۰۱۲ کال دملی امنیت ۳۱۴ توقیفیانو له پاره داشتباه مثبت او منفی احتیاط حد ۳,۹سلنه و او د ملي پولیسو او سرحدی پولیسو توقیفیانو ۲۸۶ نمونوته د اشتباه احتیاطی حد ۵,۳ سلنه دي دغه داشتباه حتیاطی حد د ۵۰۰۰ توقیفیانو شمیر پربنسټ دي چې ۹۵ فیصده مطمئین تخمین کیږی ، یعنی د ۲۰ څخه ۱۹ دي.

[56] دتوقیفیانو مجموعه د ۶۳۵ څخه زیاته ده ځکه چې زیاد شمیر هم د ملي امنیت ریاست ، ملي پولیس او سرحدی پولیسو یا ملي اردو او نړیوالو ځواکونو لخوا نیول شوی. ددی راپور دمیتودولوزي ۲۹ فوت نوټ دی وکتل شي .

شوي. دغه کمښت ممکن ددي څرګندونه وکړيچي کم شمير توقيفيان يادو توقيف خانو کې موندل شوي.د ملي امنيت توقيف ځايونه دلغمان ملي امنيت توقيف ځای ، تخار ملي امنيت ، کاپيسا او هرات ملي امنيت رياست په ګډون دايساف لخوا بررسی شوي.

يوناما په څلورو ولايتونوکې دافغان محلی پوليسولخوا دشکنجې کافی اندازه معتبره او موثره شواهد موندلی. ديوناما لخوا د۱۲ مرکه شوو توقيفيانو شميرڅخه کوم چې دافغان سيمه ايزوپوليسو لخوا نيول شوي وو ؛ ۱۰ تنو دشکنجې او بدچلند کيدو راپور ورکړی( دلسو تنو شمير څخه ۷ تنو دکندز ولايت چهاردری ولسوالی څخه وو او پاتی نور فارياب ، کندهار ، او ارزګان ولايتونو کې وو). افغان سيمه ايزپوليس دنيولو او توقيف کولو صلاحيت نلری. دمظنونينو دموقت نيونی دوخت په هکله دسيمه ايزو پوليسو واک په څرګند ډول ندي تعريف شوی.[57]

دافغان ملي اردو په اړوند ، يوناماپه کافی اندازه معتبر اودډاډ وړ شواهد موندلي چې د۳۴ تنوله جملي څخه ۱۳ تنو مرکه شوو توقيفانو چې په۷ ولايتونوکې دملي اردو توقيف ځايونوکې ساتل شوي وو ، شکنجه او بدچلند ئی تجربه کړي ده. د۱۳ له جملي څخه ۹ پيښی دهرات ولايت دچشت شريفدملي اردو بيس او شينډند بيس ، دفراه ولايت شيوان او بکوادملي اردو بيس ، دبادغيس ولايت بالامرغاب په غربی ولايتونوکې (پنځه پيښی فراه ولايت کې ، دوه هرات ولايت کې ، او دوه پيښی بادغيس ولايت کې) او پاتی نوري پيښې په کابل ، کاپيسا ، کندهار ، او لغمان ولايتونوکې پيښې شوې دي.

هغه توقيفيان چې دملي امنيت ، افغان ملي پوليس ، افغان سيمه ايزپوليس او افغان ملي اردو توقيف ځايونوکې مرکه شوي راپور ورکړی چې شکنجه او بدچلند دتحقيق په دوران کې اکثرآد تحقيق په جلا خونوکې ، يا هم د وړو توقيف ځايونو برنډه او دالان(دهليز) کې ترسره شوي . ديادو تحقيقاتوپه دوران کې تحقيق کوونکو ، افسرانو او څارنوالانو اکثرا دتوقيفی څخه غوښتل چېپدی اعتراف وکړی چې دطالبانو يا نورو دولت ضد ګروپونو غړی وو ، دتورنو طالبانو او نورو دولت ضد غړو نومونه تائيد کړي ، دچاودېدونکو موادو جوړول ياهم ځای پرځای کول ، سلاح درلودل ، ځانمرګی بريدکوونکې وو او ياهم طالبانو سره يی مرسته کوله. اکثرو قضيوکې شکنجې داعتراف ، معلوماتو ياهم تهديد لپاره کارول شوي. څرنګه چې يی پورته يادونه شوي چې ملي امنيت ، افغان ملي پوليس ، افغان محلی پوليس او افغان ملي اردو دشکنجې ګڼ شمير کړني کارولي په شمول دا وړد وخت لپاره دکيبل يا پايپ سره وهل ، ځړول او برقی شاک ورکول.

توقيفيانو باندی دشکنجی ديو شانته ميتودونو دوامدار ډول کارونه ددی څرګندونه کوي چې دشکنجی استعمال په سيستماتيک ډول د ملي امنيت په دوه توقيف ځايونوکې ترسره شوي[58]. دغه توقيف ځايونه عبارت دي له کندهار ملي امنيت رياست توقيف ځای ، دتروريزم ضد ۱۲۴ رياست کابل کې( پخوا دملي امنيت ۹۰ رياست په نامه پيژندل کيده).

يوناما دکندهاردپوليسو ۶ توقيف ځايونوکې په شمول د ولايت امنيه قوماندانی توقيف ځای او د ياد ولايت دپوليسو ۳ ، ۱۵ ،۱۳ ،۸ حوزو کې ، او دپنجوايی ولسوالی ملي پوليسو توقيف ځای کې او په سپين بولدک کې دسرحدی پوليسو توقيف ځای کې د سيستماتيکی شکنجې کارولو قضاياوی موندلی.

---

[57] د ۲۰۱۰ کال اګست کې دسيمه ايزو پوليسو درامنځته کيدو کړنلاره ومنل شوه او ۲۰۱۲ کال جنوری کې تعديل شوه.

[58] ددغه راپور د لاس رسی او ميتودولوژی برخه دسيستماتيکي شکنجی بشپړ تعر يف لپاره وګوري.

یوناما دافغان ملي پولیسوپه پنځه ولایتي توقیف ځایونوکې دپلخمری(بغلان)، هرات ښار(هرات)، کندز ښار(کندز)، تالقان(تخار)، او قلات (زابل) او دځلور ولایتونو ۱۰ ولسوالیود پولیسو توقیف ځایونوکې د اشکمش ، کلفګان ، خواجه غار ولسوالی د تخار ولایت ، چشت شریف ، پشتون زرغون ، شینډند ، او ګلران ولسولی د هرات ولایت ، یوسف خیل دپکتیکا ولایت ، د شنکنجي ګڼ شمیر معتبره اود ډاډ وړقضایاوی مستندکړی.

یوناما موندلي چې دکندهار دملي امنیت او افغان ملي پولیسو اکثروتوقیف ځایونوکښشکنجه رایجه ده. د۷۹تنو مرکه شوو توقیفیانو څخه نیم توقیفیان دملي امنیت ، ملي پولیسو او سرحدي پولیسو مستنطقینو لخوادشکنجه کیدو توضیحات ورکړي[59] . توقیفیانو دتحقیق دتکنیکونو توضیحات ورکړي ، کوم چې دیوناما لخوا تیر ځل کندهار کې مستند شوي وو. دشکنجې او بدچلند معتبره اود ډاډ وړقضایاوی دریو څخه یوه برخه دکندهار ولایت دملي پولیسو توقیف ځایونوکښپیښې شوې.

د اکتوبر ۲۰۱۱ او اکتوبر ۲۰۱۲کلونو ترمنځ ترټولوزیات دلادرکې ادعا ګانی وی لسګونو وګړی کوم چې کندهار ولایت کې د افغان ملي پولیسو لخوا نیول شوي وو لادرکه شوي دی[60] . ګڼو منابعو خپلې اندېښنې شریکې کړیدې چې ځینی توقیفیان ممکن وروسته له نیول کیدو دپولیسو توقیف ځای کې وژل شوی وي.[61]

## په ملي امنیت کې د منازعې اړوند لږ شمیر توقیفیانو شتون او دنوموړو توقیفیانود تحقیق په پروسه کې دافغان ملي پولیسود رول زیات والی

دکندهار په استثنا ، یوناما دملي امنیت په ګنوتوقیف ځایونوکې دشخړی اړوند توقیفیانو کمښت نظارت کړی. داکمښت اکثرآ دملي امنیت هغه توقیف ځایونوکې رامنځته شوي چېرته چې تیرځل یوناما سیستماتیک یا هم په متواتره توګه دشکنجې قضایاوې نظارت کړې وې ، په ځانګړی توګه دهرات ، لغمان ، تخار ، او کاپیسا ملي امنیت ریاستونو توقیف ځایونه. دتوقیفیانو شمیر کې کمښت دنړیوالو ځواکونو لخوا دتوقیفیانود انتقال بهیر ځنډیدل او دایساف د توقیف ځایونو دنظارت پروګرام سره یووخت کې رامنځته شوي.

یوناما څرګنده کړی ،چې د نړیوالو ځواکونو لخوا دتوقیفیانو درول دژمی موسم په پیل کې  چې جنګ سړیږي ممکن دملي امنیت توقیفیانو په شمیرکې کمښت راوستلی وي. سره دلږ شمیر توقیفیانو انتقال ، ملي امنیت او ملي پولیسو د منازعې اړوند جرمونو په تور دپام وړ شمیر کسانو نیولو ته ادامه ورکړي. یوناما ګڼ شمیر معتبره راپورونه ترلاسه کړي چې ملي امنیت ځینو توقیف ځایونو کې د نړیوالونظارت کوونکو څخه توقیفیان یې د ځکمی لاندې خونو یا نورو ځایونوکې پټ کړي دي.

همدارنګه د یوناما دنظارت په نتیجه کې موندلي چې ملي پولیس په ځانګړي توګه کندهار او هرات ولایتونوکې نښتو اړوند جرمونو مظنونینو نیولو کې  نسبت ۲۰۱۱ کال اکتوبر ته په پراخه کچه رول درلوده. دبیلګی په توګه  پداسی حال کې چې دهرات ولایت دملي امنیت ریاست لږ شمیر د منازعي اړوند توقیفیان ساتل ، یوناما دهرات امنیه قوماندانۍ توقیف ځای کې د توقیفیانو دشمیر

---

[59] یوناما کندهار کی ۹۰ توقیفیان مرکه کړی. ۳۷ تنه ئی دملي امنینت لخوا ساتل شوي وو ، ۶۳ تنه دملي پولس یا سرحدي پولیسو لخوا توقیف کی ساتل شوي وو. یوویشت توقیفیانو ددواړه ارګانونو لخوا ملي امنیت او ملي پولیس یا سرحدي پولیسو لخوا توقیف کی ساتل شوي وو.

[60] دجبری توګه افرادو لادرکه کیدو په وړاندی ترٻوال کنوانسیون : " لادرکه کیدل" دجبری توګه افرادو لاردکه کیدول پروړاندی دټولو خلکو ملاتړ نړیوال کنواینسیو دوهمه ماده ددولتی مامور یا هر بل دولتی مقام لخوا یا ډلی لخوا ددولت په ملاتړ ، لاربښونه  دشخص نیول ، تښتول ، او أزادی څخه محروم کول  ترسره کیږی ، لادرکه کیدل تعریف کړي او هغه ئی منع کړي.

[61] یوناما د ۲۰۱۲ می میاشت کې کندهار ولایت دپټو منابعو سره مرکې کړي.

زیاتوالي نظارت کړی[62] . دغه حالت اندېښنه رامخته کوي چې ملي امنیت او ملي پولیس یېځانګړي توګه همکاري کړې ترڅو د منازعی اړوند توقیفان په هغه توقیف ځایونوکې تحقیق وشيچېرته چېنړیوال ،ملي ادارات او ایساف نظارت کوي.

## غیررسمي توقیف ځایونه

ځینو ځایونو کې ، په ځانګړي توګه کندهار ولایت کې یوناما ګڼ شمیر راپورونه ترلاسه کړي چې دتوقیف ځای بدیل یا غیر رسمي ځایونه دتوقیفیانو تحقیق ، شکنجې او بدرفتارۍ لپاره کارول شوي ؛ مخکی لدې چې توقیفیان دملي امنیت یا ملي پولیسو توقیف ځایونوته یوړل شي[63] . یوله دې ځایونوڅخه دکندهار ولایت مقامودانۍ داخل کې موقعیت لري. یوشمیر توقیفیانو په ډیر وضاحت سره ویلي چې په یاد موقعیت کې دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا حتی دسرحدي پولیسو د لوړپوړو چارواکو لخوا تحقیق او شکنجه شوي او د زیاد وخت لپاره په خراب وضیعت کې ساتل شوي وو.

یاد حالت دا اندېښنې څرګندوي چې دتوقیف ځایونو بدیل موقیعت ددی لپاره کارول کیږی ترڅو د نښتو اړوند توقیفیانو تحقیق او شکنجه دهغه اداراتو څخه پټه کړي کوم چې درسمی توقیف ځایونو څخه نظارت کوي.

## د نړیوالو ځواکونو له خوا د ملي امنیت ، ملي پولیسو او ملي اردو ته د توقیفیانو انتقال او د ایساف نظارتي پروګرام

دیوناما نظارت کې ۷۹ تنو توقیفیانو سره مرکې شاملې دي کومو چې راپور ورکړی چې ددوی په نیولو او ملي امنیت ، ملي اردو او ملي پولیسو ته سپارلو کې نړیوالو ځواکونو یا نورو نړیوالو استخباراتي ادارو په یواځې توګه اویاهم دافغان امنیتي ځواکونو سره په ګډه ښکیل وو[64] .یوناما کافي اندازه معتبره او د اعتبار وړ شواهد موندلي کوم چې د۷۹ توقیفیانو جملي څخه ۲۵ تنه (۳۱ سلنه) توقیفیان چې دنړیوالو ځواکونو لخوا انتقال شوي وو دملي امنیت ، ملي پولیسو او ملي اردو توقیف ځایونوکې شکنجه شوي.

د۲۵ تنوتوقیفیانو له جملي څخه ۱۳ تنه توقیفیان دملي امنیت توقیف ځایونوکې شکنجه شوي ، لس تنه توقیفان دملي پولیسو توقیف ځایونوکې او دوه تنه دملي اردو توقیف ځایونوکې شکنجه شوي. ۲۵ توقیفیانو څخه دیارلس[65] تنه د کندهار ولایت ، دپنجوائی ولسوالۍ ، خوست ولایت ، بغلان ولایت ، بلخ ولایت (مزارشریف) ملي امنیت ادارو او دکابل دملي امنیت ۱۲۴ ریاست لخوا شکنجه شوي. یوناما دا اندیښنهښودلې چې دخوست ملي امنیت او کابل دملي امنیت ۱۲۴ ریاست کې شکنجه د۲۰۱۲ کال دسپتمبر په میاشت کیاو د ۲۰۱۲ کالد جولای په میا شت کی واقع شوې کله چې ایساف یادو دواړو توقیف ځایونوته دتوقیفیانو انتقال له سره پیل کړ. یوناما موندلي چې د ۷۹ توقیفیانوله جملي څخه لس تنه[66] (۱۲ سلنه) کندهارولایت دامنیه قوماندانۍ پولیسو ، پنجوایي ولسوالۍ ملي پولیسوتوقیف ځای کې ، زابل امنیه قوماندانۍ توقیف ځای ، او د پکتیکا

---

[62] یوناما د ۲۰۱۲ کال مارچ ۶ نیټه دهرات ولایت دملي امنیت څارنوالی رئیس سره ولیدل.

[63]توقیفیان نمبر:۲۳،۲۲،۱۴، ۲۱۴ ، ۲۶۲،۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۲۹۲ ، ۳۱۹ ، ۳۲۱ ، او ۵۴۴ ، یوناما د۲۰۱۲ جولای او می میاشتو کې پتو محرمو منابعوسره ولیدل.

[64] توقیفی نمبر: ۱۴،۱۳،۹ ، ۱۷ ، ۱۸ ، ۲۰ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۴ ، ۴۳ ، ۴۴ ، ۴۵ ، ۴۹ ، ۶۴ ، ۷۵ ، ۱۱۱ ، ۱۳۱ ، ۱۳۲ ، ۱۳۳ ، ۱۳۴ ، ۱۳۵ ، ۱۳۷ ، ۱۷۲ ، ۱۷۳ ، ۱۷۶،۱۷۵،۱۷۴ ، ۱۷۷ ، ۱۷۸ ، ۱۸۲ ، ۱۸۷ ، ۲۰۸ ، ۲۲۲ ، ۲۳۰ ، ۲۳۴ ، ۲۳۹ ، ۲۴۶ ، ۲۴۷ ، ۲۴۸ ، ۲۴۹ ، ۲۶۱ ، ۲۶۶ ، ۲۶۷ ، ۲۷۰ ، ۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۸۸ ، ۲۸۹ ، ۳۰۱ ، ۳۱۶ ، ۳۱۸ ، ۳۲۶ ، ۳۸۴ ، ۴۰۰ ، ۴۰۳ ، ۴۴۰ ، ۴۴۶ ، ۴۴۹ ، ۴۸۴ ، ۴۸۵ ، ۴۸۶ ، ۴۹۲ ، ۴۹۳ ، ۴۹۴ ، ۵۲۴ ، ۵۴۰ ، ۵۷۵ ، ۵۸۰ ، ۵۸۵ ، ۵۹۲ ، ۶۱۵ ، ۶۱۶ ، ۶۳۰ ، ۶۴۶ ، ۶۵۰ ، ۶۵۶ ، او ۶۵۷. پدی لیکنه کی نړیوال ځواکونه عبارت دی له ایساف ، سپیشل فورس دایساف سره ، سپیشل فورس دځانګړ هیوادونو قواوو سره یاهم نورو دولتی اداراتوسره.

[65] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۱۷ ، ۷۵ ، ۱۱۱ ، ۲۴۷ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۴۴۰ ، ۴۴۹ ، ۴۸۴ ، او ۶۴۶.

[66] توقیفیانو نمبر: ۱۸ ، ۲۳۰ ، ۲۷۰ ، ۲۸۸ ، ۲۸۹ ، ۳۸۴ ، ۴۸۶ ، ۴۹۲ ، ۴۹۳ ،او ۴۹۴.

امنیه قوماندانۍ کې شکنجه شوي. دیادو ۲۵ تنو توقیفیانو له جملې څخه دوه تنه[67] یې دبادغیس ولایت بالامرغاب ولسوالۍ کې دملي اردو لخوا شکنجه یا هم بدچلند ورسره شوی.

ایساف دکندهار ولایت ملي امنیت ته توقیفیانو استول ځنډولي چیرته چې یوناما سیستماتیکه شکنجه موندلې وه. همدارنگه ایساف دکندهار امنیه قوماندانۍ ته دتوقیفیانو انتقال ندی پیل کړی چیرته چې دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسیون او دافغانستان پرانستې ټولنې لخوا شکنجه لیدل شوي وه[68] .

څرنگه چې یی پورته یادونه شوي او ددی راپور دموندنو په ځواب کې وروسته له دی چې دشکنجې په هکله معتبره راپورونه ترلاسه شول ایساف د ۲۰۱۲ کال اکتوبر په ۲۴ نیټه د دوهم ځل لپاره (۷) توقیف ځایونوته دتوقیفیانو انتقال ځنډولی. او دتوقیف ځایونوڅخه دایساف دبررسی او تفتیش دټیمونوکتنې او لیدنې زیاتې شوي. د بشري حقونو په هکله روزنیز پروگرامونه بیا پیل شول او دملي امنیت او کورنیوچارو وزارت د کلیدی چارواکو سره په کار بوخت شول[69] .

دابايد څرگنده شي چې هغه توقیف ځایونوکې چې دایساف لخوا تائیدشوي پرسونل یې روزل شوي او توقیفیان بیا انتقال پیل شوی وو ، انتقال شوي توقیفیان شکنجه شوي دي. چې دغه کړنې په اوږد مهال کې دافغان حکومت سره دشکنجې له منځه وړلو او مخنیوییه برخه کې دنړیوالو مرستو داغیزمنتوب په هکله جدي اندېښنې رامنځته کړي. یوناما لیدلی چې دملي امنیت او ملي پولیسو چارواکو سره دتوقیف ځایونو څخه دایساف دهدفمند څارنې ،نظارت ، همکارۍ او مرستې نظارتي رژیم داسی ښکاري چې په پروگرام کې د ۱۶ شاملو توقیف ځایونوکې دشکنجې ادعاوو کمښت لامل شوی[70] .

پداسی حال کې چې دایساف یاد پروگرام دشکنجې مخنیوی او دتوقیفیانو سره د مناسب چلند په برخه کې دملي امنیت او ملي پولیسو کارکوونکو پوهاوي کې مرسته کړی ، ولی ټولو قضایاو کې په شمول د ټولو انتقال شوو توقیفیانو دشکنجې په مخنیوي کې یاد پروگرام مخنیوی ندی کړی. دایساف دامحدودیت یوناما نظریه بیا غښتلې کوي چېشکنجې ته رسیدگې یوازی دروزنیزو پروگرامونو ، بررسیو او لارښودونو له لارې ناشونې ده. بلکه ددی لپاره دحساب ورکونې کارونه لازمي دي ترڅو د شکنجې کارول ودرول شي.

یوناما همدارنگه څرگندوي چې د افغانستان توقیف ځایونوکې دشکنجې ختمول دایساف دنده نده. په ملي امنیت ، ملي پولیسو او ملي اردو توقیف ځایونوکې او د سیمه ایزو پولیسو لخوا دشکنجې دستونزې حل لپاره لازمي ده چې دولت دمسؤلو کسانو پر وړاندې دعدلي تعقیب په شمول ځانگړي اقدامات ترسره کړی ؛ اوهمدارنگه ملي امنیت ، د کورنیو چاروزارت او محاکم باید دشکنجې د کړنو ختمولو ته ژمنوي.

---

[67] توقیفیان نمبر ۶۵۶ ، ۶۵۷

[68] دافغانستان بشری حقونو خپلواک کمیسیون او دافغانستان پرانستی ټولنې د ۲۰۱۲ کال مارچ ۱۷ نیټه راپور "افغانستان کې دمسلحانه منازعی اړوند توقیفیانو سره چلند ، شکنه ، انتقال ، او مراحلو طی حق ته نه لاس رسی "

[69] دایساف مراسلات دیوناماسره ، ۲۰۱۲ کال اکتوبر ۲۴

[70] دیوناما لخوا ۱۶ په نښه شوی توقیف ځایونوڅخه ۷ توقیف ځایونه دایساف لخوا تائید یا په مشروط ډول تائید شوي چې دکاپیسا ملي امنیت ، ...

## د توقیفیانو سره د شکنجې او بدچلند په هکله د ملي امنیت او ملي پولیسو مسؤولینو حساب نه ورکونه

یوناما لیدلي چې دشکنجې د شتون ددلایلو یوه برخه دمناسب نظارت اود مربوطه چارواکو او اداراتو د حساب ورکولو نه شتون دی. دملي امنیت ادعا پربنسټ چې دشکنجې په هکله یی داخلي بررسي ترسره کړې ولی بیاهم دملي امنیت هیڅ یو مسؤول په ځانګړي توګه دتحقیق د مسؤلینو په شمول چې د شکنجې مسؤول ګڼل شوي وو تر عدلی تعقیب لاندی ندي راغلي. دملي امنیت تبدیلي پدې پای ته رسیدلی چې یو شخص عین موقف کې دیوځای څخه بل ځای ته تبدیل شوي. دکندهارپه ولایت کی دملي امنیت د رئیس او مرستیال په ګډون ، دملي امنیت۱۲۴ ریاست ، د خوست ملي امنیت ریاست ، د لغمان ملي امنیت ریاست ، او دکاپیسا ملي امنیت ریاست کې تغییری او تبدیلی صورت نیولی[71]. لاهم دانامعلومه ده چې آیا دا کسان د شکنجې د ادعاوو پربنسټ تبدیل شوي او یاهم د نور دلایلو له کبله. لاتراوسه پورې دملي امنیت د هغو کارکوونکو پروړاندې چې دشکنجې او بدچلند ادعاوېې پروړاندی شوي کوم خپلواکه ، معتبره اوبې پرې تحقیقات ندي ترسره شوي.

ملي امنیت ریاست په خپل تشکیل کې دبشري حقونو امریت تاسیس کړ مګر دا یو ناسم داخلي جوړښت دی. چې د جدي او خپلواکه بررسیو صلاحیت نلري تر څو دشکنجې د مرتکبینو قضایاوې عدلي تعقیب لاندې ونیسي یا هم مجازات یېیقیینی کړي. یوناما د هیڅ کومې داسې قضیې په هکله معلومات نلري چې یاد امریت دشکنجې د استفادې په هکله موندلیوي. د راپورونو له مخې داسې بیلګېشته چې د نوموړي امریت کارکوونکو هغه توقیفیان چې دشکنجې په هکله یی شکایت کړی تهدید کړي دي. په یوه بیلګه کې د نوموړي امریت کارکوونکی هغه توقیفي ته چې دبدچلند څخه یی شکایت کاوه داسې ویلي : "متوجه اوسه. زه ممکن چې د بشري حقونو افسر یم مګر دا دیاد څخه مه باسهچې پهلمړي قدم کې دملي امنیت کارکوونکی یم![72]" داسې بیلګه دداخلي نظارتي جوړښت محدودیتونهڅرګندوي.

همدارنګه دکورنیو چارو وزارت هم دټول افغانستان په کچه دملي پولیسو په توقیف ځایونوکې دشکنجې دقضایاو دڅېړنو راپور ورکړی. دکورنیو چارو وزارت د بشري حقونو ریاست پروینا دشکنجې او بدچلند په هکله یواځې لږ شمیر راپورونه یاد ریاست ته رسیدلي ولی دملي پولیسوهیڅ یوافسر تر پوښتنې او عدلي تعقیب لاندې ندی راغلی.دیوناما ۲۰۱۱ کال د اکتوبر راپور دکورنیو چارو وزارت په تشکیل کې دګڼو داخلي نظارتیځانګو شتون په ګوته کوي او څرګندوي چې نوموړې ځانګې هیڅ ډول همکاري ، همغږی او یووالی نه درلود ترڅو وکولی شي خپلې موخې په ګډه سره ترلاسه کړي. پداسې حال کې چې ممکن نوموړي دفترونه ځینې نظارتونه ترسره کړي ، ولی دوی دپولیسو له خوا دبدچلند یا شکنجې د مخنیوي په وړاندې اغیزمن ندي ثابت شوي. داسې ښکاري چې کورنیو چارو وزارت یادو اندیښنو ته شته تشکلاتو ته دلارښودونو او پالیسیو پروضع کولو چې شکنجه یی د کورنیو چارو وزارت په اړونده اداراتو کی منع کړې رسیدګي کړېوي. که څه هم دانده روښانه چې دکورنیو چارو وزارت رهبریٖنوموړي لارښودونه څرنکه او یاهم پلي کړي دیکه نه ؟

داروپایی اتحادیی پولیسو مرستندویه مارموریت او دافغانستان دبشرحقونو خپلواک کمیسیون په مرسته داسې پلان ترلاس لاندی دی چې دپولیسو خپلواک دفتر( دپولیسو خپلواک دفتر چې دپولیسو په وړاندې دخلکو شکایتونو ته رسیدګي کوي). دغه

---

[71] د۲۰۱۱ کال سپتمبر ۲۷ نیټه دکندهار ولایت ملي امنیت ریس او مرستیال جنرال کتر محمد نعیم او مرستیال دګروال عبدالوهاب تبدیل شول او پرځای یی عیسی محمد او محمد اسحق مقررشوي. دخوست ملي امنیت کی ۲۰۱۱ اګست کی دملي امنیت ریس اخترمحمد ابراهیمی پرځای دهغه مرستیال عبدالقارد مقرر شو. د۲۰۱۱ سپتمبر کی دکابل ملي امنیت ۱۲۴ ریاست ، ریس کتر ضیا پرځای جنرال محمد حلیم مقررشو. ۲۰۱۱ جون کی دلغمان ولایت ملي امنیت ریس نورحیدر پرځای جنرال محمد قسیم عبادي مقررشو. ۲۰۱۱ فبروری کی دکاپیسا ملي امنیت ریس جنرال جمیعت الله پرځای دګروال احمد ګل مسعود مقررشو.

[72] توقیفی نمبر ۲۱۹

دفتر باید نه میاشتی وړاندې تاسیس شوی وای. کورنیو چارو وزارت لخوا دیاد دفتر دجوړیدو څنډول ؛ دیاد دفتر نه جوړیدو اندېښنې رامنځته کړي.

دشکنجې په وړاندې د ګټورو مخنیوونکو اقداماتو او خنډونو نه شتون دشکنجې دوام په معنی ده. دملي امنیت ، ملي پولیسو ، او ملي اردو کارکوونکو باندې دکلک باندني او کورني نظارتي میکانیزم شتون نلري ، ترڅو دشکنجی دقضایاوو بررسی ، عدلی تعقیب او راپور ورکول یقینی کړي. دیوریښتیني ممکنه عدلي تعقیب ، قوي او خپلواکه تحقیقاتي پروسې د نه شتون په صورت کې دپولیسو او ملي امنیت چارواکي دشکنجی درولو ډیر لیوال ندي. دحساب ورکولو نه شتون معنی دشکنجی دوام دی.

## د قانوني مراحلو د طی بهیرڅخه د حمایت نشتوالی او په پراخه کچه خپل سری توقیف

شکنجه به همدارنګه ادامه لري ځکه چې ملي امنیت او ملي پولیس مسؤلین پدې اند دي چې د اقرار ترلاسه کولو مؤثره طریقه دا ده چې د منازعې اړوندو جرایمو باندې تورن کسان محکوم او د جنګ له ډګر څخه لري کړي. دافغانستان جزایې عدالت په تېولیزه توګه دیوي قضیې داثبات لپاره غالباً په اقرار تکیه کوي او اقرار د محکوم کولو لپاره اساس او کافي ګڼي.

دافغانستان اساسي قانون او د جزایی اجراآتو مؤقت قانون د عادلانه محاکمې ضمانتونه لري کوم چې توقیفیان د شکنجې څخه ساتي. که څه هم یادې مادې معمولآ په پام کې نه نیول کیږي لکه دملي امنیت او ملي پولیسو لخوا له محدود وخت(قانونی معیاد) نه زیات په توقیف کی دتوقیفیانو ساتل ، دڅارنوالۍ تحقیقاتو او دصورت دعوی ترتیب کولو لپاره د محدود قانوني وخت په پام کې نه نیول ؛ شکنجې پرمټ د اقرار اخیستل عمومي ممنوعیت په نظر کې نه نیول ،او د اخیستل شوي شواهد یا اقرار پرمټ دمحکمې لخوا محکوم کول.

یوناما موندلي چې په زور سره اخیستل شوي اقرار ډیر کم ځله دمحکمې په جریان کې دقاضی یا څارنوال لخوا رد شوی وي[73]. دغه کړه دافغانستان قوانین ، د ژمنو او مکلفیتونو څخه چې د نړیوالو قوانینو پربنسټ یې لري[74] ، سرغړونه ده او همدارنګه دعلمي او تخصصي څیړنو سره هم سمون نلري چې دشکنجې دلارې ترلاسه شوي بې اعتباره معلومات دې د کسانو د بیګناهۍ یا مجرمیت باعث شي. یوناما ونه توانیدله چې دافغان او نړیوالو ځواکونو لخوا په دوامداره توګه د شکنجې پواسطه ترلاسه شوي معلومات جمع کړي[75].

[73] پداسي حال کې چې یوناما پوهیږی چې څارنوالانو څخه داهیله نشی کیدی چې دمحاکمی په بهیر کې دشکنجی دلاری اخستل شوی اقرار مشروعیت او اعتبار تر سوال لاندی راولی. څارنوالان هیڅ مکلفیت نلری چې هغه قضایاوی ګمان کیږی چې دشکنجی دلاری اقرار ترلاسه شوی اوسی ، اقامه دعوا وکړي. ډیر څارنوالانو یوناما ته ویلي چې دوي دجزائی تحقیقاتو تر وروستی پړاو ښکیل نه وي. کله چې دوی تحقیق صلاحیت ملي امنیت ته تفویض کړی دیوتفاهم لیک پربنسټ کوم چې دلویه څارنوالۍ او ملي امنیت ریاست ترمنځ شته. برسیره پردي ، ډیرو توقیفیانو بیان کړي چې دوی هیڅکله دملي امنیت څارنوال سره مخکي د محاکمی نه خبری ندي کړي. دا له توقع نه لری ښکاری چې یوتوقیفی څارنوال خبرکړی چې اقرا ئی داجبار یا شکنجی دلاری اخیستل شوی. دا نورهم ددی امکان برسیره کوی چې ډیر قضایاوو کې څارنوالانو خپل تحقیق صلاحیت ملي امنیت تفویض کوی. چې پدی توګه دشکنجی پېښېدو کې همکاری کوي.

[74] ۱۵ ماده حکم کوی ...

[75] دشکنجی په هکله دخاص راپورتر راپور ، دیوناما د ۲۰۱۱کال اکتوبر راپور ۷ مخ وکتل شي

یوناما موندلی چې په اوسط ډول مظنونین دلمړنیو تحقیقاتو په موخه د ټولو قانون پلي کوونکو اداراتوپواسطه له ۷۲ ساعته قانوني وخت څخه چې صلاحیت یی لرییه توقیف کې زیات وخت لپاره ساتل کړیچې دا خپل سری توقیف ګڼل کیږی[76]. دمنازعی اړوند توقیفیانو دلمړنیو تحقیقاتو لپاره په اوسط ډول د توقیف د ساتنې لاندې مودې کې لیدل شوي:[77]

- دملي امنیت ولایتی دفترونوکې په اوسطه توګه توقیفیان۱۹,۶ ورځې ساتل شوي ،
- دملي امنیت ۱۲۴ ریاست کې چېرته چې ددولت ضد لوړ پوړي مظنون قوماندانان، یا دلویو حملو مظنونین ساتلکیږی ، د ۹,۵ ورځو لپاره ساتل شوي چې دا دتیرو ۱۲ میاشتو څخه راپدیخوا ۵,۵ ورځی کمښت ښیی ،
- دملي امنیت ۴۰ ریاست کوم چې تحقیقاتو باندې توجه لري ، توقیفیان په اوسط ډول د۵۵ ورځو لپاره ساتل شوي ، چې دا یو زیاته کچه کمښت دتیرو ۱۲ میاشتو په نسبت ښکاره کوی کوم چې مخکې له هغی د۱۲۶ ورځو لپاره توقیف کې ساتل کیدل ،
- دکندهارولایت د ملي امنیت په ریاست کې توقیفیان په اوسطه توګه د ۲۱ ورځو لپاره ساتل شوي ،
- توقیفیان دملي پولیسو توقیف ځایونوکې په اوسط ډول د ۷ ورځو لپاره ساتل شوي[78] ؛
- توقیفیان دنړیوالو ځواکونو لخوا په اوسطه توګه د ۳,۶ ورځو لپاره ساتل شوي.

داد قانون لخوا د ټاکل شوې مودې توقیف سره سمون نلري او هم دمحکمې نقش دشکنجې په مخنیوي کې له منځه وړي. یو قاضی یوناما ته وویل چې داستونزمنه وه چې هغه مدعی علیه چې دشکنجه کیدو ادعا کوي عدلي طب ته واستوو تر څو شکنجه او زور سره اخیستل شوی اقرار تائید کړي ځکه ملي امنیت دمحکمې څخه مخکې دقانوني ټاکل شوي مودې څخه زیات وخت لپاره توقیف کې ساتي چې پایله کې کله چې محکمه مدعی علیه طبي معایناتوته استوي نو دشکنجې او بدچلند ټولې نښی نښانې له منځه تللبوي. اکثر قاضیان او څارنوالان چې مرکې ورسره شوي ویلی دي چې دتوقیفی بدن باندې دشکنجې او بدچلند فزیکي نښانونونه پرته بله لاره نلري چې شکنجه او بدچلند ثابت کړي.

همدارنګه ځینو قاضیانو او څارنوالانو دقضایي کارکوونکو او دملي امنیت ترمنځ یی د رابطی حساسیت روښانه کړ او دشخصی امنیت په هکله یې اندیښنه راڅرګنده کړه او خطر ددی چې دملي امنیت کارکوونکو په وړاندی دشکنجې شکایتونو رسیدګی وکړي. مدافع وکیلانو او طبي کارکوونکو دشکنجې دادعا ګانو د څیړلو په برخه کې یوشانته اندیښنې ښکاره کړي.

افغانستان قوانین توقیفي ته حق ورکړی چې دنیول کیدو په وخت کې مدافع وکیل ته لاس رسی ولري ، ولې تراوسه د یوناما موندنې ښکاره کوي چې ترهغې چې لمړنی تحقیقات پای ته نه وي رسیدلي ، ملي امنیت هیڅکله مدافع وکیلانو ته اجازه نه ورکوي چې خپل مؤکلینو سره وګوري. دټولو مرکه شوو توقیفیانو له جملي څخه یواځی دوه توقیفیانو ویلي چې دتحقیق په دوران کې یې

[76] دملي امنیت او ملي پولیسو دقانون پربنسټ واک لری چې مظنونین ۷۲ ساعتونو لپاره توقیف کی وساتی او وروسته له یادی مودی باید چې هغه توقیف ځای ته واستوی چې دمرکزی محبس ترواک لاندی اوسی اوس مهال د کورنیو چارو وزارت پوری اړه لری.

[77] دغه معلومات دمنازعې اړوند ۵۵۲ توقیفیانو او ۷۸ جنائی قضایاو توقیفیانو دوسیو څخه ترلاسه شوي البته رسمی توګه نیول ، توقیف او محکمې ته انتقال رسمی معلوماتو له مخی یوناما ترلاسه کړی.

[78] د۲۰۱۳ کال جنوری ۱۴ نیته ، کونیور چارو وزارت خپل ځوابیه لیک کې چې ددی راپور دوهمه ضمیمه ده وکتل شی.

مدافع وکیل ته لاس رسی درلوده.[79] یوناما لیدلي چې تقریبا دملي امنیت ټولو توقیف ځایونوکې وروسته له هغې چې ابتدایې تحقیقات بشپړ شي ، توقیفیانوته اجازه ورکول کیږي په اوونۍ کې دوه ځلې خپلو کونیو سره وګوري.

یوشمیر مدافع وکیلانو یوناما ته خبرورکړی چې دوي دخپلو مؤکلینو څخه دشکنجې شکایتونه ترلاسه کړي چې ملي امنیت یی دبدچلند د منبع په توګه ښودلی ، ددی بیانول چې دملي پولیسو څخه دشکنجې شکایتونو ادامه درلوده ، بیا هم دملي پولیسو په ځینو توقیف ځایونوکې مدافع وکیلانوته د لاس رسی په برخه کې پرمختګونه لیدل شوي[80]. افغانستان کې شکنجه اکثرا هغه توقیف ځایونوکې ترسره کیږي چیرته چې ارتباطات او اړیکي کم او محدودي دي[81] ، دجزائی اجرااتو ټولو پړاونوکې په شمول د لمړنیو څیړنواو تحقیقاتو مدافع وکیل ته لاس رسی دشکنجې او بدچلند د مخنیولامل کیږی.

دزیاتی اندیښنی خبره داده چې که څه هم شکنجه دافغانستان دجزا قانون پراساس جرمګڼل شوی مګر دافغانستان دجزا په قانوناو نه هم په کوم بل قانونکی شکنجه تعریف شوی. پداسی حال کې چې شکنجه منع شوي مګر قانون په څرګنده توګه دشکنجې د جرم عناصر ندی تعریف کړي. ګڼ شمیر قاضیانو او څارنوالانو یوناما ته ویلي چې د شکنجې د بشپړ تعریف نه شتون دوی ته دشکنجی اثبات ستونزمن کړي. تراوسه دشکنجې نړیوال تعریف دافغانستان په قوانینو او پالیسیو کی منعکس شوی نه دی .[82]

دافغان چارواکو لخوا په دوامداره توګه قانوني مراحلو طی کولو د مکلفیتونو نقض کول دشکنجې د مخنیوي په برخه کې اساسي قانون بی اغیزې کوي. په زور سره د ترلاسه شوي اقرار په باطل کولو کې دجزاییعدلي سیستم پاتی راتلل ملي امنیت ، ملي پولیس ، ملي اردو ، او محلی پولیسو ته داتوان ورکوي چې د معافیت سره شکنجې ته ادامه ورکړي.

## مخکی پرته لار

دخپلواکه نظارت کوونکو لخوا دتوقیف ځایونو نظارت او بررسي دحساب ورکووني د کلتور او د توقیفیانو سره دانساني چلند د رامنځته کولو په برخه کې یوضروري عنصر دی. دبشري حقونو نړیوال معیارونه او ښه کړنې دداسې جوړښت لپاره یو کاري چوکاټ وړاندې کوییپهځانګړي توګه دشکنجې ضد کنوانسیوناختیاري پروتوکول چې غړي هیوادونه مکلف کوي ترڅو د مخنیوی ملي میکانیزم رامنځته کړي. په اکثرو حالاتو کې دغه تخصصي تحقیقاتي اداره ملی هویت لري او ددولت څخه جلا وي او دبشري حقونو د ملي ادارو لخوا هماهنګ کیږي. دغه میکانیزم باید چې صلاحیت او دنده ولري ترڅو ټولو هغو توقیف ځایونوته چې قانون مشخص کړي ازادانه لاسر سی ولري ، او بودیجه یې باید چې د دولت لخوا ورکړل شي او دسیاسي مداخلې څخه محفوظه وي.[83]

---

[79] ددغه راپور .... برخه وګوری د مدافع وکیل ته لاس رسی موندنی.

[80] افغانستان کی دتوقیفیانو په نسبت کم شمیر مدافع وکیلان کار کوی. دمدافع وکیلانو خپلواکه ټولني معلوماتو پربنسټ د۲۰۱۲ کال اکتوبر پوری ۱۴۰۶ تنه مدافع وکیلان راجستر شوي. دمحابسوعمومی ریاست میاشتنی راپور پربنسټ تقریبا ۲۴۰۲۷ تنه توقیفیان او محبوسین دافغانستان محابسو شتون درلود البته د ۲۰۱۲ کال اکتوبر پوری.

[81] دشکنجی او نورو ظالمانه ، غیر انسانی او تحقیرآمیز چلند په هکله دملګرو ملتونو خاص راپورتر راپور ولیدل شي .(17 December2002:E/CN.4/2003/68,at26(g

[82] دجزائی اجرااتو قانون مسوده ، ۷ (۳) ماده...

[83] هغه هیوادونو چې اختیاری پروتوکول یی لاسلیک کړی او دمخنیوی ملي جوړښت یې رامنځته کړی : البانیا ، اذیربایجان ، کرشیا ، قزاقستان ، مالی ، نکاراګو ، سیربیا ، سلوانیا ، ماسی دونا ، تونیسیا ، تو ترکیه.

پداسې حال کې چې افغانستان داختياري پروتوکول غړی ندی مګر د افغانستان حکومت او نړيوال مرستندويان کولای شي چې د توقيف ځايونو څخه نظارت او بررسيو تقويت لپاره دمخنيوي ملي جوړښت او کارونه د شکنجې مخنيوي لپاره ترسره کړي. ياد جوړښت کيدای شي دافغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون تر حمايت لاندې رامنځته شي کوم چې همغږ کوونکی نقش ترسره کولای شي. ياهم داجوړښت خپل کارونه پرمخ بوزي. دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کميسيون اوسنی ظرفيت کافی ندی دداسې توقيف ځايونو نظارت ګروپ خط مشي واک کې ورکړل شي.

يوناما او مدنی ټولنه هم کولای شي چې لومړی قدم کې دجوړښت ملاتړ وکړي لکه هغه متخصص افغانان چې نورو اداراتو کې کارکوي ياد جوړښت سره همکاري وکړي (مستنطقين ، روغيتايی او د عدلي طب کارکوونکي ). ياد مفتشين دبشپړو څيړنو واک ولري او په منظمه توګه دولت ته وړانديزونه ورکړي ترڅو توقيفيانو سره چلند کې ښه والی راشي او دشکنجې اړوند شکايتونه کوم ځای ته واستول شي ترڅو حساب ورکول رايج کړي.

## د دغه راپور موندنو ته د حکومت ځواب

ددغه راپورموندنو ته ځواب کې دافغانسان حکومت ، ملي امنيت رياست ، او کورنيو چارو وزارت د ۲۰۱۳ کال جنوری ۱۴ نيټه ليکلی ځواب ورکړی چې ددغه راپور څلورمه ضميمه دی.[84] ځواب کې حکومت بشپړ ډول توقيف ځايونوکې شکنجه او بدچلند دظرفيت کمښت له کبله نه ردوی ؛ مګر راپور کې دشکنجی او بدچلند ذکر شوې اندازه هم مبالغه آميزه ګڼي. افغان چارواکو يوشمير کارونه چې دشکنجی او بدچلند مخنيوي لپاره يې کړي ؛ په ګوته کړي. لکه ، تريننګونو ورکول ، دبشري حقونو اندېښنو په هکله بررسی ، داحکامو صادرول ، لارښودونو او پاليسيو وضع کول.

دکورنيو چارو وزارت او ملي امنيت رياست دواړو اداراتو خپلو اړوند توقيف ځايونوکې د سيستماتيکې شکنجې شتون ردوي او ملي امنيت دتوقيفيانو پټول او دتوقيف ځايونو بديل ځای هم ردوي. حکومت ، کورنيو چارو وزارت ، او ملي امنيت رياست ، ټولو په ګډه سره امادګي ښودلې چې توقيف ځايونوکې د قانون ټينګښت او نظم ، دتوقيفی دحقونو تضمين او عدالت تامين په موخه اړوند وړانديزونه پلي کړي .[85]

## نظارت (ليدنه)

داقرار يا معلوماتو ترلاسه کولو په موخه د شکنجې کارول دافغانستان په توقيف ځايونوکې يو پخوانی رامنځته شوي کړنه (عمل) دې. په دغه کړنه کې د بدلون راوستل ددولت او نړيوالې ټولني ګډ ملاتړ او کوښښونوته اړتيالري. ديوناما ۲۰۱۱ کال د اکتوبر راپور دخپريدو څخه راپديخوا دولت او نړيوال فعالين په توقيف ځآيونوکې دشکنجې او بدچلند له منځه وړلو په موخه دمهارتونو او پوهاوي زياتوالی او دتفتيش او نظارت جوړښت باندې توجه کړې . دغه د شکنجې د کارونی د مخنيوييه برخه کې يواځی حاشيه ای او کم پرمختګ دی.

يوناما يادداشت کړې چې دملي امنيت او ملي پوليسو ډير(اکثريت) مسولين دانه قبلوي چې شکنجه دتروريزم سره د مبارزې او د منازعې اړوند فعاليتونو په هکله د معلوماتو په لاسته راوړلو کې غيرموثر دی يا هم دتحقيق يو غير معين ميتود او دافغانستان

[84] ديوناما د حقوق بشر څانګې دکلني راپور مسودی ته دافغانستان حکومت ځواب( دملي امنيت شورا ، کورنيورچارو وزارت ، او ملي امنيت رياست) چې ددی راپور څلورم نمبر ضميمه دی.

[85] دراپور څلورمه ضميمه دې وکتل شی

او نړیوالو قوانینو پربنسټ یوجرم دی. دغه حالت څرګندوي چې د تحقیق نوو او مؤثره تخنیکونو په هکله تریننګونوته ، قانوني مکلفیتونو او جدي نظارت ته اړتیاشته.

دافغان چاروا‌کو لخوا د منازعې اړوند توقیفیانو شکنجه ، بدچلند او غیرقانوني توقیف نه یواځې دبشري حقونو څخه جدي سرغړونه او جرم دی بلکه د سولې او بیا پخلاینې بهیر په وړاندې خنډ کیدای شي. داسې بحث برانګیزه تیری دولتی اداراتو باندې داعتماد کمزوري کولو کې ونډه لرلی شي او ځینو حالاتو کې دپخوانیو توقیفیانو او ټولنې په منځ کې دانفرادی حرکاتو سبب کیږي .[86]

شکنجه یواځې دمؤثره مخنیوي کوونکو اقداماتو دلارې دریدلای شي. دملي امنیت ، ملي پولیسو او ملي اردو مسؤولینو اونړیوالو مرسته کوونکو ادارو کوښښونو سره بیاهم شکنجه په ادامه لري ترڅو دمسؤولو کسانو ددندی دلاسه ورکولو ، عدلي تعقیب یاهم نورو داسې اساسي اقداماتو ویره اوډارنه وي.

دافغانستان په توقیف ځایونوکې شکنجې ته رسیدګي هله تضمین کیدای شي چې دپولیسو او دملي امنیت بیاروزل شوو او مسلکي مستنطقینو کې زیاتوالی راشي او دخپلواکه ملکي بهرني نظارت دلارې حساب ورکوونکې واوسی. قاضیان او څارنوالان دشواهدو په ارزونه او د عادلانه محاکمې د ضمانتونو د تطبیق په برخه کې د اساسي قانون پربنسټ مهم رول لري. حقیقت کې داسې قاضیان او څارنوالان چې د شکنجې دلارې  ترلاسه شوي اقرار باطل کولو کې پاتې راغلي وي باید مسؤل وګڼل شي.

دحکومت د مکلفیت تینګښت دنړیوالو او ملي قوانینو پربنسټ لازمي دی ترڅو دشکنجې او بدچلند ټولې کړنې بې له ځنډه بررسي کړي ، مسؤل کسان عدلي تعقیب لاندی ونیسي ، قربانیانوته رسیدګي وکړي ، دا ددولت مکلفیت دی چې هرحالت کې د شکنجې د ممنوعیت حکم ته احترام وکړي او شکنجی ته هیڅ حالت کې مشروعیت ورنکړي ولوکه د جنګ یا دجنګ تهدید ،کورنۍ سیاسي بی ثباتي اویاهم اضطراري حالت وي .[87]

یوناما یوځل بیا دافغانستان په چاروا‌کو غږ کوي چې دشکنجې دختمولو او مخنیوي په برخه کې ټول لازم اقدامات ترلاس لاندې ونیسي او دشکنجې د ټولو کړنو لپاره د حساب ورکونې زمینه برابره کړي.

## اساسي سپارښتنې

یوناما دخپل ۲۰۱۱ کال اکتوبر راپورکې د افغانستان حکومت او نړیوالو همکارانوته ۲۵ وړاندیزونه کړی وو.دوهم نمبرضمیمه کې ددغو سپارښتنو دتطبیق اوسنی حالت بیان شوی(دملي امنیت ریاست خپلې پالیسۍ کې تغیرات راوستلي او توقیفیانوته اجازه ورکوي چې خپلو کورنیو سره وګوري او پولیس دشکنجی منع په هکله دچاروا‌کو دقانونی مکلفیتونو اړوند تریننګونه ورکړی. څوارلس اساسي وړاندیزونه دولتی نهادونوته شوي وو. یواځې دوه وړاندیزونه په بشپړه توګه عملي شوي ، اته سپارښتنی په نسبي توګه او څلور ندی عملي شوي. هغه څلور سپارښتنې کومې چې هغه هیوادونوته چې افغانستان کې سرتیري لري او اړوند هیوادونوته شوی وو ، تطبیق شوي.

---

[86] دیوناما د۲۰۱۱کال راپور ۹-۱۰ مخونه وکتل شي.
[87] دملګرو ملتونو تروریزم ضد نړیوال مبارزی ستراتیژي او کاری پلان ، دتروریزم پرووړاندی مبارزه کې د بشری حقونو احترام او حمایت په هکله دخاص راپور تر راپور وکتل شی. www.un.org/terrorism/terrorism-hr.shml.

یوناما په خپلو شته سپارښتنو ټینګارکوي او نوې سپارښتنې دافغانستان حکومت او نړیوالو همکارانو د مرستې په موخه وړاندې کوي ترڅو توقیف ځایونوکې دشکنجې ، بدچلند او غیر قانوني توقیف مواردو ته رسیدګي وکړي.

## د ملي امنیت عمومي ریاست ته

- دملي امنیت په ټولو توقیف ځایونوکې باید ژر ترژره داسې اقدامات ونیول شي چې دشکنجه او ناوړه چلند ودرول شي بالخصوص په هغه توقیف ځایونوکې چې داسې اعمال دتحقیق دمیتود په توګه کارول کیږي.
- دفاریاب ، هرات ، جوزجان ، کندهار ، خوست ، کندز ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، تخار ، ولایتونو کې دملي امنیت توقیف ځایونوکې او دملي امنیت ۱۲۴ ریاست او ۴۰ ریاستونوتوقیف ځایونوکې دشکنجې او بدچلند راپورونه وڅیړل شي . دا څیړنې باید چې معتبره ، مؤثره ، او خپلواکه وي او دملي امنیت دمسؤولینو جرمیکړنو ته توجه وشي.
- نوموړو پلټنو او تحقیقاتو باندې دې دبې پرې خپلواکه نظارت اجازه ورکړای شي او د پلټنو او تحقیقاتو لاسته راوړنې او د ترسره شویو جوړوونکو اقداماتو دې عام رپوټ ورکړل شي.
- ملي امنیت هغه کارکوونکې چې دتوقیفیانو دشکنجې کولو مسؤول وګڼل شي باید نظامي څارنوالۍ ته د معرفی کیدو په شمول ، مجازات ، تادیب او له دندې څخه ګوښه دې شي ، یاهم وظیفه یې تعلیق شی او دتقاعد او نورو امتیازاتو څخه بې برخې شي ،
- دتوقیف ټول غیر رسمي ځایونه دې وتړل شي ،
- خپلواکه ناظرینو ته دې( د افغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسیون او یوناما په شمول) دملي امنیت ټولو توقیف ځایونو( په شمول د ملي امنیت۱۲۴ ریاست) ته دې دنظارت په موخه منظم او پرته له خنډ څخه د لاس رسیاجازه ورکړل شي.
- ټول تحقیقات باید په غږیز یا انځوریز ډول ثبت شي( چیرته چېد سي سي ټي وي (څارګرې کمرې)موجودېوي) هغه قاضیانو ، څارنوالانو ، او نظارتی اشخاصو په واک کیدی ورکړل شي چې غوښتنه یی کوي.
- د ملي امنیت ټولو توقیفیانو لپاره دي بریښنایي مرکزي راجستر سیستم جوړ کړي او ټولوخپلواکه نظارتي اداراتوته په شمول د (دافغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، یوناما ، او نور) دې ازادانه لارس رسی یقینی کړی شي او په شفافه توګه دي هروخت دا راجستر اپ ډیټ کیږي ،
- دتوقیفیان د عمر معلومولو شته پالیسۍ او کړنې دې غښتلې شي ، ترڅو توقیفیانو دتوقیف کیدو پرمهال یقینی کړي شی چې ماشومان (هغه کسان چې د۱۸ کلونو څخه کم عمر لري) دعدلي تعقیب لاندی راتلو سره سم دماشومانو اصلاح او تربیت ځایونوته واستول شي ،
- یقینی دي کړی شي چې ماشوم توقیفیان دنیول کیدو له شیبې څخه په بشپړه توګه دبالغه توقیفیانو څخه جلا ځای کې ساتل کیږي ، څرنګه چې قانون کې دماشومانو لپاره وړاندوینه شوې.

## دکورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو ته

- دملي پولیسو او سیمه ایزو پولیسو لخوا د شکنجې او بدچلند دمخنیوي په برخه کې ټول لازم اقدامات ترسره شي پیځانګړي توګه هغه ځایونوکې چې یادېکړنې دتحقیق د میتود په توګه ترسره شوي دي.

- دبغلان ، هلمند ، هرات ، کندهار ، کندز ، پکتیکا ،تخار ، او زابل ولایتونوکې دملي پولیسو توقیف ځایونوکې او دفاریاب ، کندز ، کندهار ، او ارزګان هغه ولسوالیو کې چې محلي پولیس شتون لري ، دملي پولیسو او محلي پولیسو لخوا دشکنجې ټول راپورونه دېوڅیړل شي.
- د توقیف ټول غیر رسمي ځایونه دې وتړل شي.
- ملي پولیسو او سیمه ایزو پولیسو ټول هغه کارکوونکې او آمرین یې چې د توقیفیانو د شکنجې کولو مسؤل وګڼل شي باید نظامي څارنوالۍ ته د معرفي کیدو په شمول ، مجازات ، تادیب او له دندې څخه ګوښه شي ، یاهم وظیفه یې تعلیق شي او د تقاعد او نورو امتیازاتو څخه بې برخې شي.
- دخپلواکه نظارت په موخه دی دیاد تحقیقاتو باندی اجازه ورکړل شوی او موندنی او اصلاحي اقداماتو ګزارش ورکړل شی.
- دافغانستان دبشري حقونو د خپلواک کمیسیون او یوناما په ګډون ټول خپلواک نظارت کوونکو ته دې دملي پولیسو او دمحابسو عمومي ریاست ټولو زندانونوته دنظارت په موخه لاس رسی ورکړای شي.
- روښانه او قانوني لارښودونه دې وضع شي څو د سیمه ایزو پولیسو واک د توقیف په هکله سمبال کړي اودا دې باوري شي چې د یادو لارښودونو په هکله محلي پولیسو تریننګ ترلاسه کړی.
- ټول تحقیقات باید په غږیز یا انځوریز ډول ثبت شي( چیرته چې د سي سي ټي وي (څارګرې کمرې)موجودې وي) هغه قاضیانو ، څارنوالانو ، او نظارتي اشخاصو واک کی دی ورکړل شي چی غوښتنه یی کوي.
- مدافع وکیلانوته توقیفیانو دلاس رسي په برخه کې ټولې پالیسۍ اوکړنې بدلون وموي. مدافع وکیلانوته دی په ټولو توقیف ځایونو کی لارس رسی ورکړل شیترڅو هر یو توقیفي ته دنیول کیدو له وخته دعدلي تعقیب په ټولو مراحلو کې خدمات وړاندي کړي ( دتحقیق د مرحلی په ګډون) څرنګه چې دافغانستان په قوانینو کې راغلي.
- دتحقیق او مصاحبې قانوني او بدیل تکنیکونو الزامي تریننګونوکې دې دملي پولیسو د ټولو تحقیق کوونکو/ مستنطقینو ګډون یقیني کړی شي.
- ملي پولیسو ټولو توقیفیانو لپاره دې بریښنایي مرکزي راجستر سیستم جوړ کړي ، او ټولوخپلواکه نظارتي اداراتوته په شمول د (دافغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون ، یوناما ، او نور) دې ازادانه لارس رسی یقیني کړی شي او په شفاف توګه دېهروخت دا راجستر اپ ډیټ کیږي.
- دکورنیو چارو وزارت او اساسي نړیوالو همکارانو (ایساف ، یوناما ، او نړیوالې ادراي او مرسته کوونکو) دلوړ پوړو استازو په ګډون دي یوکمیسیون رامنځته شي چې ملي پولیسو او سیمه ایېزو پولیسو توقیف ځایونوکې دشکنجی له منځه وړلو په موخه ، ددغه راپور وړاندیزونو عملي کیدو اړوند اقداماتو څخه عمومي کتنه وکړي.
- دتوقیفیانو د عمر معلومولو شته پالیسۍ او کړنې دې غښتلې شي ترڅو توقیفیانو دتوقیف کیدو پرمهال یقینی کړی شي چې ماشومان (هغه کسان چې د۱۸ کلونو څخه کم عمر لري) دعدلی تعقیب لاندې راتلو سره سم دماشومانو اصلاح او تربیت ځایونوته واستول شي.
- یقینی دي کړی شي چې ماشوم توقیفیان دنیول کیدو له شیبې څخه په بشپړه توګه دبالغه توقیفیانو څخه جلا ځاي کې ساتل کیږي ، څرنګه چې قانون کې دماشومانو لپاره وړاندوینه شوې.
-

## افغان ملي اردو ته

- دملي اردو په ټولو هغه ځایونوکښې توقیفیان ساتل کیږی دشکنجې او بدچلند دمخنیوی په موخه دې ګامونه واخیستل شي په ځانګړي توګه هغو ځایونوکښې شکنجه او بدچلند لادمخه ترسره شوی.
- دفراه ، هرات ، بادغیس ،کابل (سروبی)، لغمان ، او کندهار ولایتونوکې د هغه رپوټونو څیړنه اوتحقیق دی وشی چېمستنطقینو شکنجه او بدچلند ترسره کړی.
- دملي اردو ټول هغه کارکوونکیچې دشکنجې مسؤلیت ورته راجع شوی تادیب ، نظامی محاکمه او مجازات شي او دهغوی هغه امرین چې دتوقیفیانو دشکنجې ، دشکنجې کولو امر ، یا بدچلند کولو امر کې مسؤول ویله دندی د تعلیق په ګډون ، دتقاعد امتیاز او نورو امتیازاتو څخه دې بې برخې شي.
- یادو تحقیقاتو باندی دې دخپلواک باندیني نظارت اجازه ورکړل شي او لاسته راوړنې او ترسره شوې کړنې دی په عام ډول رپوټ کړل شي.

- دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسون او د یوناما په ګډون ټول خپلواک نظارت کوونکوته دی دملي اردو ټولو هغه ځایونوته د لاس رسیاجازه ورکړل شی چیرته چه د منازعې اړوند توقیفیان ساتل کیږي.

## د افغانستان حکومت ته

- دشکنجی ضد کنوانسیون اختیاري پروتوکول کې وړاندي شوي جوړښت په شان دې دیوه خپلواکه باندینی نظارت او حساب اخیستنیجوړښت دامکان په صورت کې دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې رامنځته شي اودغه لاندې صلاحیتونه دې ولري: (۱) دبدچلند او شکنجې په هکله شکایات اومعلومات په محرم او پټ ډولترلاسه کړي. (۲) خپلواکه عدلي طب ته دې صلاحیت ورکړی شیچې دشکنجې ادعاګانې تائید کړي. (۳) دملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونوکې دې دشکنجې ادعاګانی په بی پرې او روښانه ډول وڅیړل شي او (۴) اړوندې دوسیی دې لویه څارنوالۍ ته دعدلی تعقیب په موخه واستول شي او دامکان په صورت کې دفساد ضد څارنوالۍ ته واستول شي.
- دا دې لازمي کړی شي چې د عدلي طب ټول کارکوونکي او دتوقیف ځایونو مسئولین دشکنجې په اړوند د عدلی طب شواهد باندینی ،خپلواکه او حساب اخیستونکی نظارتي جوړښت په واک کې ورکړی او مناسب مسلکي مجازات او مالی بندیزونه دې د نظارتي او حساب اخیستونکي جوړښت لخوا پلي کړی شي ترڅو دامکلفیتونه تطبیق شي.
- هغه قانوني چارچوب او پروسیجرونه چې ملي امنیت کړنې نظیموی شفاف او دعوام اختیار کیدی ورکړی شي او یقینی دي کړی شي چې دسؤ استفادی او شکنجی او بدرچلند په شمول د جدی چلند ادعاګانی ، دتحقیق نه بهر مضوعات او عدلی تعقیب ادعاګانو ته رشیدګی کیږی ، او دملی امینت هغه کارکوونکی چې دیادو کړنو مرتکب ګڼل کیږی ملکی عدالتی نظام کې رسیدګی پیشبینی کړي.
- ټولو ولایتونوکې دې د مناسب شمیر مسلکي مدافع وکیلانو شتون تضمین کړی شي. د خپلواکه حقوقي مرسته کوونکو په ګډون او ددوی لاس رسی دي د شخړی اړوند توقیفیانوته چې دملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونوکې ساتل کیږی دقانوني وخت په پام کې نیولو سره برابر کړي.
- د نښتو اړوند ټولو توقیفیانوباندې د ملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونوته درسیدلو پر مهال طبی معاینات لازمی کړی شي .

- دشکنجې او ظالمانه ، غیر انسانی او تحقیر امیزه کړنو ضد نړیوال کنوانسیون اختیاري پروتوکول دی لاسلیک او تصویب کړی شي.
- دشکنجې په هکله دملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي دی افغانستان ته دنظارت په موخه دعوت کړی شي.
- دشکنجې ، ظالمانه ،غیر انساني او تحقیر امیزه اعمالو پر ضد نړیوال کنوانسیون تطبیق په هکله دې دملګرو ملتونو کارپوهانو په مرسته دافغانستان دولت لومړنی راپور بشپړ او چمتو شي.
- د ملي امنیت او څارنوالۍ ترمنځ دي هوکړه لیک لغوه او ملي امنیت توقیف ځایونو کې توقیفیانو ته د مدافع وکیلانو لاس رسی یقیني کړي چې مخکي لدی چې زندان ته توقیفی انتقال شی د ملي امنیت توقیف ځای کې مدافع وکیلان وکولای شي توقیفیانو سره خبرې وکړي .

## ستري محکمې ته

- ابتدائیه او استیناف محاکمو قاضیانوته دې هدایت ورکړل شي چې دشکنجې او جبر سره ترلاسه شوي اعتراف ټولې ادعاګانې په منظمه توګه بررسي او داساسي قانون او جزایی اجرااتو قانون پر بنسټ دشکنجې دلاری اثباتیه شواهدو ترلاسه کول منع کړی شي.
- دابتدائیه او استیناف محاکمو قاضیانوته دی په وضاحت سره لاربښود برابر شي چې په هغی کی د شکنجې د جرم د ټولوعناصرو تعریف شوی وي کوم چې د شکنجی د نړیوال تعریف سره سمون ولری چې دشکنجې او ظالمانه ، غیر انسانی او تحقیرآمیزه اعمالو نړیوال کنوانسیون کې شوي.
- قاضیانوته دې لاربښوونه وشي چې دشکنجې دلارې اخیستل شوی اعتراف دې دقانوني اثباتیه شواهدو په توګه رد کړي.[88]
- هغه قاضیان دې له دندی څخه تبدیل یا ګوښه کړی شي ، کوم چې د شکنجی له لارې اخیستل شوی اعتراف د محاکمې په بهیر کې دجرم د اثبات لپاره قبلوي.

## پارلمان ته

- یقینی دي کړی شي چي دشکنجې دټولو مواردو په ګډون په بشپړ توګه دجزائی اجرااتو او جزا قوانینو مسودو کې چې اوس مهال ترکارلاندی دي تعریف شوی ، څرنګه چې شکنجی ضد کنوانسیون کې شکنجه په نړیواله کچه تعریف شوې.
- هغه قضایاوو کې چې دشکنجی واقع کیدو ادعا شتون ولري ، دشکنجې پرته د اعتراف د اخیستلو اثبات مسؤولیت شرط دې د څارنوال په غاړه کېښودل شي( یعنی ددي پرځای چې شاکې ثابت کړي چې شکنجه شوې باید څارنوال ثابت کړي چې اعتراف دقانونی او غیر شکنجی دلارې ترلاسه شوی).
- دافغانستان قوانین دې بیاځلې وکتل شی او یقینی دې کړی شي چې توقیفي دافغانستان محاکمو کې دخپلې نیونې او توقیف قانونیت باندې اعتراض وکړي.

[88] دابايد وویل شي چې دجزائی اجرااتو قانون مسوده کې دشکنجی دلاری اخیستل شوی اقرار دوسیه کې اثباتیه شواهدو په توګه رد شوی ، د۲۲ مادی په شمول ۱۵۰-۱۵۳ مادو پوری اجبار سره اقرار په هلکه. همدارنکه ۴ ماده ۳۶ بند اقرار تعریف کوی.

## لویه څارنوالۍ ته

- ټولو څارنوالانوته دې اجباري لارښودونه وضع کړی شي ترڅو دشکنجې دلاری ترلاسه شوي اعتراف داثباته دلایلو په توګه دصورت دعوی یا محاکمې په دوران کې رد کړي.
- ددې تضمین دې وکړی شي چې قاضیانوته دشکنجې د تعریف او نورو عناضرو په اړه د سترې محکمې ټول لارښودونه د دڅارنوالۍ ټولو څارنوالانوته ورکول کیږی.
- هغه څارنوالان چې  د توقیفیانو لخوا ورته دملي امنیت ، ملي پولیسو او سیمه ایزو پولیسو لخوا شکنجه کیدو شکایت شوی او دوي دشکنجی ادعاګانو په بیطرفانه او بشپړه توګه بررسی کولو کې پاتی راغلي ویله دندو څخه تبدیل یا هم ګوښه کړیشي ،
- هغه قضایاوو کي چې توقیفي ادعا کوی چې اعتراف ئی په جبر سره اخیستل شوی باید په قانوني توګه اقرار اخیستلو اثبات مسؤلیت دڅارنوال په غاړه اوسي چې ثابت کړي چې اقرا د شکنجی او جبر سره ندی اخیستل شوی.

- دملي امنیت ، ملي پولیسو او محلی پولیسو لخوا دشکنجې او بدچلند کاروني ټولې ادعا ګانې دی په خپلواکه او بیطرفه توګه بررسی کړی شي. دفساد پروړاندی د مبارزې د عالی ادارې څارنوال ته دنده ورکړی شي چې یاد تحقیقات او بررسي ترسره کړی.

## نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ته (ایساف)

- دملي امنیت او ملي پولیسو ټولو هغه ځایونوته چیرته چې دشکنجې او بدچلند ادعا ګانې او راپورونه ورکړل شوي دتوقیفیانو انتقال وځنډول شي او ټولې مرستې دې تعلیق شي.
- دملي امنیت او ملي پولیسو هرتوقیف ځای کې  چیرته چې انتقال صورت مومي ، دنظارت کړنې دې بیاځلې وکتل شي ترڅو تضمین کړی شي چې توقیفیان دشکنجې د خطر ځایونوته نه انتقال کیږي.
- دتوقیف ځایونوڅخه دنظارت شپږ پړاوېز پروګرام د ټینګښت په موخه پهځانګړي توګه دیاد پروګرام د اړیکو او حساب ورکولو په برخه  کی دې بیا کتنه وشي.
- دمحلی پولیسو لخوا په ځانګړي توګه هغه ځایونوکې چیرته چې شکنجې او بدچلند کړنې دتحقیق میتود په توګه ترسره شوي لکه فاریاب ، کندز ، کندهار ، او ارزګان کې دشکنجې او بدچلند مخنیوي په موخه دې ګام په ګام نظارت ترسره شي.
- دا دې یقینی کړي شي چې سیمه ایز پولیس په بشپړ ډول دشکنجېد مخنیویپه برخه کې روزل شوي او روښانه قانونې لارښودونو دلاری دسیمه ایزو پولیسو واک دمظنونینو توقیف برخه کې ترسره کیږي.
- د افغانستان حکومتي او غیر دولتي اداراتو څخه دې د نظارت تقویت په برخه کې په تخنیکی او مالي توګه ملاتړ وشيپه ځانګړې توګه هغه توقیف ځایونو څخه نظارت برخه کې چیرته چې د نړیوالو اداراتو او بشري حقونو ملي اداراتو لخوا په منظمه توګه نظارت سره سره بیا هم شکنجه کول شتون لري.
- د ملي امنیت ، افغانستان ملي پولیس او محلي پولیسوته دي هر ډول مالي او تخنیکي مرستی پدي مشروط کړی شي چې خپلو توقیف ځایونو کې د شکنجی کارول منع ، مخنیوی او مجازات کړي. همدارنګه خپلو مقاماتو باندې د نظارت او حساب ورکولو برخه کې مؤثر  ، کلک اقدامات ترسره کړي.

**مرسته کوونکو او هغه هیوادونو ته چې په افغانستان کې سرتیري لري**

- دتوقیفیانو څخه د نظارت پلان دی رامنځته او یاهم شته پلان دی قوي کړی شي کوم توقیفیان چې د نړیوالو ځواکونو لخوا افغان توقیف ځایونوته انتقال کیږي د هغوی د توقیف ځایونو څخه دې بیا نظارت وشي.
- شکنجې مواردو ته رسیدګی دې تضمین کړی شي کله چې دافغانستان ادارات او وزارتونو سره مالی یاهم هرډول مرسته کیږی .
- دشکنجې د مرتکبینو ځوابګویی اوحسا ب ورکونه دې د یوې اړینې موضوع په توګه د حساب ورکونی متقابل(دوه اړخیز) کاري چوکاټ کی د حکومت داری ، قانون واکمنی او بشري حقونو په هکله دتوکیو دلاربشود د۲ برخی پربنسټ داساسیپرمختګ د یوې مشخص شرط په توګه دی ځای کړی شي.
- دحقوقي(قانونی) مرستو وړاندې کوونکو ته دمرستو ادامه یا زیاتوالی او دمدافع وکیلانو دملاتړ پروژو څخه حمایت ، پدی خاطرچې د یوې وسیلې په توګه وکارول شي ترڅو د عادلانه محاکمې ضمانتونه رعایت شوي وي ، دشکنجې په وړاندی حمایت شوي وي او د زور دلاری ترلاسه شوي اثباتیه شواهدو رد کیدو څخه نظارت شوی وي.
- دا دې یقیني شي چې ټول تریننګونه او ملاتړ کوونکی پلانونه د ملي امنیت اکادمی ، کورنیوچارو وزارت ، یا ملي پولیسو د تحقیق افسران او کارکوونکي د زور څخه پرته دتحقیق روشونو ، بشري حقونو ، او د شکنجې مخنیوی اعمال عملي کوي.
- دافغانستان حکومتي او غیر دولتي اداراتو څخه دې دنظارت تقویت برخه کې تخنیکی او مالی ملاتړ وشی په ځانګړی توګه هغه توقیف ځایونو څخه نظارت برخه کې چیرته چې دنړیوالو اداراتو او بشري حقونو ملي اداراتو لخوا په منظمه توګه نظارت سره سره بیاهم شکنجه کول شتون لري.
- دملي امنیت ، افغانستان ملي پولیس او محلي پولیسوته دې هر ډول مالي او تخنیکي مرستی پدي مشروط کړي چې خپلو توقیف ځایونوکې دشکنجی کارول منع ، مخنیوی او مجازات کړي. همدارنګه خپلو مقاماتو باندې دنظارت او حساب ورکولو برخه کي مؤثر ، کلک اقدامات ترسره کړي.

# لومړۍ نقشه: د توقیف هغه مرکزونه چې د یوناما له خوا کتل شوي دي



## دوهمه نقشه: د توقیف هغه مرکزونه چې پکښې پېښې منځ ته راغلې دي



## دريمه نقشه: د افغان محلي پوليسو ، افغان ملي اودو ، افغان ملي پوليسو او ملي امنيت رياست په مرکزونو کی د چلند د څرنګوالی په اړه د توقيفيانو بيانونه



## د ملي امنيت عمومي رياست لخوا چلند

دملي امنيت د وظايفو لايحه دملي امنيت له قانون څخه سرچينه اخلي چې ددې دندې دكار طرز او فعاليتونه اداره كوي چې دملي امنيت تامينول او دتروريزم سره مبارزه هم په كې راځي[89]. دملي امنيت عمومي ريس تر مشرۍ لاندې چې مستقيما دافغانستان جمهور ريس ته راپور وركوي دملي امنيت رياست دټولو استخباراتي معلوماتو د راغونډولو دنده لري چې په كې دبهرنيو استخباراتو ، جاسوسي ضد ، تروريزم ضد ، او ټول دملي امنيت او بهرنيو چارو اړوند موضوعات شامليږي.

### عمومي نظر

د۲۰۱۱ اكتوبر او ۲۰۱۲ اكتوبر ترمنځ ، يوناما ۵۱۴ تنه توقيفيان چې دملي امنيت لخوا په ۳۰ ولايتونو ۳۲ توقيف ځايونوكې ساتل كيدل مركه كړي[90]. ۶۸ توقيفيان دملي امنيت په يواځې دوه توقيف ځايونوكې په مختلفو وختونوكې ساتل كيدل ، ۱۸ تنه توقيفيان دملي امنيت درې توقيف ځايونوكې په مختلفو وختونوكې ساتل كيدل او درې تنه توقيفيان دملي امنيت څلورو توقيف ځايونوكې په مختلفو وختونوكې ساتل كيدل چې په مجموعي توګه ۶۰۱ بيلګې دملي امنيت څخه د نمونې په توګه اخيستل شوي. د۵۱۴ تنو له جملې څخه ۵۱۵ تنه همدارنګه د ملي پوليسو او سرحدي پوليسو لخوا توقيف كې ساتل شوي وو. ۱۷۸ تنه د ۵۱۴ تنو له جملې څخه (۳۴ سلنه) دملي امنيت لخوا شكنجه يا بدچلند راپور وركړی پداسی حال كېچې دملي امنيت توقيف كې وو.

دشكنجې راپور شوي ډولونه عبارت دي له وهلو(دكيبل سره ، پايپ ،يا لښتو)، برقی شاک ، او ځړول (دولو څخه ځنځير سره ځړول چې ديوال ، فلزی پنجرې ، يا نور كلک شيانو سره تړل شوي وو د اووږد وخت لپاره). دبدچلند نور ډولونه چې راپور شوي عبارت دی له سخت حالت څخه ( لكه زور سره د اوږد وخت لپاره درول ، دريدل او كښيناستل په دوامدار ډول داووږد وخت لپاره ، او بيرون سړه هواكې د اوږد وخت درول) او په جنسی تيريباندی تهديدول. توقيفيانو ډير ځلې راپور وركړی چې ديوی كوټې څخه بلې كوټې ته او يا ديو توقيف ځای څخه بل توقيف ځای ته انتقل په مهال سترګې تړل شوي ياهم كځوړی يې په سر اچول شوي وي. يوناما موندلی چې توقيفيان دملي امنيت ولايتي توقيف ځايونوكې په اوسط ډول ۱۹,۶ ورځو لپاره ساتل كيږي چې داد ۲۰۰۵ كال دپوليسو قانون كې ټاكل شوې مودې ۷۲ ساعتونو څخه زيات وخت دی.[91]

### د ملي امنيت دوه توقيف ځايونو كې د سيستماتيكې شكنجې شواهد

دجدي تحليل او شواهدو تائيد پربنسټ ، يوناما كابل كې دملي امنيت تروريزم ضد ۱۲۴ رياست كې او دكندهار ولايتي دفتر كې دسيستماتيكې شكنجې په هكله كافي اندازه معتبره او اعتباري شواهد موندلي[92]. (۵نمبر نقشه وګورى).

---

[89] د۲۰۰۱ كال نومبر۴ نيټه دجمهور رئيس نه خپور شوی فرمان (فرمان نمبر.۸۹، ۱۳/۱۲/۱۳۸۰ ه ل).

[90] بدخشان ، بادغيس ، بغلان ، بلخ ، باميان ، دايكندی ، فراه ، فارياب ، غور ، هلمند ، هرات ، جوزجان ، كابل ، كندهار ، كاپيسا ، خوست ، كنړ ، كندز ، لغمان ، لوګر ، ننګرهار ، نيمروز ، پكتيكا ، پكتيا ، پروان ، سری پل ، تخار ، ارزګان ، وردګ ، او زابل.

[91] د۲۰۰۵ كال افغانستان دپوليسو قانون ۲۵ ماده حكم كوی چې پوليس كولای شی مظنونين د ۷۲ ساعتونو لپاره توقيف كی وساتی او وروسته له يادی نيټی بايد چې دمحابسو عمومی رياست توقيف ځايونوته واستول شی.

[92] دسيستماتيكی شكنجی كارونی تعريف لپاره ددغه راپور د لاس رسی او ميتودولوژی برخه وګورئ.

## د ملي امنیت نورو لس توقیف ځایونو کې د شکنجې کافي اندزاه معتبره او اعتباري پیښې

دهرات ، خوست ، لغمان ، او تخار ولایتونو دملي امنیت ریاستونه چې دیوناما ۲۰۱۱ کال اکتوبر راپور کې پیژندل شوي وو ، یوناما کافي اندازه معتبره او د اعتبار وړ شکنجې مستندې کړي.

همدارنکه د فاریاب ، کندز ، ننګرهار ، پکتیکا ، او کابل کې دملی امنیت ۴۰ ریاست توقیف ځایونکې ، یوناما دشکنجې کافی اندازه معتبره او ډادمنې پیښې موندلي. (۵نمبرنقشه وګورئ).

## د ملي امنیت نور توقیف ځایونه

یوناما یوشمر توقیفیانو سره مرکې کړي کوم چې دملي امنیت نورو ۱۶ توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو. دغه توقیف ځایونه عبارت دي له بدخشان ، بادغیس ، بامیان ، بغلان ،بلخ ، دایکندی ، هلمند ، کابل ۱ نمبر ریاست ، لوګر ، نیمروز ، پکیتا ، پروان ، سری پل ، وردګ ، او زابل دملي امنیت ولایتی دفترونه. د۱۰۸ تنه توقیفیانو له جملي څخه ۲۱ تنه(۱۹ سلنه) مرکه شوي. هغه توقیفیان چې یادو ۱۶ توقیف ځایونوکې ساتل شوي وو ویلي چې بدچلند او شکنجه شوي دی. ددغه راپور ترلکلو پورې یوناما کوښښ کړی چې دترسره شوو مرکو پر بنسټ دیادو ادعاګانودرضایت وړ اعتبار ترلاسه کړی.

## هغه توقیف ځایونه چې د شکنجې شواهد پکې ندي موندل شوي

د غور او فراه ولایتونو کې دملي امنیت توقیف ځایونو څخه دیوناما دنظارت پرمهال دشکنجې شواهد ندي موندل شوي. پکتیا ولایت دملي امنیت قضیه کې چیرته چې یوناما ۲۰۱۱ کال اکتوبر راپور کې دشکنجې شواهد نه وو موندلي ، اوس یوناما ته دمرکې پرمهال یوتن توقیفی ویلي چې تحقیق په بهیر دی بدچلند او شکنجه شوی.[93]

## د ملي امنیت ځینو توقیف ځایونو کې د توقیفیانو شمیر کې کمښت

د۲۰۱۱ کال اکتوبر کې دیوناما راپور دخپریدو څخه وروسته یوناما دملي امنیت ځینو ولایتي توقیف ځایونوکې دتوقیفیانو شمیر کې کمښت لیدلی. دمثال په توګه دهرات ولایتي توقیف ځای کې یوناما تیر ځل د ۱۳ او ۳۳ تنو ترمنځ توقیفیان دنظارت پرمهال لیدلیو ، وروسته د۲۰۱۱ اکتوبر راپور څخه د۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ سپتمبر پوری یوناما اوه ځلې له یاد توقیف ځای څخه لیدنه کړی چې په اوسط ډول یواځی ۶ توقیفیان ساتل کیدل. دهرات ملي امنیت ریس پروینا چې داکمښت دهغه پالیسۍ برخه ده چې دملي امنیت څارنوال سره په ګډه هوکړې سره په توقیف ځای کې دګڼه ګوڼې څخه مخنیوي په موخه عملیشوي.[94]

یوناما لیدلي چې که څه هم ملي پولیس د د نښتې اړوند توقیفیانو نیولو او توقیف کې پراخه نقش لري ، دغه توقیفیان چې یوځل ونیولی شي بیانو دتیر مهال په خیر ملي امنیت ته نه استول کیږی ، بلکې دملي پولیسو توقیف ځایونوکې ساتل کیږی او دملي امنیت له خوا تحقیق او بررسی کیږي. ځینو قضایاوکې داسې ښکاري چېملي پولیس دغه توقیفیان نسبت دداخلی او بهرنی امنیت ضد جرایمو ته عادي یا جنائی جرایمو باندی تورنوي. داجدی پوښتني راوچتوي او دملي امنیت جدي ګام اخیستلو وړاندیز کوي چې دتوقیفیانو سره بدچلند په شمیر کې کمښت راولی کوم چې دهرات ولایت ملي امینت ریاست دیوناما او نورو اداراتو لخوا ترلاسه کړي.

---

[93] توقیفی نمبر ۳۳۳

[94] یوناما د۲۰۱۲ کال اپریل ۴ نیټه دهرات ولایت ملي امنیت رئیس سره ولیدل.

د ۲۰۱۱ نومبر څخه تر ۲۰۱۲ اکتوبر پورې ، یوناما د لغمان ولایت (ملي امنیت ، محبس ، او دماشونام داصلاح او تربیت مرکز) توقیف ځایونو څخه تیرو دولس میاشتو کې ۱۹ ځله لیدنه کړې چې د نښتو اړوند ۱۷ تنه توقیفیان یې لیدلی او مرکه کړې دي. ددوه میاشتو په موده کې ، یوناما د۱۷ څخه ۵ تنو توقیفیانو دملي امنیت لخوا دبدچلند او شکنجې راپور ورکړی( اخرنی نیټه د شکنجې د۲۰۱۲ کال اګست میاشت ده)[95]. په مقایسه د دپنځو میاشتو مودې په ۲۰۱۱ (جنوری څخه تر می ) یوناما دلغمان څخه اته ځله لیدنه کړې چې په ټولیزه توګه ۲۱ تنه توقیفیان د یاد ولایت ملي امنیت ، محبس او ماشومانو اصلاح اوتربیت مرکز توقیف ځایونوکې شتون درلود. دغه مودې په بهیرکې چې یوناما دتوقیف ځایونو څخه لیدنه کړې ، ښکارې چې ملي امنیت د نښتو اړوند یوازې یو څو نیونی کړي[96]. دمني اخرنیو او ژمي میاشتو کې نښتې په ولایت کې کمیږی ، دلغمان ولایت ملي امنیت ریس همدارنګه ادعا وکړه چې په کابل کې‌ملي امنیت رهبری څخه یې لارښود ترلاسه کړی چې هغه وخت یوشخص ونیول شيچې د هغه د مظنونیت په هکله کافي اندازه معتبره شواهد شتون ولري. هغه وویل دتوقیفیانو کمښت کې یاد لارښود عملي کیدل یوعنصرګڼل کیږي.[97]

دتخار ولایت ملي امنیت ریاست توقیف ځای توقیفیانو شمیر کې دملاحظې وړ کمښت لیدل شوي. یوناما تیر ځل لیدنو پر مهال په منځنی کچه ۱۱ تنه توقیفیان یاد توقیف ځای کې ساتل کیدل ولی د۲۰۱۱ اکتوبرراپور څخه وروسته ډیر لږ شمیر توقیفیان په مسلسله توګه لیدل شوي. دبیلګی په توګه ، د۲۰۱۱ کال نومبر میاشت کې دتخار ولایت ملي امنیت توقیف ځای څخه لیدنی پرمهال یوناما یواځې یوتن توقیفی ، ۲۰۱۱ سپتمبر میاشت کې شپږ توقیفیان ، او ۲۰۱۲ مارچ کې اوه ۷ تنه توقیفیان لیدلي دی. دملي امنیت څارنوال دتوقیفیانو شمیر کې کمښت منلی او دتوقیفیانو شمیر کې دهوا او نورو دلایلو له کبله رامنځته شوی.[98]

عین وخت کې ، یوناما دملي پولیسو تروریزم ضد څانګې لخوا دکورنی او بهرنی امنیت ضد جرایمو په تړاو نیولو کې زیاتوالی یاداشت کړی.[99] پداسی حال کېچې دتخار ولایت ملي امنیت دایساف ، یوناما او نورو اداراتو لخوا رسیدګي لاندې وو ، داتشویش څرګندوي چې دقانون نور پلی کوونکیادارات دمنازعې اړوند توقیفیانو تحقیق مخته بیائی.

دکاپیسا ملي امنیت کې ډیر لږ شمیر توقیفیانو شتون ، یوناما ناتوانه کړیده چې پریکړه وکړي چې آیا دکاپیسا ولایت ملي امنیت کې شکنجه ادامه لری یانه. د۲۰۱۱ نومبر او ۲۰۱۲ سپتمبر ترمنځه یوناما دکاپیسا محبس کې نهه توقیفیان موندلي کوم چې تیر وخت کې دکاپیساملي امنت لخوا توقیف کې ساتل شوي وو.[100] دیوولسو میاشتو موده کې ، دنهه تنو څخه درې تنو توقیفیانو دملي امنیت لخوا بدچلند او شکنجې کیدو راپور ورکړی( اخرنی راپور موده د ۲۰۱۱ دستمبر میاشت وه).[101] دیوناما لخوا د هرې لیدنی پرمهال د کاپیسا دملي امنیت توقیف ځای کې هیڅ توقیفي شتون نه درلود. دملي امنیت ریس وویل چې توقیفیان دجزایې اجرااتو قانون سره هیڅکله هم د۷۲ ساعتونو څخه زیاتې مودې لپاره نه ساتل کیږی او دمحابسو ریاست توقیف ځایونوته انتقال

---

[95] توقیفیانو نمبر ۹۰ ، ۹۵ ، ۹۸ ، ۵۸۸ او ۶۴۲ .

[96] دراپور په موده کی ، هلته یواځی ۲۳ ددولت ضد عناصر نیول شوي دهغه ګڼو راپورونو له مخی چې یوناما موندلی یادو قضایاو کی ټول نیول شوي کسان دملي امنیت او ملي پولیسو لخوا جرمی کړنو باندی ندی تورن شوي.

[97] یوناما د ۲۰۱۱ دستمبر ۷ نیټه دلغمان ولایت ملي امنیت ریس سره ولیدل.

[98] یوناما ۲۰۱۲ جنوری ۱ نیټه د تخار ولایت دملي امنیت ریس سره لیدلی.

[99] دراجستر کتاب پر بنسټ( دتخارولایت محبس ، تالقانوکی دملي پولیسو توقیف ځای او دملي امنیت څارنوالی)، د۲۰۱۱دسمبر څخه ۲۴ منازعې اړوند عدلی تعقیب ترسره شوي ، چې د ۲۴ جملي څخه ۱۸ تنه دملي پولیسو لخوا نیول او توقیف شوي وو.

[100] توقیفیان نمبر: ۱۰۲ ، ۱۰۳ ، ۳۸۸ ، ۳۳۰، ۲۳۴، ۲۳۳، ۱۹۸، ۱۹۷ ، او ۳۸۹.

[101] توقیفیان نمبر: ۱۰۳ ، ۳۸۸ ، ۳۸۹

کيږي. نوموړي وويل چې خطرناکه توقيفيان لکه ددولت ضد عناصرو قوماندانان ، ځانمرګي برید کوونکیدنیولو سره سم دکابل ملي امنيت ته دتحقيقاتو په موخه استول کيږي او د شپې لخوا یې کاپيسا په ملي امنيت کې نه ساتو.[102]

## د ملي امنيت لخوا غير رسمي ځايونو کې تحقيق

يوناما د۱۲ مياشتو په موده کې ليدلي چې نښتو اړوند نيول او توقيف کولو کې افغان ملي پوليسو ډير پراخه نقش لرلی. يوځل چې نيول شوي دي ډير مرکه شوي توقيفيان د تير په څير ملي امنيت ته ندي استول شوي. بلکی دوی دملي پوليسو توقيف ځايونوکې ساتل کيږی ولی د ملي امنيت مسولينو لخوا تحقيق کيږي. ځينو قضاياوو کې داسې ښکاري چېملي پوليس ياد توقيفيان عام جرايمو په تور توقيف کوي نسبت دکورنی او بهرنی امنيت ضد جرايمو ته. دبيلګې په توګه کندهار کې يوناما موندلی چې ۲۹ توقيفيانو له جملې څخه چې دملي امنيت لخوا شکنجه شوي نه وو ۱۴ تنو ويلی چې دافغان ملي پوليسو يا سرحدي پوليسو لخوا مخکی لدی چېملي امينت ته واستول شي شکنجه شوي دي.[103] دوه نورو توقيفيانو ويلی چې دوی دملاعمرکورکې شکنجه شوي مخکی لدی چېملي امنيت ته واستول شي.[104]

## شکنجه د اعتراف د ترلاسه کولو په موخه

*" لمړی يو تحقيق کوونکيدوه نورو څخه وغوښتل چې زما لاسونه را وتړی. دوی زما لاسونه څما شاته وتړل او له کوټې څخه ووتل. تحقيق کوونکيراڅخه ويوښتل چې زه طالب وم. ماوويل نه ... تحقيق کوونکيپداسی حال کبچې زه يی وهلم وويل چې خپله ګناه قبوله کړی (ته يوطالب يی او ته بايد داقبول کړی). ته بايد خپله ګناه قبوله کړی يابه موږ ستا وهلو ته ادامه ورکړو. دوی زه په پښو ، ورنونو او شا باندی ووهلم او تراوسه می پښی دردکوی. دوی يو خړرنګی يومتراوږد کيبل څخه استفاده کوله. زه دوه ورځو پورې دملي امنيت تحقيق کوونکیلخوا ووهل شوم او وروسته لدی دوه ورځو دوی زما څخه وغوښتل چې ورقو باندی ګوته ولګوم. مافکر وکړ که چيری ګوته ونه لګوم دوی به مې ووژني. وروسته له ګوتی لګولو وهل ودريدل. ما کاغذونه لاسليک کړل ولی ونه پوهيدم چې څه پکې ليکل شي وو ځکه زه لوست نشم کولای او دوی هم راته ونه لوسته. هغه تحقيق کونکي چې وهلی يم لند قد او لنده توره ږيره لري. هغه تقريبا ۳۰ کلونه عمر لري او زه فکر کوم هغه د ... ولايت دی. که چېرې هغه ووينم نو زه کولای شم هغه وپيژنم. يوله هغه دوه وو څخه چې زما لاسونه وتړل ..... دی."*

**(توقيفی نمبر ۵۷۹ ، دخوست ملي امنيت ۲۰۱۲ سپتمبر)**

يوناما موندنی روښانه کوی چې شکنجه او بدچلند تل دتحقيق په بهير کې د اعتراف ترلاسه کولو په موخه ترسره کيږی. شکنجه او بدچلند په عمومی توګه دتحقيق په بهير کې دمختلفو تخنيکونو سره ئی عملي کوي ترڅو توقيفی اعتراف ته مات کړی(مجبورکړی) .

د۱۷۸ توقيفيانو څخه کوم چې دملي امنيت لخوا دشکنجه کيدو خبرورکړی و ، ۱۳۷ تنو ويلی چې د تحقيق په بهير کې دشکنجې درولو په موخه اعتراف وکړی. ټولو توقيفيانو راپور ورکړی چې کله هم دوی اعتراف کړی سملاسی شکنجه دريدلی ده.

---

[102] د ۲۰۱۱ نومبر ۲۹ نيټه ديوناما مرکزی ساحوی دفتر ليدنه د کاپيسا دملي امنيت ريس سره.

دیوناما لخوا ۵۱۴ مرکه شووتوقیفیانو څخه چېملي امنیت کې ساتل شوي وو، یواځی ۶۰ تنو ویلی چې دوی لوستی وو. ۹۲ توقیفیان دملي امنیت توقیف ځای کې مجبورکړی شوي وو چې اسنادو باندی ګوته ولګوی، دهغی له جملي څخه ۵۰تنوویلی چې دوی دلیکل شوي متن په هکه پوهاوی نه درلود ځکه چې دوی ته لوستل شوي نه و. د یوتوقیفی وینا ده چې دنوروسره یوشانی وه او یوناما ترلاسه کړی، پکی داسی ویلی:

*"دوی زه کابل کې ووهلم. دوی زما څخه غوښتل چې دوی ته ووایم چې زه طالب وم. دوی زه په خړ رنګی پایپ باندی په شا او پښو ووهلم(یوناما دتوقیفي پښوباندی ټپونو نښی لیدلی ). زه کابل کې په دوهمه او دریمه ورځ دری ځله ووهلی شوم. ... دوی پرما تور لګاوه چې طالب یم او یوکس می وژلی. وروسته له هرتحقیق څخه زه مجبور وم چې په اسنادو باندی ګوته ولګوم. زه نه پوهیدم چې په اسنادو کې څه لیکل شوي وو. ما له هغوی څخه وغوښتل چې راته ویې لولی ولی دوی رد کړه."*

**(توقیفی نمبر ۵۳۳، دملي امنیت ۴۰ ریاست، ۲۰۱۲ کال جولای)**

## د ملي امنیت لخوا د ماشومانو شکنجه

*"زه ۱۶ کلن یم. زه دچپرهار د ولسوالی یم. زه دملي امنیت لخوا ونیول شوم. دوی په لمړنیو اته ورځوکې ووهلم. بیا دوي مجبور کړم چې اعتراف وکړم، بیا آخرني څلور ورځی پرته له کومي ستونزي تیري شوي، یوه ورځ دوی د تحقیق لپاره خپل دفتر ته بوتلم او راځخه و یې غوښتل چې په څوکی کښینم. کله چې په څوکی کښیناستم، دوی پر څوکي وتړلم. داوخت دوه تنه تحقیق کوونکی وو. یوراته وویل چې الله (ج) ته دي غږ وکړه چې ماته له دوي څخه خلاصي را کړي. تحقیق کوونکی راته وویل چي پدې پړاوکي دي هیڅوک نشی خلاصولی. زه یې مجبورولم چې قبول کړم چې طالب وم ولی مانه غوښتل چې دا ووایم. بیا هغه راته وویل چې ډیر نوری شؤنی لاری لري چې زما څخه اعتراف ترلاسه کړي. هغه ژیړ رنګي یومتر اوږد پلاستکي پایپ او دوه نری لښتي تقریبا یومتر اوږدی چې دمیز لاندي پرتي وې را واخستلي او یوښیښه ئی بوتل. هغه تهدید کړم چې په لښتو او پلاستکي پایپ باندي به مي ووهي او که چېرې اعتراف ونکړم چې د طالبانو غړي وم، بیا آخرنی لاره داده چې پرتوک راځخه وکاږي او بوتل مي په مقعد کې داخل کړي. ماوهل زغملي شول ولی بی عزتي نه. هغوی راته وویل چې فکر وکړم او پریکړه وکړم چې اعتراف وکړم یا دبدو پایلو سره به مخ شم. راتلونکی ورځ ځما اومه ورځ وه، دوي بیا دتحقیق کوټي ته بوتلم. هلته دري تنه تحقیق کوونکی وو چې زما څخه یې پوښتل آیا ما پریکړه کړي چې تحقیق وزکړم او که نه. کله چې ماوویل (نه) دوي دري واړو ماباندي حمله وکړه او په سوکانو او لغتو یې په ټول بدن ووهلم. بل تحقیق کوونکی نوروته وویل چې دبدن هغه ځایونوباندي می ووهي چې چاته یې ونشم ښودلي. له هغو نورو تحقیق کوونکو څخه یې وغوښتل چې بوتل راوړي او پرتوک می رانه وباسی. پداسی حال کې چې یوتحقیق کوونکی وهلم بل تحقیق کوونکی دفتر ته ولاړ چې بوتل راوړي. مافکر وکړ چې پرته لدی چې تحقیق کوونکی څه غواړي قبول نکړم نور هیڅ نشم کولاي. تحقیق کوونکی راځخه وغوښتل چې په خپل خط باندی ولیکم. ماهرهغه څه چې هغه وویل ولیکل اوبیا یې راځخه وغوښتل چې پر پاڼی لاسلیک وکړم. کله چې ما لاسلیک وکړ، وهل ودریدل. دا ځای( دماشومانو د اصلاح اوتربیت مرکز) دملیامنیت په پرتله جنت دي."*

[یوناما دتوقیفي ماشوم پر شاباندی د یاد چلند په شمول ښکاره نښی ولیدلی. دنښو اندازه دهغه پایپ د اندازي سره چې نوموړی یې د وهلو یادونه کړي یوشان وه.]

## (توقیفی نمبر۸۹، د ..... ملي امنيت رياست ، ۲۰۱۲ کال جنوری)[105]

ديوناما ليدنو موندلي چې د هغو توقيفيانو له جملي څخه چې دملي امنيت لخوا يې شکنجه ليدلې ، دري ديرش (۳۳) تنه (۱۸ سلنه )يې د۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان وو[106] . دبيلګي په توګه ، دکندهار په ملي امنيت کې دهغو ۹تنوتوقيفيانو له جملي څخه چې په ملي امنيت کې شکنجه شوي وو ، شپږ تنه يي ماشومان وو[107] . ټولو شپږو ماشومانو بيان کړي چې په کيبل اولښتو باندی دپښو په تلو ترهغې وهل شوي ترڅو دهغوي دخوښي پرخلاف يې اعتراف يا ګوتي لګولو ته غاړه ايښي ، چې بيا بدچلند هم دريدلي.[108]

يوناما همدارنګه په شرنه (پکتيکا ولايت) کی دمليامنيت توقيف ځای کې ساتل شوي نهو تنو توقيفيانو سره مرکي کړي[109] . معتبرو شواهدو يوناما يې دهغو نهو توقيفيانو له جملي څخه شپږوته ورسوله چې دملي امنيت په توقيف ځای کې شکنجه شوي وو[110] . ټول توقيف شوي ماشومان د ۱۵ او ۱۷ کلونو ترمنځ کې عمر لرونکي وو ، چاچې دبدچلند او شکنجې جدي ډولونه بيان کړي ، په شمول په کيبل باندي د وهلو[111] او په مخ باندی په څپيړو وهل) او د تحقيق په دوران کې په لغتو بانديوهل شوې[112] . يوتوقيفي راپور ورکړي چې په جنسي تيري ګواښل شوي و[113] . يوناما مستنده کړي چې شپږ واړه توقيفيان اعتراف ته اړاسيتل شوي وو.

## د ملي امنيت لخوا سيستماتيکه شکنجه

### د ملي امنيت ۱۲۴ رياست

*"دافغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو امنيتي ځواکونو د ګډ تيم لخوا د ... ولايت ... سيمی ... په ... بجو ديو دوکان څخه ونيول شوم. دوي زما لاسونه وتړل ، پر سربيې کڅوړه راواچوله او مستقيما يې دملي امنيت ۱۲۴ رياست ته بوتلم. زما څخه هره ورځ تحقيق کيده( ټول نهه ځلی په نهه ورځورکی). لمړی شپه کې درسيدلو سره سم لاسي پداسي حال کې چې زمالاسونه لاهم تړلي وو دوي د تحقيق خوني ته بوتلم او د ملي امنيت يوکارکوونکی زما دمبايل اړيکو لست کيښود او زما تيلفيوني اړيکو خبري چې ثبت شوي وی وغږولي. په حقيقت کې مادطالبانو يو غږي ته زنګ وهلي و ځکه چې زه يو ... يم. دوي تهديد کړم او ويې ويل چې زه بايد اعتراف وکړم چې طالب يم. ما دا ادعاګاني رد کړي. بيا دملي امنيت يو کارکوونکی تهديد کړم چې که چيرې اعترافونکړم نو د وهلو لپاره ته مې بلي کوټي ته يوسي. بيا هغه دوه ځله پرمخ ووهلم. او چغي يې کړي چې بايد اعتراف وکړم. هغه*

---

[105] دهويب پيژندلو ټول معلومات دمحرميت او امنيتی دلايلو له کبله پټ شوی.

[106] توقيف شوي ماشوما نو دملي امنيت لاندی ذکر شوو توقيف ځايونوکې شکنجي بيان کړي: کندهار کی شپږو ماشومانو(توقيفی نمبر:۲۱۴ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، او ۴۴۰)، فارياب کی يوماشوم(توقيفی نمبر ۳۰۳)، خوست کې دري ماشومانو(توقيفی نمبر ۱۳۶ ، ۱۴۱ ،او ۳۲۷)، کندزکی دري ماشومانو (توقيفيان نمبر ۶۰ ، ۲۱۷ ، ۳۹۰)، ننګرهار کې دوه ماشومانو (توقيفيان نمبر: ۸۹ ، ۹۷)، تخارکی دري ماشومانو (توقيفيان نمبر۵۹ ، ۴۶۴ ، ۴۶۵)، نيمروز کې يوماشوم(توقيفی نمبر۱۵۹)، بلخ کی يوماشوم(توقيفی نمبر۱۸۸)، کابل لمړي رياست کی دوه ماشومانو (توقيفی نمبر۲۱۳ ، او ۴۳۸)، کاپيساکی دوه ماشومانو (توقيفی نمبر ۳۸۸ ، ۳۸۹)، پکتيکا کی شپږ ماشومانو (توقيفی نمبر ۲۱۳ ، ۳۸۰ ، ۳۸۱ ، ۳۸۲ ، ۳۸۶ ، ۳۸۷).

[107] توقيفی نمبر ۲۶۸ ، ۲۶۸ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، او ۴۴۰.

[108] توقيفی نمبر ۲۱۴ ، ۲۶۹،۲۶۸ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، او ۴۴۰.

[109] توقيفی نمبر ۲۱۳ ، ۳۸۰ ، ۳۸۱ ، ۳۸۲ ، ۳۸۳ ، ۳۸۴ ، ۳۸۶ ، او ۳۸۷.

[110] توقيفی نمبر ۲۱۳ ، ۳۸۰ ، ۳۸۱ ، ۳۸۲ ، ۳۸۶ ، او ۳۸۷.

[111] توقيفی نمبر ۲۱۳ او ۳۸۰

[112] توقيفی نمبر ۳۸۲ ، ۳۸۶ او ۳۸۷.

[113] توقيفی نمبر ۳۸۱

*وویل چې که چیري اعترافونه کړم ، نو هغه به زما و هګیو (بیضی) په تاوولو سره مامر کړي. همدارنګه هغه ګواښ وکړ چې برقي شاکونه به راکړي ... دملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کی په دوهمه ورځ بیا هغه تحقیق کوونکی راغي او دتحقیق کوټې ته یې بیا یوورم. هغه د ملي امنیت بل کارکوونکی ته غږ وکړ چې که چیري زه اعترافونکړم نو پایپ او دکمپوتر د برق لین راوړي چې ماپري ووهي. ما بیا هغه ته وویل چې زه بیګناه یم. دوي په لغته ووهلم او پرځمکه یې وغورځولم. بیا دپنځلو دقیقو لپاره په مسلسل ډول دبرق په کیبل او پایپ سره په ټول بدن ووهلم. دا ..... و چې اکثره وخت به یې وهلم. وروسته له هغه ،دوي بیا تحقیق خوني ته بوتلم او راته ویې ویل چې اعتراف وکړه یا نور وهلو سره مخ شه. ماورته وویل چې زه حاضر یم چې هرتور قبول کړم ، په شمول د ارتباط د ..... سره ترڅود نورو وهلو مخنیوي وکړم. مانور د درد تحمل توان نه درلود.له همدی کبله ما په ټولو تورونو اعتراف وکړ او ما په هرځای کې چې دوي غوښتل ګوته ولګوله."*

**(توقیفی نمبر ۶۳۳، د ملي امنیت ۱۲۴ریاست ، د۲۰۱۲ کال اګست)**[114]

په کابل کی دملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې د سیستماتیکی شکنجي کاروني په هکله د یوناما تشویشونه ادامه لری. یوناما په نورو توقیف ځایونوکی لکه دملي امنیت ۴۰ ریاست ، پلچرخي زندان او دماشومانو د اصلاح او تربیت مرکز کې د ۴۴ هغو توقیفیانو سره مرکي کړي چې مخکي لدې دملي امنیت ۱۲۴ ریاست توقیف کې ساتل شوي وو[115]. ۴۰ د ۴۴ تنو څخه چې مرکه شوي ویلي چې دملي امنیت لخوا نیول شوي او څلور تنو نورو بیا ویلي چې د نړیوالو ځواکونو او دافغان امنیتي خواکونو لخوا په ګډه نیول شوي[116].

د ملي امنیت ۱۲۴ ریاست کی توقیفیانو په منځنی کچې د ۹,۵ ورځو لپاره ساتل شوي[117].دا تقریبا نیمایي دهغو ورځو ده چې یوناما تیرځل ۲۰۱۱کال اګست کې راپور ورکړي و[118]. دا موندنی دملي امنیت۱۲۴ ریاست لخوا په لمړي قدم کې دتوقیفیانود ساتلو په ورځو کې کمښت وړاندي کوی ؛ که څه همدا د۷۲ ساعتونوڅخه زیات دی ( قانون هغو ادارو ته چې مظنونین نیسي حد اکثر ۷۲ ساعته صلاحیت ورکړی).

د۴۴ مرکه شوو خلکو څخه ؛ دوه ویشت تنو توقیفیانود ملي امینت لخوا دتحقیق د داسې روشونو بیان کړی چې شکنجې کی راتلی شي کوم چې یوناما ته معتبر دی[119]. دوه نورو توقیفیانو راپور ورکړی چې دملیامنیت د تحقیق کوونکو لخوا د تحقیق دوران کې په شکنجي تهدید شوي ترڅو اعتراف وکړي[120].

---

[114] دملي امنیت ریاست یوناما ته په کابل کی د۱۲۴ ریاست ته د ورتګ اجازه ورنکړه ، نو له همدي کبله یاد ریاست کې توقیفیانو سره چلند ، دملي امنیت ۴۰ ریاست ، دملي امنیت لمړی ریاست ، محابس او د ماشومانو د اصلاح اوتربیت مرکزونوکی دهغو توقیفیانو سره دمرکو له لاری معلومه شوي چې دمرکي څخه وړاندي دملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې ساتل شوي وو.

[115] توقیفیان نمبر:۱۰۵، ۱۹۶، ۲۰۰، ۲۰۱، ۲۰۲،۲۱۴، ۲۱۶، ۲۱۷، ۲۱۸، ۲۱۹، ۲۵۲، ۲۵۳،۲۵۴، ۲۵۶، ۲۵۷،۲۵۸،۲۵۹،۲۶۰، ۲۶۱، ۲۸۱، ۲۹۳، ۲۹۴، ۳۳۳، ۴۳۸، ۵۳۹، ۵۴۰، ۵۷۲، ۵۸۹، ۵۹۰، ۵۹۱، ۵۹۲، ۵۹۵، ۵۹۶، ۶۱۱، ۶۳۳، ۶۳۴، ۶۳۵، ۶۳۶، ۶۳۷، ۶۳۸، ۶۴۴، ۶۴۵، ۶۴۶، او ۶۵۰.

[116] توقیفی نمبر ۲۶۱، ۵۴۰، ۵۹۲، او ۶۴۶.

[117] دا معلومات (رقم) دملي امنیت رسمی رقم په بنسټ ندي بلکی دهغو توقیفیانو دوینا پر بنسټ دي چې یوناما مرکه کړی دي.

[118] دیوناما ۲۰۱۱کال اکتوبر میاشت راپور ۲۰ مخ وګوری.

[119] توقیفی نمبر ؛ ۱۹۶، ۲۰۰، ۲۰۱، ۲۰۲، ۲۱۸، ۲۱۹، ۲۵۲، ۲۵۳، ۲۵۷، ۲۵۸، ۲۵۹، ۲۸۱، ۲۹۳، ۳۳۳، ۴۳۸، ۵۳۹، ۵۷۲، ۵۹۵، ۵۹۶، ۶۳۳، ۶۴۴، او ۶۴۶.

[120] توقیفی نمبر ۲۵۳ او ۲۵۶ .

## دشکنجې میتودونه

یوناما موندلي چې د ملي امنیت د ۱۲۴ ریاست مسؤلینو دشکنجي د ځینو میتودونو کاروني ته ادامه ورکړي کوم چې د ۲۰۱۱ کال اکتوبر په راپورکې مستند شوې وو لکه ځړول[121] او وهل ؛ په شمول د پایپ سره دپښو په تلو وهل. د۲۲ توقیفیانو له جملې څخه ۵تنو ویلي چې دملیامنیت په ۱۲۴ریاست کی ځړول شوي و[122] . توقیفیانو بیان کړی چې د اوږد وخت لپاره فلزی پنجری سره ځړول شوی و چې دپښوګوتی یې ډیری سختۍ سره پر ځمکه لږیدلی. دوی دلاسونو څخه ځړول شوي وو پداسی حال کې چې زولنې یې دفلزی پنجری ، کړکیو او یاهم دروازو سره تړل شوي وې. لسو تنو د ۲۲ توقیفیانو له جملي څخه راپور ورکړی چې دکیبل ، پلاستیکی پایپ او داوبو پایب یا ربړ باندی وهل شوي[123] . یوولس تنو د ۲۲ توقیفیانو له جملي څخه راپور ورکړی چې په سوکانو ، لغتو او څپیړو وهل شوي[124] (د جنسی آلی د ساحې په ګډون[125]) او څوارلس توقیفیانو راپورورکړی چې دبرقي شاک په ورکولوګوښل شوي[126] او دګوتو نوکان یې ویستل شوي[127] .

ځینو توقیفیانو ویلی چې دوی په زور سره پیچریشانوونکي وضعیت کې ساتل شوي وو. څوالس تنو د۲۲ توقیفیانو له جملي څخه د اعتراف او ګوتی لګولو په موخه شکنجه کیدو راپور ورکړی[128] . یوولسو توقیفیانو د یادو اعمالو د مرتکبینو په هکله معلومات ورکړی[129] . څلور تنو له دی توقیفیانو څخه مجبور کړی شوي وو چې په هغو اسنادو ګوتې ولګوی چې د متن په هکله یې نه پوهیدل[130] . یوتن توقیفی بیان کړی چې دتحقیق او شکنجې په دوران کې یې کڅوړه یې پر سر اچول شوي وه او ویې نشو کولای چې دشکنجې مرتکب وپیژنی[131] .

## دتوقیفیانو پېژول

زیات شمیر توقیفیانو دملیامنیت د ۱۲۴ ریاست او د هغو ځایونو په اړوند یوشان معلومات ورکړی چیرته چې دوی توقیف او تحقیق کړی شوي وو. نهو تنو توقیفیانو په برنډه کې د توقیف کیدو بیان کړی.[132] دری تنو توقیفیانو دځمکی لاندی ځایونوکې یا لاندنی پوړ کی دتوقیف بیان کړی او دری تنو نورو بیا ویلی چې کله به لیدونکي لکه ایساف ، د سفارتونو مسؤلین ، یا دافغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون څخه راتلل ، نو دوی به په پټ ځای کې ساتل کیدل ځکه چې یادو توقیفیانو دبدچلند ښکاره

[121] توقیفی نمبر ۲۱۹ ، ۲۵۷ ، ۲۵۹ ، ۲۵۲ ، او ۴۳۸.
[122] توقیفی نمیر ۲۵۲
[123] توقیفیان نمبر ۲۰۰ ، ۲۰۱ ، ۲۰۲ ، ۲۵۷ ، ۲۵۸ ، ۲۵۹ ، ۵۷۲ ، ۵۹۵ ، او ۶۳۳.
[124] توقیفیان نمبر: ۱۹۶ ، ۲۰۰ ، ۲۱۸ ، ۲۱۹ ، ۲۵۲ ، ۲۵۹ ، ۲۸۱ ، ۲۹۳ ، ۵۹۶ ، ۶۴۴ او ۶۴۶ .
[125] نوقیفی نمبر:۵۷۲
[126] توقیفیان نمبر: ۲۵۸ ، ۳۳۳ ، ۵۹۶ ، او ۶۴۶ .
[127] توقیفی نمبر: ۲۹۳
[128] توقیفیان نمبر: ۱۹۶ ، ۲۰۰ ، ۲۰۱ ، ۲۰۲ ، ۲۱۸ ، ۲۵۷ ، ۲۵۸ ، ۲۵۹ ، ۲۸۱ ، ۲۹۳ ، ۳۳۳ ، ۵۷۲ ، ۶۴۴ ، او ۶۴۶.
[129] توقیفیان نمبر: ۱۹۶ ، ۲۰۱ ، ۲۱۸ ، ۲۱۹ ، ۲۵۷ ، ۲۵۸ ، ۲۹۳ ، ۳۳۳ ، ۶۳۳ ، ۶۴۴ ، او ۶۴۶.
[130] توقیفیان نمبر: ۲۰۱ ، ۲۰۲ ، ۲۱۸ ، او ۶۴۶.
[131] توقیفی: ۲۰۰
[132] توقیفیان نمبر: ۲۰۰ ، ۲۰۱ ، ۲۰۲ ، ۲۵۲ ، ۲۵۳ ، ۲۵۷ ، ۲۵۸ ، ۲۸۱ ، او ۲۹۳ .

نبني درلودی.[133] یوتن توقیفي ویلی چې د۲۰۱۱ کال اکتوبر کې پټ کړی شوي و[134] او بل تن ویلی چې د۲۰۱۱ کال نومبر کې پټ کړی شوي و[135]. دریم تن دراپور له مخې ۲۰۱۲ کال اپریل کې پټ کړی شوي و[136].

**د ملي امنیت په ۱۲۴ریاست کې د ایساف د توقیف ځایونو د څارنې پروګرام**

د۲۰۱۲ کال فبروری ۱۳ نیټه دایساف د ټریننګټریننګ پروګرام دملي امنیت دتحقیق کوونکو او کارمندانو لپاره دملي امنیت ۱۲۴ ریاست کې پای ته ورسید[137]. یاد ټریننګ دملي امنیت په اکاډمی کې دانګلستان د سفارت په مالی مرسته او لارښوونکو له خوا پرلاره اچول شوي و . دولایت په کچې دملیامنیت د ۱۲۴ ریاست لپاره دایساف له لوری دټریننګ برعکس ، دا ټریننګ دحقوق بشر او توقیف د پروسیجر په هکله یو اونېز کورس و. ددري اونېو په موده کې دملیامنیت د ۱۲۴ ریاست ټولو کارکوونکو لپاره ټریننګ ترسره شو ، چې دملي امنیت د ۱۲۴ ریاست ریبې س هوکړه کړی وه چې ټول کارکوونکې به نوموړي کورس ته استوی. سره له اصلاحی ټریننګ ، بیا هم یوناما څلور داسی توقیفیان موندلی چې وروسته له دی ټریننګ څخه د۲۰۱۲ کال په فبروری کې شکنجه شوي دی.

د۲۰۱۲ کال مارچ ۸ نیټه ایساف په مشروط ډول دملي امنیت ۱۲۴ ریاست تایې د کړپداسی حال کې چې په ټولېزه توګه هغو توقیفیانو چې دشکنجې په هکله کافی اندازه معتبرې او د اطمنان وړ ادعاګانې راپور کړي کمې شوي ، یوناما اته تنه داسی توقیفان موندلی چې دایساف لخوا دمشروط تایې د وروسته دملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې دتحقیق د داسی روشونو راپور ورکړی چې شکنجه کې راتلی شی. دشکنجې آخرنی راپور د۲۰۱۲ کال اګست نیټه ده. د۲۰۱۲ کال اکتوبر ۲۴ نیټه ایساف دملي امنیت د ۱۲۴ ریاست دنه تایې د اعلان وکړ او د دوهم ځل لپاره یې د توقیفیانو استول وځنډول.

**دکندهار ملي امنیت**

"زه دتحقیق کوټې ته یووړل شوم ، دملي امنیت دوه کارکوونکو راڅخه پوښتنې درویېرنې وکړی او توررنګی کیبل باندییې په وهلو پیل وکړ. دوی ماته وویل چې زه باید اقرار وکړم چې ما ماینونه ځای پرځای کول ، خلک می تختول اووژل. دوی څوځلی راته وویل چې زه باید پدی جرمونو اعتراف وکړم ګوندی نو دوی به زما وهلو ته ادامه ورکړی. مګر ما اعتراف ونکړ. خو بیا هم دوی یو بیان ترتیب کړی و او له ما څخه یې غوښتل چې په کاغذونو باندی لاسلیک وکړم رد کړل. د ددی په نتیجه کې دوی زه ووهلم. بیا دوی زه یوېټاکاوی ته بوتلم. دا پخوا په شان همهغه سوالونه او همهغه وهل . دوی ویل چې ته اعتراف وکړی او که نه مهمه نده ، هغوی به ما او کړی چې بیان باندی لاسلیک وکړم. ما اعتراف ونکړ. دتحقیق په دریمه ورځ هم دتیر په څیر سولونه او کیسه وه دسختو وهلو سره یوځای او توپیر په دې کې و چې ما ومنله چې هرڅه غواړی زه یې لاسلیک کوم. هغوی ډیر زیات اسناد راوړل او ما پر ټولو باندی ګوته ولګوله. دکندهار ملي امنیت ریاست کې د ۳۵ ورځو توقیف څخه وروسته زه دملي امنیت ۴۰ ریاست ته واستول شوم."

**(توقیفی نمبر:۵۷۳ ، دکندهار ملي امنیت ریاست ، ۲۰۱۲ کال سپتمبر)**

---

[133] توقیفیان نمبر: ۲۱۹ ، ۲۵۹ ، او ۲۸۱.

[134] توقیفی نمبر: ۲۱۹

[135] توقیفی نمبر: ۲۵۹

[136] توقیفی نمبر: ۲۸۱

[137] د۲۰۱۲ کال فبروری ۱۵ نیټه دایساف مطبوعاتي ګردی میز

دیوناما د ۲۰۱۱کال اکتوبر راپور کی دکندهار د ملي امنيت رياست دسیستماتیکی شکنجی کارونی د ځای په توګه پیژندل شوي دی. یوناما په خپل تیر راپور کې معتبره شواهد موندلي چې دملي امنیت مسؤلینو د منازعې اړوند مرکه شوو توقیفیانو هردریو تنو څخه یې دوه تنه یې داقرار کولو په موخه وهلي ، څړولي ، او دردوونکی حالت ته اړ کړي وو. دې موندنو ته په ځواب کې ، دملي امنيت رياست په کندهار کې یو لړ تحقیقات پر لاره واچول. دتحقيقاتو په پایله کې دکندهار ولايت د ملي امنیت رییس س او مرستیال یې دخپلو دندو څخه لرې کړی شول او دملي امینت په چوکاټ کې نورو ځایونوته تبدیل شول ، که څه هم ددی تبدلیو اصلی سبب تراوسه ناڅرګنده پاتی دی.

همدارنګه دملي امنيت چارواکو ادعا کوله چې د یادولایت ملي امنیت تحقیق کوونکی بلې دندی ته اړول شوي ترڅو دشکنجې مخه ونیسي. ایساف خپل شپږ پړاویېز څارنيز پروګرام ته دملي امنيت په مرکزی دفتر او نورو دفترونوکی لکه د کندهار په دوهمې حوزې دملي امنيت په توقيف ځای کې پلی کولو ته ادامه ورکړه چیرته چې د یوناما لخوا د سیستماتیکې شکنجې کارول موندل شوي وو. دملي امنيت دتحقیق کارکوونکوته هراړخیز ترینګونه ورکول شول په شمول د ګنو غونډو چې دایساف روزونکو لخوا ترسره شوې. ددیګامونوسره سره ، ایساف دکندهار ملي امنیت رياست تایې د نکړ او دتوقیفیانو بیا استول یې پیل نکړل.

په کندهار کې دملي امنيت د رياست د کارکوونکو لخوا د سیستماتیکی شکنجې کارولو په هکله دیوناما تشویش ادامه لری. د۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ سپټمبر پوری یوناما دملي امینت توقیف ځای کی یا هم نورو ځایونوکې په شمول دسرپوزی محبس او د ماشومانو داصلاح او تربیت مرکز کې ۴۸ تنه توقيفيانو[138] سره مرکې کړی چیرته چې دملي امنيت څخه وروسته ساتل شوي. یوناما موندلی چې په ملي امنيت کې دتوقیف منځنی کچې ۲۱ ورځی وه پداسی حال کې چې په تیر راپورکی داموده ۲۲ ورځی وه.

یوناما کافی اندازه معتبر او د اعتبار وړ شواهد موندلی چې د۴۸ تنو مرکه شوو توقیفیانو څخه ۱۹ تنه د ملي امنيت کارکوونکو لخوا د اعتراف یا معلوماتو ترلاسه کولو په موخه شکنجې ګاللی[139]. توقيفيانو په کندهار کې دملي امنيت د تحقيق کوونکو لخوا د تحقیق دداسې لارو توضیحات ورکړي چې تیرځل د یوناما لخوا مستند شوي وو. اتلس د پاتی ۲۹ تنو توقیفیانو له جملې څخه چې د شکنجې په هکله یې حه ندی ویلي یوناماته ویلی چې دوی یا ډیط نا راحته کیږي او یا ډیر ویریږی چې که چیری معلومات شریک کړی د ملي امنيت د چارواکو لخوابه له دوی څخه بیا غچ واخستل شی.

یوناما موندلی چې د ۲۹ توقیفیانو له جملې څخه چې دکندهار ملي امنيت کې شکنجه شوي نه وو ، څوارلس تنه یې مخکی لدی چې ملي امنيت ته واستول شی دکندهار د ملي پولیسو یا سرحدي پولیسو لخوا شکنجه شوي وو.[140] د۲۹ له جملې څخه چې په کندهار کې دملي امنيت لخوا شکنجه شوي نه وو څلور تنه یی دملا عمر په کورکې مخکی لدی چې ملي امنيت ته واستول شی شکنجه شوي وو.[141] دوه تنو توقیفیانو په ملي امنیت باندی د ملاعمر په کورکی دشکنجې ادعاکړی.[142] دنولس شکنجه شوو

[138] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۶ ، ۱۷ ، ۲۱ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۴ ، ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۱۴ ، ۲۲۲ ، ۲۲۳ ، ۲۲۴ ، ۲۲۵ ، ۲۲۶ ، ۲۲۷ ، ۲۲۸ ، ۲۲۹ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۷۵ ، ۲۷۶ ، ۲۷۸ ، ۲۷۹ ، ۲۶۲ ، ۲۶۳ ، ۲۶۴ ، ۲۸۲ ، ۲۸۴ ، ۲۸۵ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۲۹۲ ، ۴۴۰ ، ۴۸۲ ، ۴۸۴ ، ۴۸۶ ، ۴۹۱، ۴۸۹ ، ۴۹۲ ، ۴۹۸ ، ۵۴۴ ، ۵۷۳ ، او ۶۵۱.

[139] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۷ ، ۲۱۴ ، ۲۲۴ ، ۲۲۷ ، ۲۲۹ ، ۲۶۲ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۲۹۲ ، ۴۴۰ ، او ۵۷۳.

[140] توقیفیان نمبر: ۲۱ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۶ ، ۲۲۵ ، ۲۲۸ ، ۲۷۶ ، ۲۷۹ ، ۲۸۵ ، ۴۸۲ ، ۴۸۳ ، ۴۸۶ ، ۴۸۹ ، او ۴۹۲.

[141] توقیفیان نمبر: ۲۱۴ ، ۲۸۴ ، ۲۸۷ ، او ۵۴۴.

[142] توقیفیان نمبر: ۲۸۴ ، او ۲۸۷

توقیفیانو له جملې څخه پنځلسو تنو دشکنجې له کبله اعتراف کړی.[143] له دی پنځلسو قضیو څخه په نهو دوسیو کې توقیفیان دملي امنیت لخوا اړ کړل شوي وو چې بیدون دمتن دپوهیدو څخه د اعتراف اسنادو باندی ګوته ولګوی.[144]

**ماشوم توقیفیان**

دکندهار ولایت ملي امنیت ریاست کې د ۱۹ شکنجه شوو توقیفیانو له جملې څخه شپږ تنه یې د۱۸ کلونو څخه د کم عمر لرونکي وو[145]. دی ټولو شپږو تنو توقیفیانو بیان کړی چې په کیبل یا لښتو باندی د پښو په تلو ترهغی وهل شوي ترڅو چې دخپلی خوښی خلاف اعتراف باندی ګوتی لګولو ته هوکړه وکړه ، چې بیانو ملي امنیت بدچلند درولی دی.[146]

یو ۱۴ کلن توقیفی دکندهار دملي امنیت مسؤلینو لخوا شکنجه په لاندی ډول خلاصه کوی:

> *"سبا ورځی سهار کې دیو رینجر موټر په واسطه دکندهار ملي امنیت واستول شوم. هغه شپه چې ورسیدم زما لاسونه او سترګی تړلی وی. زما څخه هغه شپه کې تحقیق وشو. زما خلاصی کړی او ما دوه سړی هغه کوټه کې ولیدل. یو چاق او یو وچ شړی وو. زما څخه نیم ساعت تحقیق وشو پداسی حال کې چې په لاسونو او دپښو په تلو یی لښتو سره وهلم. زه هلته دوه اوونیو مودی لپاره توقیف وم او دوه ځلی نور راڅخه تحقیق وشو... ورسته له هغی بیا دماشومانو اصلاح او تربیت مرکز ته واستولای شوم."*
> **(توقیفی نمبر ۲۸۲ ، دکندهار ملي امنیت ریاست ، ۲۰۱۲ کال مارچ)**

**دشکنجې میتودونه**

دتیر راپور په څېر ، یونامایو شان او بشپړ معلومات مستند کړی چې د کندهار دملي امنیت کارکوونکي په خپلو توقیف ځایونوکې دتوقیفیانو څخه داعتراف د ترلاسه کولو په موخه شکنجې ته ادامه ورکوي. دملي امنیت تحقیق کوونکي توقیفیان دپښو په تلو ، لاسونو ، او شاباندی د معمول په ډول په برقي کیبل یاهم پلاستیکی پایپ باندې وهي. توقیفیانو په بشپړ توګه بیان کړی چې پرسر او بدن باندي په لغتو وهل شوي ترهغی چې خپل هوش یې دلاسه ورکړی ، همدارنګه ځړول شوي ، د ا وږد وخت لپاره بامشقته دریدلو ته اړ کړي شوي ، په غوږونو ، پزو ، سر ، د پښو په ګوتو ، پښو باندی برقي شاکونه ورکړل شوي ، او په یوه حالت کې په جنسی تیرې باندې ګواښل شوي. توقیفیانو همدرانګه دحسی محرمیتونو خبر ورکړی( دتحقیق په دروان کې او وروسته په دوامداره توګه د سترګو تړل).

**وهل**

دکندهار د ملي امنیت کارکوونکو دتیر په شان ماشومان دتحقیق په دروان کې دپښوپه تلو ، شاتخته ، سر ، او لاسونو باندي په لښتو ، برقي کیبل ، یاهم پلاستیکی پایپ باندی وهلي. دملي امنیت تحقیق کوونکو په هغو قضایاووکې چې توقیفی به اعتراف ته تیار نه و نو داسي روشونوته یې مراجعه کړی. دی بدچلند به هره ورځ دڅو دقیقو او ځوساعتونو لپاره ادامه درلوده. اکثره قضایاوکې داسې ښکارېږي چې بدچلند هغه وخت پیل شوی چې توقیفی لمړی شپه په برنده کې تیره کړی او بیا دتحقیق په دوهمه ورځ کې د تحقیق کوټه ته دتحقیق او شکنجې په موخه وړل شوی. یوتوقیفی دابهیر داسې بیان کړ:

---

[143] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۱۷و ۲۲۴ ، ۲۲۷ ، ۲۲۹ ، ۲۶۲ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۲۹۲ ، ۴۴۰ ، او ۵۷۳.
[144] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۱۷ ، ۲۲۴ ، ۲۲۷ ، ۲۲۹ ، ۲۶۲ ، ۲۸۳ ، ۲۹۱ ، او ۲۹۲
[145] توقیفیان نمبر: ۲۱۴ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، او ۴۴۰.
[146] توقیفیان نمبر: ۲۱۴ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۲ ، ۲۸۳ ، او ۴۴۰.

*"دملاعمر په کورکې دشپې تیرولو وروسته یې ، زه دکندهار ملي امنیت ته بوتلم. زه یې همدې کوټې ته راوستلم چې اوس مهال پکې مرکه کوو... یوتن (ممکن تحقیق کوونکي) زما څخه سوالونه وپوښتل لکه( ایا ته طالب قوماندان یې؟) زما لاسونه شاته تړل شوي وو او دملي امنیت یوتن کارکوونکي پلاستیکی پایپ په لاس کې نیولی و. کله چې مارد کړه چې طالب قوماندان نه یم ، دملي امنیت کارکوونکي په ورنونو باندی په پلاستیکی پایپ او په سر باندی یې په سوکانو ووهلم. څلورو یا پنځو تنو ووهلم. هغه یوتن چې له ما څخه یې پوښتنی کولي نه وهلم. دری ځلی دهغه یوتن لخوا راڅخه تحقیق وشو. دټول تحقیق پرمهال پداسی حال کی درول شوي وم چې لاسونه می شاته تړل شوي وو. دماښام اونیمو بجو څخه بیا د شپې تر دولسو بجو پوري زما څخه تحقیق کیده. دوهم تحقیق څو ورځې وروسته پیل شو ، همهغه سړیهمهغه پوښتنی راڅخه کولی. تحقیق کوونکي راته وویل چې اعتراف وکړم ګنی وبه وهل شم. دوی زما دواړه پښی او سترګی وتړلي او په لښتو یی په ورنونو ووهلم. ددریم تحقیق پرمهال دملي امنیت تحقیق کوونکي یواځی سوالونه راڅخه وپوښتل او ما ډیري ورقې لاسلیک کړې ولی زه پوه نشوم چې څه لیکل شوي وو."*
**(توقیفی نمبر۲۶۲ ، دکندهار ملي امنیت ریاست ، ۲۰۱۲ مارچ)**

**برقي شاک**

درې ماشومو توقیفیانو راپور ورکړی چې دملي امنیت د تحقیق کوونکو لخوا اړ شوي چې دتحقیق د کوټې د دیوال ساکت څخه راوتلي برقي برقي لینونو ته ګوتې وروړي[147]. دریواړو توقیفیانوبیان کړی چې دپښو په تلو په پایپ یا لښتو باندی وهل شوي. درېواړو توقیفیانو د اعتراف څخه ډډه کړی. دوي ته برقي شاک ورکړل شوی. دبرقي شاک نیتجه کې حداقل یوتن توقیفی ویلې چې څوځله بیهوشه شوي. هغه خپله تجربه چې څرنګه برقي شاک ورکړل شوي و داسې بیان کړه:

*"داتلسو ورځو په مودهکې له ما څخه په هرو دوه ورځو کې تحقیق کیده ترهغې چې ما اعتراف وکړچې زه طالب وم. ددوهمې ورځې څخه د تحقیق په بهیرکې د ملي امنیت کارکوونکو زما لاسونه شاته پداسی شکل تړلی وو چې یولاس مې پر اوږه باندې تاو کړای شوی و او دوهم لاس می د شا له خوا ور سره ولچک شویو او په یو پلاستیکي پایپ یې وهلم. دتحقیق په بهیر کې همغه شاني وهل کیدم څرنګه چې په لمړی ورځ وهل شوي وم. په دیوال کې برقي ساکټ و چې دوه لینونه ورڅخه راوتلی وو. تحقیق کوونکی ځینی وخت راڅخه غوښتل چې هغه ونیسم. کله به چې ماهغه برقي لینونه ونیول نو شاک به یې راکاوه. څوځلی ماهوش دلاشه وکړ کله ته چې ما هغه لینونه رانیول. کله به چې بیا په هوش راغلم نو تحقیق به ادامه کوله. دملي امنیت کارکوونکو همدارنګه په مرچکیو باندي یوه ککړه لښته راوړی وه. تحقیق کوونکی راته وویل که چیری زه په طالبی عتراف ونکړم نو هغه به لښته زما په مقعد کې ومنډې. همدارنګه د ملي امنیت کارکوونکو زما ږیره راکش کړه او پر مخ باندی یې په سوکانو ووهلم. مغوی همدارنګه زما مور ، خور او ښځې ته ښکنځل کول."*
**(توقیفی نمبر ۲۹۱ ، کندهار ملي امنیت ریاست ، ۲۰۱۲ فبروری)**

**داوږد وخت لپاره جبری درول او دردوونکی حالت**

د هغو شیوو په یقیني کولو سره چې یوناما پخوا د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په راپور کې ذکر کړی وی ، د کندهار ملي امنیت د توقیفیانو بامشقته حالتونو ته د یو عام چلند په ډول چې دردونکی دی ادامه ورکړی تر څوپه توقیفیانو د تحقیقاتو پر مهال او یا هم د دوو تحقیقاتو تر منځ د یو ګواښ په ډول وارد کړي او یا هم پدی خاطر چې له توقیفیانو مخکې لدی چې پوښتنې دروېږنې

---

[147] توقیفیان نمبر: ۲۸۴ ، ۲۹۱ ، او ۲۹۲.

صورت ونیسي سلطه او کنترول حاصل کړي. توقیفیانو خبر ورکړی چې په سختو ځایونو او حالتونو باندی کم له کمه د دوه ساعتونو پوری او زیات تر ځلورو ورځو پوری په جبر درول شوي.[148]

همهغه شانې چې دیوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په راپورکې خبر ورکړل شوي و ، دملي امنیت کارکوونکی اکثر دملي امنیت په ریاست کې دملي امنیت لمړی توقیف ځای ودانۍ په برنډه کې له توقیفیانو څخه سوالونه پوښتی. یوله دغو توقیفیانو وویل چې هغه دژمی په میاست کې درې شپې او ورځې په برنډه کې ساتل شوي و ، پداسی حال کې چې بل تن توقیفی ویلی چې هغه د څوارلس ساعتونو لپاره د شپې تر ناوخته پوری برنډه کې ساتل کیده. یواځی دشپې په یوه بجه توقیفی ته اجازه ورکول کیده چې بهرکتني او ویده شي. هغه راپور ورکړ چې یاد وضیعت ډیر دردوونکي و او زیاتوی چې دڅوارلس ساعتونو څخه وروسته دهغه پښی ډیری پړسېدلي وي.

په یوشمر وختونوکې ، ماشوم توقیفیانو راپورورکړی چې تحقیق کوونکو به دوي دردوونکی حالت ته اړایستل[149] په شمول د توقیفیانو د پښو د معمول خلاف خواته تړل ، لاسونه به یی داسی ډول شاته تړل چې یولاس داوږی لخوا او بل دښکته لخوا شاته سره یوځای ولچک کول ، یاهم داسې چې لاسونه او پښې سره دستونی شاته تړل لدی لپاره چې دوي مجبور شې سربانډی کښنی. دا حالت دیوناما تیر کال راپور کې په کندهار کې ساتل شوي توقیفیانولخوا بیان شوي حالت سره یوشان دی. ددی په ضمن کې یوتن توقیفی دشکنجې راپور ورکړی په داسې حال کې چې له سینی څخه په چت کې ځړول شوي و او دبرق کیبل باندی وهل کیده.

**د کندهار د ملي امنیت په ودانۍ کې دوه توقیف ځایونه**

یوناما دکندهار د ملي امنیت د ریاست د ودانۍپه داخل کي ددوه توقیف ځایونو په هکله چیرته چي دمنازعې اړوند توقیفیان ساتل کیږی خبره شوي. د ملي امنیت ریاست یاد دوه توقیف ځایونه په جلا جلا نومونو ، یو ( دملي منیت توقیف ځای) او بل ( دملي امنیت د څارنوالی توقیف ځای) نومولي دې. دا دوه ځایونه په بشپړ ډول دملي امنیت لخوا کنترولیږی ، هغه توقیفان چې نوی نیول کیږی (د۷۲ ساعتونو نظارت) دلمړنیو بررسیو لپاره یوتوقیف ځای کې ساتل کیږی او هغه توقیفان چې دوسیې یې دملي امنیت څارنوالی ته رسیدلی وي او د زیاتو تحقیقاتو په موخه توقیف کی ساتل کیږی. دملي امنیت د کارکوونکو د ویناوو برسیره دا ښکاره ده چې دملي امنیت څارنوال په دوهم توقیف ځای کې دملي امنیت د تحقیق په پروسه کې کوم رول نه لري.

**د توقیف غیر رسمی ځایونه**

*"دملي منیت هغه استازې چې زه یې په کندهار کې نیولی وم ، سترګی راته تړلې وی او توله لاره کې یې ترهغه وهلم تر څو چې د ملاعمر کورته ورسیدو. زه پوهیږم چې دا دملاعمر کور و ځکه چې دکندهار ملي امنیت په توقیف ځای کې راته وویل شو. دملاعمر کورکې زما څخه پوښتنې وشوي او ووهل شوم ولی ما نشو کولای ووینم چې چا وهلم. دوي زه پر ځمکه وغځولم او زما پښی یې یوځای وتړلې. دوی په پایپ دپښو په تلو ووهلم. دوی راته وویل چې اعتراف وکړه! او که نه نو  مونږ دې بهرنیانوته ورسپارو. وروسته له یوڅه مودی یې  وهل ودرول او ویې ویل: "ته لس دقیقی لری چې پدی هکله فکروکړی" . دوی بیرته راغلل او دپښو په تلویې ووهلم. وروسته دوی زما ګوته ولګوله."*

[148]توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۲۲۷ ، ۲۲۹ ، ۲۶۲ ، ۲۶۸ ، ۲۶۹ ، ۲۸۴ او ۲۹۱.
[149]توقیفیان نمبر: ۲۲۹ ، ۲۶۲ ، ۲۶۹ ، ۲۸۴ ، او ۲۹۱.

**(توقیفی نمبر۵۴۴ ، ملاعمر کور ، کندهار ۲۰۱۲ کال جولای)**

یوناما دګنو منابعو څخه ګڼ معتبره معلومات او مستند راپورونه ترلاسه کړی چي د کندهار په ښارکي دتوقیف داسی بدیل ځایونه شتون لری چیرته چي توقیفیان مخکي لدي چي دکندهار د ملي امنیت ریاست توقیف ځای ته واستول شي شکنجه او ساتل کیږی. یوناما له یوولسو[150] داسی توقیفیانو سره مرکې کړي چا چي ادعا کوله چي مخکې لدې چي دکندهار دملي امنیت ریاست ته انتقال شی نامعلومه ځایونو کې ساتل شوي وو. دیادو یوولسو توقیفیانو څخه اوه تنو دهغه ځای توضیحات ورکړی چي تیر وخت کې دملا عمر کور و[151]. دغو اوه تنو توقیفیانو وویل چي دوی پوهیږي چي د ملاعمر کورکي وو څکه دوی هغه ځای پیژنده ، او دکندهار ښار سرکونه یې پیژندل او کله چي دکندهار ملي امنیت ته وړل شوي دنورو توقیفیانو لخوا ورته ویل شوي وو. دیادو اوو تنو څخه پنځه تنو ویلی چي یوه شپه دپښو تلو باندی په لښتو او یا پایپ وهل شوي.[152] دراپورونو پربنسټ دملي امنیت یوتن کارکوونکی یو توقیفی ته دپښو په ګوتو باندی برقي شاک ورکړی.[153] دوه تنو توقیفیانو خبر ورکړی چي مجبور کړي شوي وو چي دملاعمر په کورکي په اسنادو باندی ګوتي ولګوی.[154]

دهغو څلورو تنو توقیفیانوله جملي څخه چي توقیف ځای یې نشوپیژندلی ، دوه تنه یې په عینی میتود سره شکنجه شوي وو.[155] دوی هم راپور ورکړی چي په لښتو یوه شپه مخکي له دې چي ملی امنیت ته انتقال شي دپښو په تلو وهل شوي. یوتن له دی توقیفیانو ویلی چي یاد نامعلومه توقیف ځای کې مجبور کړی شوي وو چي په اسنادو باندی ګوته ولګوی.[156]

**د ملي امنیت په توقیف ځایونوکی په کافي اندازه معتبرې او د اطمنان وړ د شکنجې پیښې**

*"ورځ وه ، دری څلور کسانو د تحقیقاتو کوټې ته بوتلم او راته یې وویل چي ما د ... د وژلو حکم ورکړی و. پدې ځای کې ... چې د تحقیقاتو په دوران کې موجود و وویل چې ما ته د برقي شاکونو اړتیا ده تر څو اعتراف وکړم پداسې حال کې چې ما په تیلیفون کې د خبرو کولو څخه انکار کاوه....بیا د ملي امنیت دری کارکوونکو راته وویل چې دوی به راته برقي شاکونه راکړي او بیا به تر سبا د اعتراف کولو لپاره وخت راکړي. بیا دوی دوه د برق تارونه زما په پښو پوری وتړل (یو په غټې او بل په اولې ګوتې پورې). دا تارونه یو ماشین پوری تړل شوي وو. شاکونه ډیر اوږده نه وو خو ما داسی احساس کاوه چې ځوک مې زړه بیځایه کوي. زه ډیر خوځیدم او ځان مې نشو کنترولولی."*

**(توقیفی نمبر۵۵۳ ، د جوزجان ملي امنیت ، ۲۰۱۲ کال اګست)**

یوناما دملي امنیت نورو توقیف ځایونکې په کافی اندازه معتبره او د اطمنان وړ د شکنجې پیښې موندلي. لدی څخه یی څلوریوناما له مخکي پیژندلي وو چي هغه عبارت دي له: هرات ولایتی ریاست ، خوست ، لغمان ، او تخار. دملي امنیت څلور نور توقیف ځایونه چي دشکنجې معتبره او د اطمنان وړ پیښې پکې موندل شوي عبارت دې له ولایتی دفترونو د: ننګرهار ، فاریاب ،

---

[150] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۶۲ ، ۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۲۹۲ او ۵۴۴.

[151] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۲۳ ، ۲۶۲ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، او ۵۴۴.

[152] توقیفیان نمبر: ۱۴ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، او ۵۴۴.

[153] توقیفی نمبر: ۲۸۴ .

[154] توقیفیان نمبر: ۲۸۴ ، ۵۴۴.

[155] توقیفیان نمبر: ۲۹۱ او ۲۹۲.

[156] توقیفی ۲۹۱.

کندز ، او پکتیکا ، او همدارنګه په کابل کې دملي امنیت ۴۰ نمبر ریاست. پدی لسوتوقیف ځایونوکې یوناما دبدچلند او شکنجې ۱۰۱ پیښې موندلی. ( ۴مه نقشه وګوری).

د یادو توقیف ځایونو څخه د اتو توقیف ځایونو توقیفیانو دشکنجې متودونه بیان کړی ، په شمول دپښو په تلو دکیبل یاهم لښتو پواسطه وهل شوي. دفاریاب ملي امنیت او د کندز په ملي امنیت کې توقیفیانو ویلی چې د تحقیق په دوران کې تهدید یاهم عملا برقي شاکونه ورکول شوي. یوناما موندلی چې دتخاراو ننګرهار ملي امنیت کې توقیفیان په جنسي تېري تهدید شوي. دپکتیکا په ملي امنیت کې داتو تنو توقیفیانو له جملي څخه شپږو تنو چې دشکنجې په هکله یې معتبره او د اطمنان وړ معلومات ورکړي وو ماشومان وو. دتخار ملي امنیت کې د۱۲ تنو توقیفیانو له جملي څخه چې شکنجه شوي وو ، دوه تنه یی ښځینه وې.

## ځلورمه نقشه: په لسو ولایتونو کې د ملی امنیت په مرکزونو کو کی مختلفی پیښې



**د ملي امنيت لخوا سيستماتيکه شکنجه**

| ولايت | دشکنجې میتود | دملي امنيت د توقيف ځای موقيعت | دتوقيف ځای مشر [دتوقيف ځای مشر نوم ددی څرګندونه يا وړانديز نه کوی چي نوموړی په توقيف ځای کې دشکنجی او بدچلند مرتکب دی] |
|---|---|---|---|
| کابل | کيبل او پايپ دپښنو په تلو وهل.<br>ځړول.<br>په برقي شاک تهديد. | ۱۲۴ رياست (شش درک ، نهمه حوزه ، کابل ) | جنرال محمد حليم |
| کندهار | په کيبل او پايپ سره دپښوپه تلو وهل.<br>برقي شاک.<br>اوږد وخت لپاره درول.<br>دردونکی حالت کي راوستل. | دکندهار ښار ولايتی مرکزی دفتر(دوهمه ناحيه ، تاج محل ودونوهال ترخنګ) | فيض محمد خان<br>دګروال حاجی عيسی محمد(دمقرری نيټه ۲۰۱۱کال اګست) |

**د ملي امنيت هغه لس ځايونه چي پکې د شکنجي کافی اندازه معتبرې او د اطمينان وړ پېښې ترلاسه شوي**

| ولايت | دشکنجې میتود | دملي امنيت د توقيف ځای موقعيت | دتوقيف ځای مشر [دتوقيف ځای مشر نوم ددی څرګندونه يا وړانديز نه کوی چي نوموړی په توقيف ځای کې دشکنجی او بدچلند مرتکب دي] |
|---|---|---|---|
| فارياب | کيبل سره وهل ؛<br>دبرقي شاک تهديد ؛ | دميمنه ولايتی مرکزی دفتر(پارک سرک ، دوالي دفتر ته مخامخ ، خلورمه ناحيه) | امين الله<br>جنرال فضل نبی حيدری (دمقرري نيټه ۲۰۱۱کال دسمبر) |
| هرات | دکيبل سره دپښوپه تلو وهل | دهرات ښار ولايتی مرکزی دفتر (هرات ښار ، قول اردو سرک ، د رياست تخنيک ترخنګ) | جنرال محمد صبور (د مقرری نيټه ۲۰۱۱کال اګست) |
| جوزجان | برقي شاک ،<br>وهل(په سوکانو ، څپېړو او لغتو) | د شبرغان ولايتي مرکزې دفتر(دکارته دوستم سيمه ، ۱سرک) | حشمت الله<br>محمد شريف |

| | | | |
|---|---|---|---|
| کابل | وهل ؛ دپښو په تلو وهل | ۴۰ ریاست (شش درک ، ۹ ناحیه ،کابل) | جنرال محمد طاهرمهمند (مقرری نیټه ۲۰۱۰ دستمبر) |
| خوست | وهل ، دپښو په تلو وهل | دخوست ولایتی مرکزي دفتر(دپروجز باغ ترځنګ ، چیرته چي دافغان ملي پولیسو چټک غبرګون قطعه موقیعت لري ؛ دحلقوی سرک جنوب ته دخوښت پوهنتون) | جنرال عبدالواسع احمدزی |
| کندز | کیبل سره وهل او برقي شاک | دکندز ملي امنیت ریاست(ولایت جاده ، د امنیت ملي کوڅه ، دوهمه ناحیه) | امین الله<br>جنرال انجنیر محمد مومن (دمقرری نیټه ۲۰۱۲ فبروری) |
| لغمان | په لښتو وهل | دمهترلام ملي امنیت ریاست(دوالی دفتر ترځنګ) | ولی محمد خان (دتحقیق مشر) روح الله<br>جنرال محمد قسیم (د ملي امنیت رئیس) د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جون) |
| ننګرهار | وهل ؛ د اوږد وخت لپاره درول ؛ او په جنسی تېري تهدید | د جلال اباد ملي امنیت ریاست(دکابل زړه هډه ، ۲ناحیه) | عبدالقوی خان (دتحقیق مشر مطیع الله)<br>جنرال ګل نبی دملي امنیت رئیس |
| پکتیکا | وهل ؛ کیبل سره وهل | د شرني ملي امنیت ریاست(دوالی دفتر ترځنګ) | جنرال محمد قسیم (مقرری نیټه ۲۰۱۲ مارچ) |
| تخار | دپښوپه تلو په کیبل وهل ؛ په جنسی تېري تهدید | د تالقانو د ملي امنیت ریاست (۴سرک تالقانو ښار | عبدالنجیب الله (د مقرری نیټه تقریباً دوه نیم کاله مخکي) |

## پنځمه نقشه: د ملی امنیت ریاست د توقیف په مرکزونو کې سیستماتیکه شکنجه او موثقې او معتبرې پیښې



## د افغان ملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا چلند

### د افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونوکې شکنجې او بد چلند

افغان ملي پولیس دهیواد په کچې دمنازعې اړوند نیولو او توقیفیانو د تحقیق په ګډون دقانون دتطبیق واک لري. د ۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ اکتوبر پورې ؛ یوناما ۲۸۶ تنو هغو توقیفیانو سره مرکې کړېکوم چې د۲۴ مختلفو ولایتونو ، دملي پولیسو۳۷ په توقیف ځایونوکې ساتل شوی وو[157]. ۶۱ تنه توقیفیان دملي پولیسو په دوه توقیف ځایونوکې په مختلفو وختونوکې ساتل شوی وو او ۲ تنه توقیفیان دملي پولیسو په دربو توقیف ځایونوکې په مختلفو وختونوکې ساتل شوی وو. په ټولیزه توګه ۳۴۷ بیلګې دملي پولیسو د توقیف ځایونو د نمونې په توګه اخیستل شوي.

د یوناما موندنې ښیی چې:

- دمرکه شوو توقیفیانو له شمیر څخه ۱۲۵ تنه توقیفیان (۴۳ سلنه) دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا شکنجه شوی وو.
- د شکنجې په هکله د ټولو کافی اندازه معتبرو او اطمناني پیښو۳۸ سلنه د هغو توقیف ځایونو څخه ده چې په کندهار کې موقیعت لري ؛ چیرته چې یوناما هم د سیستماتیکي شکنجې معتبره شواهد موندلي. د ملي پولیسو لخوا د شکنجې د لنډ نظر په موخه ۶۹م مخ کې ۷مه نقشه وګورئ.
- یوناما د ملي پولیسو پنځه ولایتی او لس ولسوالیو امنیه قوماندانیو کې د شکنجې معتبره او د اطمنان وړ پیښې مستندی کړي دي ؛ چې ولایتی قوماندانۍ یې عبارت دی له: پلخمری (بغلان)، هرات ، کندز ، تالقان (تخار)، او قلات (زابل) څخه ، همدرانګه د لسو ولسوالیو امینته قوماندانۍ عبارت دی له: لشکرګاه ولسوالی ، کلفغان ، خواجه غار(تخار)، چشت شریف ، پشتون زرغون ، شینډنډ ، ګلران (هرات) ولایت کې ، یوسف خیل (پکتیکا)، ګرم سیر ، نادعلی (هلمند). د ملي پولیسو ۱۵ توقیف ځایونه څلورو ولایتونو کې. یادو ۱۵ توقیف ځایونو کې ؛ یوناما د شکنجې او بد چلند ۵۳ قضیې مستندی کړي دي. د شکنجې موثقو راپورونو سره سره بیا هم یوناما ونشو کولاي د سیستماتیکو شکنجو د شتون په هکله پریکړه وکړي. یوناما په کافی اندازه معتبره او د اطمنان وړ پیښې موندلی مومې چې مستندی شوي ولی ډیرو تحقیقاتو ته اړتیا شته چې معلومه کړی ایا دا شکنجې سیستماتیکې دي که نه. د ملي پولیسو لخوا د شکنجې معتبره او د اطمنان وړ پیښو لیدو لپاره ۶۹م مخ کې ۷مه نقشه وګورئ.
- د شکنجې د ۱۲۵ مستندو شوو پیښو څخه ۴۵ (۳۶سلنه) د ماشومانو د شکنجو پیښې دي.
- دیوناما د ۲۰۱۱کال د اکتوبر د راپور په مقایسه دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا شکنجه او بدچلند کې کوم کمښت ندی راغلي بلکې ۸ سلنه زیادښت پکې لیدل شوي.[158]

---

[157] بدخشان ، بغلان ،بلخ ، بامیان ، دایکندی ، فراه ، فاریاب ، غور ، هلمند ، هرات ، جوزجان ، کابل ، کاپیسا ، کندهار ، خوست ، کنر ، کندز ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، پکتیا ، پروان ، تخار ، او زابل.

[158] دافغانستان توقیف ځایونوکې دمنازعې اړوند توقیفیانو سره چلند ؛ دیوناما ۲۰۱۱ کال اکتوبر راپور وګورئ. ۴۰-۴۳ مخونه چې د ۱۱۷ توقیفیانو سره مرکې شوي.

همدارنګه یوناما ګڼ شمیر داسی توقیفیانو سره مرکې کړي چې په لاندینیو ۱۵ ولایتونو کې د پولیسو په قوماندانیو کې توقیف یا ساتل شوي وو. دغه ولایتونه عبارت دي له: دبامیانو د امنیې قوامندانې ، بلخ ، فراه ، فاریاب ، غور ، جوزجان ، کابل ، کاپیسا ، کونړ ، خوست ، لغمان ، لوګر ، ننګرهار ، پکتیکا ،او پروان. د۱۱۸ مرکه شوو توقیفیانو څخه یوناما ۲۱تنه (۱۷سلنه) دشکنجې معتبرې او د اطمنان وړ پیښې موندلي.

## دشکنجې میتودونه

د ملي پولیسو لخوا د شکنجې اکثره راپور شوي میتودونه عبارت دي له: د پښو په تلو د وهلو څخه ، ورنونو ، ولو ، شاتخته او سینه باندی ؛ ځړول ؛ برقي شاک ؛ د اوږد وخت لپاره دریدوته مجبورول ، دردوونکي حالت ته مجبورول ، په مسلسله توګه کښیناستل او دریدل او په سړه هواکې د اوږد وخت لپاره دریدل ، او په جنسی تیري تهدیدول. همدارنګه توقیفیانو د حسي محرومیت لکه د اوږد وخت لپاره د سترګو تړل او یا پر سرباندي د کڅوړې اچولو راپورونه هم ورکړي دي.

لکه څرنګه چې مخکي وویل شو چې په دي راپورکې دشکنجي ضد نړیوال کنوانسیون کې د شکنجې تعریف څخه استفاده شوی[159]. د۲۰۱۱ کال د اکتوبر د راپور د لاسته راوړنو پربنسټ ؛ یوناما موندلي چې د توقیفیانوسره دنیول کیدو پرمهال یاهم په چک پوستونوکې بدچلند کیږي ؛ که څه هم داعمل دغیر انساني ، ظالمانه او په سپکوونکو اعمالو کې راتلي شې ولی دشکنجې ضد په نړیوال کنوانسیون کې دشکنجې تعریف لاندی نه شې راتلي. د۸۱ توقیفیانو څخه ۱۴ تنو ادعا کړې چې دنیول کیدو پرمهال یا هم چک پوست کې بدچلند یا شکنجه شوی ؛ ۲۹ توقیفیانو ویلي چې دولسوالیو د امنیې قواماندانیو کې ورسره بدچلند شوی او یا شکنجه شوي ؛ ۹ تنو ویلی چې په حوزه کې ، او ۳۸ تنو بیا ویلي چې د پولیسو په قوماندانی کې ورسره بدچلند او شکنجه شوي.

## د ملي پولیسو لخوا د اعتراف د تر لاسه کولو په موخه شکنجه

دشکنجي په ټولو مستندو شویو بېلګوکي له توقیفیانو څخه د اعتراف د ترلاسه کولو په موخه پولیس د بدچلند څخه کاراخستي. مانا داچې شکنجه او نور تخنیکونه د تحقیق په دوران کې کارول کیږی ترڅو توقیفی اعتراف کولوته مجبور کړي شي. معمولا توقیفیان د اوږد وخت لپاره وهل شوی ، که چیري توقیفي اعتراف نه کاوه نو نور تخنیکونه لکه ځړول ، د بدن په جنسی اعضاو باندی وهل ، برقي شاک ، او ځینو بیلګوکي په جنسی تېري باندی تهدید.

د۱۲۵ توقیفیانو څخه چې دشکنجه کیدو راپور یې ورکړي ، یوناما لیدلي چې ۷۰ تنو(۵۶ سلنه) توقیفیانو د تحقیق په بهیر کې په جرمونوباندي اعتراف کړي ؛ ترڅو د شکنجې څخه خلاصون ومومي ، ټولو توقیفیانو ویلي چې د اعتراف سره سم شکنجه درول شوي. دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا شکنجه د ۱۲۵ مستندو شوو دوسیوڅخه ۵۷ توقیفیانو پرهغو اسنادو باندی لاسلیک کړي یا ګوته لګولي چې د متن په هکله یې نه پوهیدل. یواځي ۷تنو توقیفیانو ویلي چې مخکي لدي چې ګوته ولګوي د اعتراف اسناد ورته لوستل شوی وو. دملي پولیسو په توقیف کې ټولومرکه شوو توقیفیانو څخه ۱۴ تنه لوستي کسان وو. دبېلګي

[159] دشکنجې ضد کنوانسیو لمړی ماده او دافغانستان توقیف ځایونوکې دمنازعی اړوند توقیفیانو سره چلند ؛ دیوناما او بشری حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالی کمیشنری ۲۰۱۱ کال راپور وګوری. ۱۶ ماده وائی: ټول غړی هیوادونه مکلف دي ترڅو خپلو فضائی حوزی کې وحشیانه کړنی ، غیر انسانی او تحقیر کوونکې کړني ، او هغه مجازات چې دیاد کنوانسیو لمړی ماده کې نشته او دغه کړني د دولتی مارمو په خوښه ، لارښونه ، او یاهر بل مقام لرونکي په لخوا ترسره کیږی ، مخنیوی وشی. دوهمه ګنه ضمیمه وګوری. دتطبیق وړ قوانین دشکنجی په وړاندی ملي او نړیوال مکلفیتونه.

په توګه ؛ په هرات کې دملي پولیسو لخوا دشکنجي په ۱۴ مستند شوو قضایاوکې ۹ تنه توقیفیانو ویلي چې مجبور کړې شوی ووچې په اسنادو باندی ګوته ولګوي چې د متن په هکله یې نه پوهیدل. کندز کې یوتن توقیفی دپولیسو لخوا اعتراف ته د اړایستو د لاندي روش بیان کړي چې ملي پولیس یې دټول هیواد په کچې په توقیف ځایونوکې کاروي:

*"زه یې دکندز امنیې قوماندانی ته بوتلم. دکندز د امنیې قوماندانی ۱۲ پولیسانو د شا په تخته په لغتو ووهلم. ما داتور چې ګوندی ما منفجره موادوته انفجار ورکړي رد کاوه. دکندزدتروریزم ضد مدیریت مشر... پولیس ته امر وکړ چې پایپ راوړي. پایپ تقریباً یومتر اوږد او ۱۵- ۱۰ انچ پوری نری و. زما لاسونه او پښې تړل شوی وو او راته ویې ویل چې پرځمکه پریوځم. زه یې په هغه پایپ باندی ووهلم. ... راته وویل چې اعتراف وکړه. بیا ... زما ورنونه په ابکرمی وسوځول. (یوناما دتوقیفی په ورنونو باندی دسوځیدنې تازه زخمونه ولیدل). زما لاسونه پورته تړل شوی وو. زما تناسلی اله (خصي) دوه ځله په ځپلیو ووهله. زه مجبور وم اعتراف وکړم ؛ ترڅو د شکنجې څخه خلاص شم. که چیري اعتراف مي نه وای کړی نو زما وهلو ته یې امدامه ورکوله. هغوی زما د اعتراف ویدیو ثبت کړه او بیا شکنجه ودرول شوه."*

**(توقیفی ۶۲۷ ، کندز امنیې قوماندانی ، ۲۰۱۲ اګست)**

همدارنګه یوشمیر توقیفیانو راپور ورکړي چې برسیره پردي چې دملي پولیسو افسرانو لخوا داعترافاخیستلو په موخه شکنجه شوي د مخالفینو په فعالیتونو کې د ګډون په تور دجزا په ډول ورسره هم بدچلند شوی.

## د ملي پولیسو لخوا د ماشومو توقیفیانو شکنجه

د ملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا دشکنجي ۱۲۵ معتبرې او د اطمنان وړ پیښې چې دیوناما لخوا مستندې شوي دي ، ۴۵تنه یې ماشومان وو چې دشکنجې پرمهال یې د۱۸ کلونو کم عمر درلود[160] . کندهار کې د سیستماتیکې شکنجي ۴۸ مستندو شوو پیښو څخه ۱۲ پیښې دماشومانو وې[161] . یو تن توقیفي یوناما ته ویلي چې هغه اوس اتلس کلن شوی[162] . له یادو ۱۲ تنو ماشومانو څخه ۳ تنو ویلي چې دتحقیق په دوران کې برقي شاکونه ورکول شوي وو. همداشان د خوست په ولایت کې ټولو مرکه شوو(۶ تنو) ماشومانو راپور ورکړي چې دشکنجي بندیدو په موخه یې اسنادو باندي ګوته لګولې.

یوناما د هلمند په ولایت کې دملي پولیسو لخوا دماشومانو د شکنجي معتبرې او د اطمنان وړ پیښې ترلاسه کړې. دلشکرګاه دماشومانو د اصلاح او روزنې په مرکز کې ۷ مرکه شویو ماشومانو څخه د ۵تنو په هکله یوناما معتبرې او د اطمنان وړ پیښې موندلې چې دملي پولیسو لخوا شکنجه شوي وو[163] . دوه ماشومان ۱۷ کلن وو[164] ، دوه تنه ۱۵ کلنوو[165] ، او یوتن ۱۴ کلن و[166] . د هرات په ولایت کې له درې توقیف شویو ماشومانو څخه یې دوه تنو دپښوپه تلو په توررنګې کیبل سره د وهل کیدو راپور ورکړي. د زابل په ولایت کې دوه توقیف شویو ماشومانو څخه یې یوتن دعینی ډول شکنجه کیدو راپور ورکړې. دبغلان ، فاریاب ،

---

[160] توقیفیان نمبر: ۶ ، ۲۰ ، ۴۰ ، ۴۱ ، ۴۲ ، ۴۶ ، ۷۶ ، ۹۱ ، ۹۲ ، ۱۳۶ ، ۱۶۵ ، ۲۲۱ ، ۲۳۰ ، ۲۷۱ ، ۲۸۲ ، ۲۸۹ ، ۳۰۶ ، ۳۱۰ ، ۳۱۱ ، ۳۱۲ ، ۳۱۳ ، ۳۱۴ ، ۳۱۵ ، ۳۱۹ ، ۳۲۰ ، ۳۳۰ ، ۳۲۱ ، ۳۲۲ ، ۳۵۰ ، ۳۷۴ ، ۳۸۰ ، ۳۸۱ ، ۳۸۲ ، ۳۸۳ ، ۳۸۴ ، ۳۸۵ ، ۴۵۶ ، ۴۵۷ ، ۴۷۷ ، ۴۹۹ ، ۵۰۵ ، ۵۳۲ ، ۵۵۷ ، ۶۵۴ ، او ۶۵۵.

[161] توقیفیان نمبر: ۲۰ ، ۲۲۱ ، ۲۷۱ ، ۳۱۰ ، ۳۱۲ ، ۳۱۳ ، ۳۱۴ ، ۳۱۵ ، ۳۱۹ ، ۳۲۰ ، ۳۲۱ ، او ۳۲۲.

[162] توقیفی نمبر: ۲۷۷

[163] توقیفیان نمبر: ۲۰ ، ۴۰ ، ۴۱ ، ۴۲ ، او ۴۶ . د ۲۰۱۱ کال اکتوبر څخه تر مارچ پوری شکنجه شوی وو.

[164] توقیفی نمبر: ۲۰ او ۴۰.

[165] توقیفینمبر: ۴۱ او ۴۲.

[166] توقیفی نمبر: ۴۶.

کاپیسا ، خوست ، او ننګرهار په ولایتونوکې دملي پولیسو لخوا ۸ تنه ماشومان توقیف شوي وو. یادحالت داښکاره کوي چې افغان ملي پولیس او سرحدي پولیس دماشومانو دمحافظت حق په هکله دافغانستان ملي او نړیوال مکلفیت ته درنادی نه کوي.

## تناسلي آلې باندې وهل

یوناما داسې شواهد موندلي چې ملي پولیسو توقیفیان دشکنجې په موخه سوځولي ، برق ته ورکړي ، تناسلی آلي یې تاوې کړي ، او خصیو(هګۍ) ته یې فشار ورکړي ، ترڅو توقیفانوته درد ورکړي او اعتراف ته مجبورشي. د یوناما د ۲۰۱۱ کال اکتوبر په راپورکې دملي امنیت لخوادیوشمیر توقیفیانو تناسلی آلي تاوې کړاې شوې وې. که څه هم هغه مهال یوناما ونشو کولای چې دملي پولیسو لخوا دیاد میتود کارونې شواهد ترلاسه کړي. اته (۸) تنو توقیفیانو دملي اردو لخوا دیاد بدچلند بیان کړي[167]. یوتن توقیفی وویل چې د پنجواي په ولسوالۍ کې دملي پولیسو قوماندان دهغه خصیې(خوټې) د ګاز په بالول باندې سوځولي دي. همدارنګه هغه راپور ورکړ چې دملي پولیسو یاد قوماندان یوسیخ اور کې کیښود او بیا مخکې لدې چې دتوقیفی په غوږ کې یې داخل کړي دهغه پښې ورباندی وسوځولي. توقیفی وویل چې دشکنجې په بهیر کې یې څوځلې هوش دلاسه ورکړي.

## د کندهار په ولایت کې د ملي پولیسو لخوا سیستماتیکه شکنجه

*" مانښام مهال بهرنیان دولسوالۍ څخه ولاړل او ملي پولیس راته راغلل. دوي زمالاسونه راته شاته وتړل ، زه یې پر ځمکه وغځولم او دري تنه پولیس زما پرشا کښیناستل ؛ یوتن زما پرپښو ، یوتن زما پرشا ، او یوتن زما پرسرکښیناست. دوي زما پښې سره جلا کړې... اوبیا یې چت کې وځړولم. کله چې دوي راکښته کړم نو دشپې ۴:۰۰ بجې وې. ماقدم نشو اخیستلی ، ولسوالۍ کې په څلورمه شپه دوي بیا راغلل او ویې وهلم. داخل یې راڅخه وغوښتل چې ګوته ولګوم ولې ما ونه لګوله. یو تن پولیس له شا څخه په سوک ووهلم ولې ما ونه منل. هغه ورقې چې غوښتل یې ګوته پرې ولګوم داسې پرې لیکل شوي وو چې؛ زه دتروریستي ګروپ غړي یم. دشاه ولی کوټ ولسوالۍ کې دڅلورو ورځو تیرولو څخه وروسته دکندهار امنیه قوماندانۍ ته انتقال شوم. دتروریزم ضد پولیسو پرما دطالب تورلګاو. کله چې ما دا تور رد کړ نو زه یې د ۲۰ دقیقو لپاره په کیبل ووهلم. مازیګر مهال یې زه بیا هغه دفتر ته یووړم او ویې وهلم. هغوي راته وویل چې ترهغې به وهلو ته ادامه ورکړي ترڅو ومنم چې طالب یم."*

**(توقیفی نمبر۴۹۲ ، دکندهار امنیې قوماندانۍ ، ۲۰۱۲ کال جولای)**

یوناما ، دکندهار ولایت کې ، دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا دشکنجې او ظالمانه ، غیرانساني ، او تحقیر وونکو اعمالو په سیستماتیکه توګه کاروني اړوند معتبر او د اطمنان وړ شواهد موندلی.

د یوناما د څیړنو نیتې داپه ډاګه کوي چې د کندهار ولایت کې دملي پولیسو لخوا دتوقیفیانو څخه اعتراف یا د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه بیرحمانه شکنجې ، ظالمانه ، غیرانسانی او سپکوونکي اعمال کارول هغه مهال زیات شول کله چې د ۲۰۱۱کال د می په میاشت کې د امنیې قوماندانی سرپرست وټاکل شو[168].

---

[167] توقیفیان نمبر:۱۴ ، ۲۴،۲۲۵ ، ۲۲۸ ، ۳۱۹ ، ۴۸۵ ، ۵۰۲ ، او ۶۲۷.

[168] دکندهار ولایت سرپرست قوماندان رسمی توګه د ۲۰۱۱کال جولای میاشت کې دامنیې قوماندان پتوګه وګمارل شو.

یوناما د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې ، دکندهار ولایت په ګېنو ولسوالیو کې دملي پولیسو لخوا دشکنجې او بدچلند مستند شواهد موندلی وو. یوناما موندلې چې د ۲۰۱۱کال د جنوری څخه تر اګست پورې اکثر مرکه شوي توقیفیان کندهار کې دسرپرست امنیه قوماندان ټاکل کیدو وروسته دشکنجې او بدچلند راپورونه ورکړي. یوناما یوتن توقیفی (۲۰۱۱مارچ) موندلی و ، چې دامنیه قوماندان د ټاکل کیدو څخه دمخه شکنجه شوی و.

یوناما د ۲۰۱۱ اکتوبر څخه تر ۲۰۱۲ سپټمبر پوریدکندهارولایت په ګېنوځایونوکې په شمول د: امنیه قوماندانۍ د توقیف ځای ، زندان (سرپوزه) ، دماشومانو د اصلاح اوتربیت مرکزکېدمنازعې اړوند ۶۳ توقیفیان مرکه کړل چې دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا توقیف شوی وو[169]. یوناما دیادو مرکو پایله کې دشکنجې ۴۸ معتبره او د اطمنان وړ پیښې مستندې کړي[170]. د۴۸ قضیو څخه ۶ قضایاو کې توقیفیانو ویلي چې دملي پولیسو د یوه څخه په زیاتو توقیف ځایونوکې شکنجه شوي[171]. ددې راپورونو د شکنجې ډولونه دیوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په راپور کې د شکنجو له ډولو نوسره یوشان وو.

یوناما ، په ګېنو ولسوالیو کې دملي پولیسو لخوا دشکنجې میتود په هکله د اعتبار وړ معلومات راټول کړي ، کوم چې دیوشمیر بیروني منابعو لخوا تاید شوي. کندهار کې دشکنجې میتودونه عبارت دي له: برقي شاک ، ځړول ، د اوږد وخت لپاره شاته د لاسونو ولچک پداسې ډول چې یولاس یې داوږې دپاسه او بل یې دشا یوځای ، په کنداغونو باندی وهل ، او دتناسلی آلې شکنجه. په کندهار کې دشکنجې اکثره راپور شوي ډولونه عبارت دي له: په سوکانو او څپېړو دتوقیفیانو وهل ، په لښتو ، برقي کیبل ، او پلاستکي پایپ او ربړ باندی دپښو په تلو ، ورنونو ، ولو ، شاتخته ، سینه ، سر او تناسلی آلی باندی وهل ؛ د اوږد وخت لپاره دتوقیفی درول ، برقي شاک ورکول ، دردوونکي حالتونه لکه(د اوږد وخت لپاره په زور درول ، په دوامداره توګه درول او کښېنول ، په دردونکي توګه دلاسونو ولچک. دبیلګې پتوګه یو توقیفی راپور ورکړی چې د۲۵ ورځو لپاره دچپرکټ پورې تړل شوی او په ازاده فضاکې سړې هواته د اوږدوخت لپاره درول شوی و). همدارنګه توقیفیانو دسترګو تړلو او پر سرباندي د کڅوړې اچول ، په جنسی بدچلند باندی تهدید ، په مرګ باندی دتوقیفی تهدید ، داوبو او ډوډۍ څخه منع کول ، او دتوقیفیانو دپښو مخی خواته کش کول.

څلویښت توقیفیانو ویلي چې دامنیه قوماندانۍ په توقیف ځای کې شکنجه شوي ، ۱۲ تنه دپولیسو په ۳ ، ۸ ، ۱۳ ، ۱۵ حوزې کې[172] ، ۷ تنه دپنجواي ولسوالۍ په چک پوستونوکې یاهم په هغو کرایې کورونوکې چې دملي پولیسو لخوا په کرایه نیول شوي ، دوه تنه دسپین بولدک ولسوالۍ کې او یوتن دکندهار- هرات د لوی لار په چک پوست کې شکنجه شوی[173]. برسیره پردې دوه توقیفیانو راپور ورکړی چې دملي پولیسو او سرحدي پولیسو مرستیال لخوا دکندهار ولایت د ودانۍ په داخل کې دسرحدي

[169] توقیفیان نمبر: ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۴، ۲۶، ۲۲۱، ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲۶، ۲۲۸، ۲۶۸، ۲۷۱، ۲۷۶، ۲۷۷، ۲۷۸، ۲۷۹، ۲۸۲، ۲۸۳، ۲۸۵، ۳۱۰، ۳۱۱، ۳۱۲، ۳۱۳، ۳۱۴، ۳۱۵، ۳۱۹، ۳۲۰، ۳۲۱، ۳۲۲، ۳۲۳، ۳۵۰، ۴۸۲، ۴۸۳، ۴۸۵، ۴۸۶، ۴۸۷، ۴۸۸، ۴۸۹، ۴۹۰، ۴۹۱، ۴۹۲، ۴۹۳، ۴۹۵، ۴۹۶، ۴۹۷، ۴۹۹، ۵۰۰، ۵۰۱، ۵۰۲، ۵۰۳، ۵۰۴، ۵۰۵، ۵۰۶، ۵۰۷، ۵۰۸، ۵۰۹، ۵۱۰ او ۶۵۱.

[170] توقیفیان نمبر: ۸، ۱۰، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۴، ۲۶، ۲۲۱، ۲۲۵، ۲۲۸، ۲۶۸، ۲۷۱، ۲۷۶، ۲۷۷، ۲۷۹، ۲۸۲، ۲۸۵، ۳۱۰، ۳۱۱، ۳۱۲، ۳۱۳، ۳۱۴، ۳۱۵، ۳۱۹، ۳۲۰، ۳۲۱، ۳۲۲، ۴۸۲، ۴۸۳، ۴۸۵، ۴۸۶، ۴۸۷، ۴۸۸، ۴۸۹، ۴۹۰، ۴۹۲، ۴۹۳، ۴۹۵، ۴۹۶، ۴۹۷، ۴۹۹، ۵۰۲، ۵۰۵، ۵۰۶، ۵۰۷، ۵۰۸ او ۵۰۹.

[171] توقیفیان نمبر: ۲۷۱ ، ۳۱۰ ، ۳۱۵ ، ۴۸۳ ، ۴۸۷ ، او ۴۹۵ .

[172] د حوزې کلمهد ښار د یوې برخی لپاره کارول کیږی. په هره حوزه کی د پولیسو یو قرارګاه موقعیت لری چی د پولیسو د حوزی په نامه یادیږی. د شکنجې راپور د لاندنیو توقیفیانو له خوا ورکړ شوی دی: توقیفی نمبر: 10 ، 24 ، 26 ، 271 ، 276 ، 277 ، 279 ، 312 ، 314 ، 315 ، 482 او 488.

[173] توقیفی نمبر: ۲۰ په اند دچک پوست نوم ګوفند و ولی مطمئین نه و.

پولیسو په توقیف ځای کې توقیف او شکنجه شوی[174]. سره لدې دوه توقیفیانو په دوهمه ناحیه کې د شکنجې راپور ورکړی[175]، یوتن توقیفی په نهمه حوزه کې دپولیسولخوا د شکنجې ادعا کړی[176] او یوتن توقیفی دارغنداب ولسوالۍ د پولیسو په قوماندانۍ کې[177] دشکنجه کیدو راپور ورکړی.

ټولو توقیفیانو ویلي چې دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا دمعلوماتو او یاهم اعترافاخیستلو په موخه شکنجه شوي. د۴۸ تنو څخه چې په کندهار کې دملي پولیسو او سرحدي پولیسو لخوا شکنجه شوی وو، ۲۲ تنو اعتراف کړی. دیوناما لخوا دټول هیواد په کچې مستندو شویو نمونوڅخه ډیرپیه متن د پوهیدلو پغیر پر اسنادو ګوتې لګولي. یوناما موندلې چې په منځنۍ کچې نسبت دافغانستان نورو سیمو ته په کندهار کې توقیفیان د اوږدې مودې لپاره دملي پولیسو په توقیف کې ساتل کیږي. توقیفیان ۱۱ ورځېپه توقیف کې ساتل شوي وو( نسبت د۲۰۱۱ کال د اکتوبرپه راپور کې د یوناما د موندنو منځنۍ کچې اوه ورځې وه).

## وهل

*"زه دپنجوای ولسوالۍ د پولیسو په قوماندانۍ کې نهه ورځې وم. دملي پولسیو اوه یا اته تنه راتلل او پرمایې یخې اوبه اچولې مخکې لدې چې په کیبل می ووهي. شاید دیو یا یونیم ساعت لپاره وهلو دوام درلود. دا په پنځه مختلفو وختونوکې پیښ شول کله چې دپنجوای ولسوالۍ د پولیسو قوماندانۍ کې وم... زه درې یا څلور ځله مجبور کړای شوم چې پر اسنادو ګوته ولګوم پداسې حال کې چې زه نه پوهیدم څه لیکل شوی وو."*
**(توقیفی ۵۰۵، دپنجوای ولسوالۍ ملي پولیسو قوماندانۍ، کندهار، ۲۰۱۲ اګست)**

په کندهار کې، ۳۶ تنو د ۴۸ توقیفیانو له جملې څخه چې دملي پولیسو لخوا د شکنجه کیدو بیان کړی؛ په ربړ او لاسی ډندو، لښتو، اوبرقي کیبل باندی د وهل کیدو راپور ورکړی او ځینو دټوپک په کنداغ باندی د وهل کیدو راپور ورکړی. دا راپور دیوناما د تیر راپور د نمونو سره یوشان و. دولس تنو لدی توقیفیانو ویلی چې ملي پولیسو حداقل یومتر اوږد برقي کیبل د اعتراف او معلوماتو ترلاسه کولو په موخه کارولو[178]. توقیفیان دپښو په تلو، شاتخته، کوناټو، ولو، ورنونو، او سرباندی وهل شوي دي. حداقل لس دقیقې وهل شوی ترڅو توقیفی بیهوشه شوی. ډیر وخت وهل په شپه کې ترسره شوي. ټولو قضایاوکې کله چې توقیفی اعتراف کړي وهل دریدلې دي. یوتوقیفی چې دکندهار ۸د ناحیې د پولیسو توقیف کې و خپل وهل یې داسی بیان کړی:

## برقي شاک

*"زه دروژې دمیاشتې څخه لس ورځې دمخه دطالبانو سره دتړاو په تور د میوند په ولسوالۍ کې ونیول شوم. زه یې دمیوند لسوالۍ امنیه قوماندانۍ ته انتقال کړم. زه یې دتحقیق کوټه ته یوړم او لاسونه یې راته شاته داسې تړلي وو چې سرمې دپښو منځ کې و. ما اعتراف نه کاوه. ماته پړلاسونو، پښو، او شاتخته باندې برقي شاکونه راکړل [یوناما د توقیفي په لاسونو دبرقي شاکونو داغونه ولیدل]. زما دتوقیف په څلورمه ورځ یې دولایت امنیې قوماندانۍ ته واستولم. هلته درسیدلو په لمړۍ ورځ زما څخه تحقیق وشو او تهدید یې کړم که چیرې اعترافونه کړم نوبرقي شاکونه به راکړي. دوهمه ورځ د درې تنو پولیسانو لخوا دپایپ پواسطه*

---

[174] توقیفیان نمبر: ۳۱۹او ۳۲۱.
[175] توقیفیان نمبر: ۴۹۷ او ۴۹۹.
[176] توقیفی نمبر: ۵۰۲
[177] توقیفی نمبر: ۵۰۵
[178] توقیفیان نمبر: ۱۰، ۱۸، ۲۱، ۲۴، ۲۶، ۲۲۱، ۲۷۱، ۳۱۲، ۳۱۹، ۳۲۱، ۴۴۰ او ۵۷۳.

*دپښتوپه تلو ووهل شوم. دریمه ورځ ؛ زه مجبور شوم دشکنجې دریدو په موخه اعتراف وکړ. راتلونکې ورځ د ملي امنیت ریاست ته واستول شوم."*

**(توقیفی ۴۸۳ ، دکندهار امنیه قوماندانۍ او د میوند د ولسوالۍ امنیه قوماندانی ، ۲۰۱۲ کال جولای)**

په کندهار کې توقیفیان ، چې د امنیه قواندانۍ او د تروریزم ضد مدیریت کې ساتل کیږی ؛ دبرقي شاکونو خبر ورکړی. یوناما په کندهار کې دشکنجې ۴۸ مستندو شووقضایاوو کې ۱۵ تنو توقیفیانو دبرقي شاک ورکولو ادعاوی کړیدي[179] ؛ د۱۵ توقیفیانو څخه ۶ تنه یې ماشومان وو ؛ دټولو ماشومانو نیمایید شکنجه کیدو راپور ورکړی. ۹ توقیفیانو یوشان راپور ورکړی چې دتحقیق په دوران کې دملي پولیسو یوافسر د تحقیق کوټې ته تقریبا دموبایل په اندازه یوه تور رنګې شانی وسیله راوړله. دا وسیله غوږونو ، خصیو ، سر ، د پښوګوتو ، پښو ، وریځو ، غاړې ، او شا باندې برق ورکولو ته کارول کیده.

د۱۵ څخه ۷تنو توقیفیانو[180] ؛ چې په کندهار کې په مختلفو وختونو او ځایونوکې توقیف شوي وو ؛ یوشاني راپور ورکړي چې دتحقیق پرمهال دوړکي توررنګی موبایل په څېر وسیلې په کارولو ؛ برقي شاکونه ورکړل شوي وو. د یوناما د مشاهدو څخه معلومه شوی چې د توقیفیاون لخوابیان شوې وسیله ((ټیسر)) اوسي ؛ چې دوسیلی کارونه یې په لاندې ډول بیان کړې:

*"کله چې ما دچاودیدونکو موادو ځای پرځای کولو څخه انکاروکړ ؛ تحقیق کوونکي یو توررنګې وسیله راسره ولګوله او سرې بټنې ته یې فشاروکړ. کله چې وسیله زما پربدنولګیدله برقي ټکان یې راکاوه. هغه پنځه ځله نوکوری ماشین زما پربدن کینښود. کله به چې ماشین زما بدن سره ولګیده نو سخت برقي ټکان به یې راکاوه."*

**(توقیفي ۲۷۱ ، کندهار امنیه قوماندانی ، ۲۰۱۲ مارچ)**

همدارنګه توقیفیانو یه کندهار کې دخپلو تناسلی آلو باندی د برق ورکولو خبرورکړی. یوتن توقیفی دشکنجی دا نمونه په لاندی ډول بیان کړه چې د نورو راپورونو سره یوشان ده.

*"وروسته له وهلو ؛ یو له هغوی (دری پولیسو) څخه رانژدی شو او زه یې پرزمکه وغورځولم. یوله هغوي څخه زما پرتوګ راښکته کړ. وروسته له دې یوتن یې زما لاسونه ، بل یې زما پښې او دریم یې زما خصیې ونیولې او تقریبا دزمکې څخه یې یومتر اوچت کړم او بیرته یې راوغورځولم. زه پرزمکه ولویدم. دا ډیر دردوونکی حالت و. زما خصیې وینی شوې... وروسته له دی ، دوي په شاباندی وغوځولم. دوه تنه د خپلو بوټانو سره زما پربدن وګرځیدل. دوي زما په خیټه او سینه باندی ټوپونه وهل. داډیر دردوونکي و ؛ او ما نفس نشو اخستلی. څه وخت وروسته ؛ هغوي د برق لین راوړ او زما دپښو دوهمو ګوتو سره یې ولګول او برقي ټکانونه یې راکړل. دوی زما دپښو هرې دوهمې ګوتې ته دوه ځله د برق ټکانونه ورکړ او دوه ځله یې زما خصیو ته د برق ټکان ورکړ. دخصیو برقي شاک رښتیا چې ډیر سخت و. ماډیر فریاد کاوه. زما خصیو لس ورځو پوری درد درلود. څو ورځو پوری زما بولو (ادرار) کې وینه راتله."*

**(توقیفی ۲۲۸ ، کندهار امنیه قوماندانۍ ، ۲۰۱۱ اکتوبر)**

همدارنګه یوناما د هرات ، بغلان ، او پکتیکا ولایتونوکې دبرقي شاکونو له لارې شکنجې ؛ په کافي اندازه د معتبرو او د اطمنان وړ د شکنجو قضیې ترلاسه کړې.

[179] توقیفیان نمبر: ۸ ، ۱۰ ، ۲۴ ، ۲۲۱ ، ۲۲۵ ، ۲۲۸ ، ۲۶۸ ، ۲۷۱ ، ۲۷۹ ، ۳۱۰ ، ۳۱۴ ، ۳۱۵ ، ۳۲۱ ، ۴۸۳ ، او ۵۰۹

[180] توقیفیان نمبر: ۸ ، ۲۴ ، ۲۲۱ ، ۲۶۸ ، ۲۷۱ ، ۲۷۹ ، او ۳۱۰.

## ځړول

توقیفیانو یوشاني د اوږد وخت لپاره د ځړولو راپور ورکړی. دا عمل د کندهار په ملي پولیسو کې دشکنجې د معمول ډول په توګه مستند شوی ؛ په ځانګړی توګه دولایت مقام ودانۍ ، دپنجوای ولسوالۍ د پولیسو توقیف ځای ، په ۸ ، ۱۳ ، او ۱۵ حوزوکې او د سپین بولدک ولسوالۍ ته نږدې دسرحدي پولیسو چک پوسټ. دولسو توقیفیانو دځړول کیدو په ډول د شکنجې راپور ورکړی[181]. یوناما موندلې چې کندهار کې توقیفیان د توقیف په لمړیو کې ځړول شوي. د۱۲ توقیفیانو څخه یې څلورتنه په دیوال کې د فلزي پنجرو پوري پداسی حال کې ځړول شوی وو چې لاسونه یې شاته ولچک وو. دوه تنو چې دپښو څخه په چت کې ځړول شوی وو چې ډیر دردونکی و ؛ چې حداقل دلسو دقیقو لپاره پدې دردونکي حالت کې ساتل شوي وو. درې تنو توقیفیانو راپور ورکړي چې څو د ساعتونو لپاره په ونه کې ځړول شوي وو ؛ دوه تنه یې دتوت په هغې ونه کې چې د۱۳ حوزی څخه بهر د۱۵ حوزی چک پوست ته نږدی ولاړه ده ځړول شوي وو. همدارنګه دوه تنه توقیفیانو راپور ورکړی چې پولیسو وزنونه کارولي ترڅو دتوقیفیانو بدن کش کړی. یوتن توقیفی ویلي چې یوې فلزي پنچرې پوري دلاسونو څخه ولچک او د خیټې پوري یې دموټر بټرۍ ترل شوې وه. بل توقیفی ویلي چې پداسی حال کې له لاسونو او پښو څخه په چت کې ځړول شوي و چې پر نس ې وزن ایښودل شوی و. اکثرو یادو قضایاوکې توقیفیان دملي پولیسو لخوا په سوکانووهل شوي.

یوناما موندلي چې دشکنجې دامیتود (ځړول) په ځانګړی توګه د کندهار په ملي پولیسو کي ښکاری.

### په کندهار کې د تحقیق لپاره د غیر رسمي ځایونو کارول

یوناما شواهد موندلي چې دکندهار د ولایت مقام د ودانۍ په یو اطاق کې دسرحدي پولیسو لخوا د ځان وژونکي برید یو مظنون توقیف او تحقیق شوی. دوه ماشومو توقیفیانو راپور ورکړی چې یه جنوبی حوزه کې دسرحدي پولیسو مرستیال دیاد اطاق مسؤلیت لري[182]. توقیفیانو ویلي چې د سرحدي پولیسو مرستیال په نوموړي ځای کې تحقیق لو نظارت کاوه او امر یې کاوه چې توقیفیان د اعتراف کولو په موخه شکنجه کړی.

توقیفیانو د برقي  شاکونو ، په چت کې د ځړولو ، په برقي  کیبل سره د وهلو ، په ورنونو او پښو باندي د غاښ لګولو ، یه لغتو وهلو ، سوکانو ، په وژلو د تهدید ، او دخصیو کیکاږلو په شمول دشکنجې اعمالو په هکله معلومات وړاندی کړل. توقیفیانو ویلي مخکي لدي چې د کندهار امنیه قوماندانۍ ته واستول شي ؛ ۱۸ ورځي په بوی ناکه کوټه کې چې ممکن بیت الخلا ته نږدی پرته وه له روښنائۍ او تشناب ته دتلو د اجازې ساتل شوي وو.

### په کندهار کې د لادرکی ادعاګانې

د ۲۰۱۱ کال سپتمبر څخه تر ۲۰۱۲ کال اکتوبر پوري ؛ یوناما دهغو خلکو د لادرکه کیدو ادعا ګانې[183] ترلاسه کړي چې دکندهار د ملي پولیسو لخوا توقیف شوی وو.یوناما ؛ د مدافع وکیلانو ، حقوقي خدماتو وړاندی کوونکو ، دجزایې  عدالت نظام د منابعو په ګډون نورو معتبرو منابعو څخه معلومات ترلاسه کړي چي ملي پولیسو ډیري خلک نیولي او توقیف کړی ؛ دچاچې بیا ځای ندی

[181] توقیفیان نمبر: ۲۱ ، ۲۴ ، ۲۶ ، ۲۷۱ ، ۳۱۰ ، ۳۱۲ ، ۳۱۵ ، ۳۱۹ ، ۳۲۱ ، ۴۸۸ ، ۴۸۹ ، او ۵۰۸.

[182] نوقییفی نمبر: ۳۱۹ او ۳۲۱.

[183] دجبری ډول لادرک کیدو څخه دمخنیوی نړیوال کنیوانسیون تعریف ؛ جبری لادرک کیدل ؛ د ۲ مادی پربنسټ:

معلوم شوی. ګڼو منابعو یوناما سره هغه اندیښنې شریکې کړې دي چې دنیونی وروسته توقیفیان دپولیسو په توقیف کې وژل شوی.

ددي راپور د لیکلو تروخته ؛ په کندهار کې دلادرکې ۸۱ شکایتونه رسیدلي[184]. د ټولو شکایتونو دوسیې پرانستل شوي ولې د عدلی او قضایې منابعو او د قانون پلي کوونکو مسؤلینو تردي وخته هیڅ لادرکه شوی شخص ندی تشخیص کړی. یوناما خبره کړی شوې چې که څه هم دتوقیفیانو د نیول کیدو نیټه شتهخو دانتقال په هکله یې څه معلومات نشته.

همدارنګه یوناما ګڼ شمیر راپورونه ترلاسه کړی ؛ چې د پولیسو لخوا د کندهار په ښارکې ډیر شمیر نامعلومو خلکو مړي پیداشوی چې یوشان په سینه او سر باندی په ډزو ویشتل شوی وو[185]. برسیره پردي ؛ د۲۰۱۱ کال د اپریل او اګست ترمنځ او ۲۰۱۲ کال د اپریل او می ترمنځ دملګرو ملتونو دامنیت او مصؤنیت اداری دملي پولیسو لخوا معلومات ترلاسه کړي چې دغه ډول پنځه قضیېې مستندي کړې (دري یې په ۲۰۱۲ کال کې راپور شوی) څلور تنو دټوپک د ډزو ټپونه درلودل ، یوتن یې دبرچې زخم درلود پداسی حال کې چې د یو جسد لاسونه ولچک وو[186]. یوناما ددولتي چارواکو لخوا دلادرکه شوو ادعا ګانو بررسی کوې.

## د ملي پولیسو په ۱۵ توقیف ځایونوکې د شکنجې په اړوند معتبرې او د اطمنان وړ پېښې

یوناما دټول افغانستان په کچې د ۷ ولایتونو د ملي پولیسو په ۱۵ توقیف ځایونوکې په کافی اندازه معتبرې او د اطمنان وړ د شکنجې پیښې مستندې کړیدي ؛ داتوقیف ځایونه په : پلخمری (بغلان)، د هرات په ښار کې ، د کندزپه ښار کې ، په تالقانو(تخار) کې اود قلات (زابل) په ولایتونوکې موقیعت لریاو همدارنګه د څلورو ولایتونو په لسو ولسوالیو کې د پولیسو پهتوقیف ځایونوکې د اطمنان وړ د شکنجې پیښې مستندې کړیدي چې عبارت دي په تخار کې له اشکامش ، کلفغان ، او د خواجه غار ولسوالۍ ،په هرات کښد چشتی شریف ، پشتون زرغون ، شینډنډ ، او ګلران ولسوالۍ ، په پکتیکا کښد یوسف خیلو ولسوالې د او دهلمند په ولایت کې د ګرمسیر او نادعلی ولسوالۍ.په ټول هیواد کې په ټولیزه توګه د اوه ولایتونو په ۱۵ . پدغو ۱۵توقیف ځایونوکې یوناما دبدچلند او شکنجې ۵۳ پیښې مستندې کړیدي. دیادو پیښو د څغلند لیدلپاره ۶ مه نقشه وګورئ.

په پنځو ولایتونوکې توقیفیانو دشکنجی میتودونه بیان کړی ؛ چې دپښوپه تلو په کیبل او لښتو سره وهل شوي. همدارنګه په هرات کې توقیفیانو دټوپک په کنداغ باندی د وهل کیدو خبر ورکړی. په کندز کې د توقیفیانو خصیې تاوی کړاي شوي دي. په هلمند او پکتیا کې دشکنجی ټول معتبر او د اطمنان وړ پیښې دماشومانو په اړوند راپور شوی دي.

[184] یوناما د ۲۰۱۲کال دمی په ۲۷ نیټه دجزائی عدالت له مسؤولینوسره ولیدل. همدارنګه نورو ادارو هم یوناما ته ویلی چې د ۲۰۱۱ کال سپتمبر څخه تر ۲۰۱۲ کال جون پوری دلارکه شوو قربانیانو کورنیو لخوا ئی ۲۰ شکایتونه ترلاسه کړي.

[185] یوناما د۲۰۱۲ کال ۲۴ نیټه د دکندهار ولایت دولتی چارواکوسره لیدنه.

[186] دملګرو ملتونو دامنیت او مصؤنیت راپور د ۲۰۱۱ کال اپریل ۱۷ او ۱۸ نیټه ، د۲۰۱۲ کال اپریل ۲ او ۱۶. برسیره پردی د یوناما نظارت ښودلی چې په اخرنیو شپږو میاشتوکې میرویس روغتون ته (کندهار سمیېز روغتون) ۱۳ جسدونه رسیدلی چې په اغلب ګمان دکندهار ښار چارچاپیر دپولیسو لخوا موندل شوی.

## ښېړمه نقشه: په اوو ولایتونو کی د افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کی مختلفې پیښې

MULTIPLE INCIDENTS OF TORTURE BY ANP IN SEVEN PROVINCES



**د افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې سیستماتیکه شکنجه**

| ولایت | دشکنجې میتود | دافغان ملي پولیسو توقیف ځای | د امنیې قوماندان/ یا دتوقیف ځای مشر [دتوقیف ځای مشر نوم ددی څرګندونه یا وړاندیز نه کوی چینوموړی په توقیف ځای کې دشکنجی او بدچلند مرتکب دي] |
|---|---|---|---|
| کندهار | دپښو په تلو باندي په کیبل وهل ؛ برقي شاک ؛ دردونکی حالت ؛ د اوږد وخت لپاره درول | دامنیه قوماندنۍ (لمړی ناحیه ، کابل شاه سیمه) | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جولای میاشت)[187] نقیب الله (دامنیې قوامندانی د توقیف ځای مشر) |
| کندهار | دپښوپه تلو باندي په کیبل وهل ؛ | دکندهار ښار دریمه حوزه(بچې خان کالوني سیمه) | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جولای میاشت) حاجی نعمت الله(د حوزې امر) |
| کندهار | ځړول | دکندهار ښار ۸ مه حوزه(صوفی صاحب شرین سیمه) | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جولای میاشت) محب الله (د حوزې امر) |
| کندهار | ځړول | د کندهار ښار ۱۳ مه حوزه(چارباغ ، غازی باغوندۍ سیمه ۸مه ناحیه) | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جولای میاشت) میرویس(امر دحوزی) |
| کندهار | ځړول | کندهار ښار ۱۵ مه حوزه ،(شین کاریز ملاجات ۲ ناحیه) | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه ۲۰۱۱ جولای میاشت) علی احمد د ولسوالۍ قوماندان |
| کندهار | دپښوپه تلو باندي په کیبل وهل ؛ | د پنجواي د ولسوالۍ قوماندانې(د پنجوائ | دامنیې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نیټه |

[187] جنرال عبدالرازق د۲۰۱۱کال می میاشت کې دامنیه قوماندانۍ سرپرست په توګه وټاکل شو. د۲۰۱۱کال جولای میاشت کې دجمهور رئیس حامد کرزی لخوا رسما وټاکل شو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ځړول | ولسوالۍ مرکز) | ۲۰۱۱ جولای میاشت) عبیدالله (د ولسوالۍ د امنېې قوماندان) |
| کندهار | دپښوپه تلو باندي په کیبل وهل ؛ ځړول | سپین بولدک ، د سرحدي پولیسو چک بوسټ ، (سرحدي بلدنګ ، د سپین بولدک ښار) جانان کاکوزی (د پولیسو قوماندان) | دامنېې قوماندان جنرال عبدالرازق(د مقرری نېټه ۲۰۱۱ جولای میاشت) |

**دافغان ملي پولیسو ۱۵ توقیف ځایونوکې دشکنجي معتبره او اطمینان وړ پیښې**

| ولایت | د شکنجی میتود | دملي پولیسو توقیف ځای | دامنیه قوماندان/ یا دتوقیف ځای مشر<br>[دتوقیف ځای مشر نوم ددی څرګندونه یا وړاندیز نه کوی چې نوموړی په توقیف ځای کې دشکنجی او بدچلند مرتکب دي] |
|---|---|---|---|
| بغلان | په کیبل او لښتوسره دپښو په تلووهل | پلخمری امنیه قوماندانی(دولایت سرک ، ۱ ناحیه) | امنیه قوماندان جنرال اسدالله شیرزاد (د مقرری نیټه ۲۰۱۱ سپتمبر)<br>ګلستان (د پولیسو قوماندان) |
| هلمند | په کیبل او لښتو باندی دپښو په تلووهل | ګرمسیر ولسوالۍ امنیه قومانداني (حضرجفت سیمه کې د امنیه قوماندانۍ) | ابوعمر (د مقرری نیټه ۲۰۱۲ نومبر) |
| هلمند | کیبل او لښتو باندی وهل | نادعلي ولسوالۍ امنیه قوماندانۍ (لوی باغ سیمه) | عمر جان حقمل (د مقرری نیته ۲۰۱۲ کال نومبر) |
| هرات | کنداغ باندی وهل | هرات امنیه قوماندانۍ(د | د امنیه قوماندان جنرال |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | قوماندانی سرک ، دهرات آبی مسجد شرقی دروازی ته مخامخ) | عبدالغفار سیدزاده(د مقرری نیټه ۲۰۱۲ کال اګست) |
| هرات | کنداغ باندی وهل | چشت شریف ولسوالی | ابوبکر دامنیه قوماندانی سرپرست |
| هرات | کنداغ باندي وهل ؛ وهل | پشتون زرغون ولسوالی | پاینده ګل |
| هرات | کنداغ باندی وهل ؛ وهل | شینډنډ ولسوالی | غلام سخی حسینی |
| هرات | کنداغ باندی وهل ؛ وهل | ګلران ولسوالی (دولسوالی امنیه قوماندانی په داخل کې) | عبدالقادر |
| کندز | په لښتو باندي دپښوپه تلو وهل ؛ دخصیو تاوول | کندز امنیه قوماندانی (دقوماندانی په داخل کې) | خلیل اندرابی (د مقرری نیټه ۲۰۱۲ کال نومبر) |
| پکتیکا | کیبل سره دپښو په تلو وهل | یوسف خیل ولسوالی | نعیم جان |
| تخار | په لښتو وهل | د تالقانو امینه قوماندانی | امنیه قوماندان جنرال خیرمحمد تیمور نورالله(دتوقیف ځای امر) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| تخار | په لښتو وهل | اشکمش ولسوالۍ (د ولسوالۍ په امنیه قوماندانۍ کې) | پیر سیدیعقوب (د امنیه قوامندانۍ سرپرست) |
| تخار | په لښتو وهل | کلفغان ولسوالۍ (امنیه قوماندانۍ مرکز) | قاری نعیم |
| تخار | په لښتو وهل | خواجه غار ولسوالۍ | حاجي عبدالله |
| زابل | په کیبل دیښو په تلو وهل | قلات (لمړۍ ناحیه ، د لمړۍ حوزې ترځنک ، د هواپیژندني ودانۍ) | کپتان فضل احمد شیرزاد(د امنیې قوماندان) |

## اوومه نقشه: د ملي پولیسو په نظارتخانو کې سیستماتیک او د اعتبار وړ او مستندې شوې پیښې




ا

## د افغان ملي اردو چلند

*"دافغان ملي اردو یوتن دملي اردو... مرکز کې ؛ زما لاسونه وتړل اودکوټې چت کې ئې وځړولم. دملي اردو ښوتنه راغلل او راته یې وویل چې ته د ګرانی په کلي کې ددولت ضد عناصرو ملاتړ کوې ؛ کله چې ما له دوی څخه وپوښتل چې څرنګه زه د دوی ملاتړ کولای شم؟ دملي اردو درې تنه سرتېرې راغلل ؛ چې دیوتن په لاس کې پلاستیکي پایپ و او زما په وهلو یې پیل وکړ."*

**(توقیفی نمبر۵۸۶ ، شیوان کې دملي اردو مرکز ، بالابلوک ، فراه ، ۲۰۱۲جولای)**

یوناما ؛ ۳۴ تنو توقیفیانوسره مرکې کړي ؛ چې ملي پولیسو یا ملي امنیت ته دانتقال څخه وړاندي دملي اردو لخوا توقیف کړاي شوي وو. درې تنه توقیفیان په مختلفو وختونوکې دملي اردو په دوه توقیف ځایونوکې ساتل شوی وو ، یوناما د ملي اردو لخوا دشکنجې او بدچلند ۱۳ تایېد شوی قضیې موندلي[188]. دافغانستان په ۷ ولایتونوکې دشکنجی او بدچلند راپورونه موندل شوی.

د۱۳ توقیفیانو څخه چې دشکنجی او بدچلند راپور یې ورکړی ؛ ۹تنه ئې دافغانستان په لودیزوولایتونوکې وو(پنځه قضیې په فراه کې ، دوه په هرات کې ، او دوه په بادغیس کې). هغه نورولایتونه چې مرکه شوو توقیفیانو پکښې د شکنجې یا بدچلند راپور ورکړی عبارت دي له: کابل ، کاپیسا ، کندهار ، او لغمان څخه. دشکنجو هغه میتودونه چې راپورشوي عبارت دي له: په متداوم او تکراري توګه وهل ، په کیبل او په پایپ وهل ، ځړول او برقي شاکونه ورکول. دشکنجې ټولو څخه اخرنۍ معتبره او د اطمنان وړ قضیه د ۲۰۱۲ م کال په سپتمبر کې راپور شوی.

### د ملي اردو د داخلي احتساب میکانیزم (جوړښت)

دملي اردو افسرانو لپاره دحساب ورکونې داخلي میکانیزم دنظامي محاکمو د اجرااتو د قانون لخوا تنظیمیږي[189]. دملي اردو د افرادو لخوا دصلاحیت هرډول سؤاستفاده په شمول د شکنجې او بدچلند ؛ دیاد قانون په ۳۹ مه ماده راغلي دي. دتوقیفیانو لخوا دشکنجی او د بدچلند هرډول ادعا باید دملي دفاعد حقوقو ریاست ته واستول شي ؛ ترڅو اړوند قاضي دتوقیفیانو ادعا ارزیابي کړی. که چېري ادعا ثابته شي نو دوسیه نظامي څارنوالۍ ته د عدلي تعقیب او مظنون افسر د محاکمې په موخه استول کیږي. دملي اردو لخوا توقیفي یواځی د ۷۲ ساعتونو لپاره پرته له ارتباط توقیف کیدي شي. له همدی کبله ، توقیفی یواځی هغه وخت خپل شکایت درج کولې شي کله چې ملي پولیسو یا ملي امنیت ته انتقال شي (هغه توقیفی چې پدي وپوهیږي چې څرنګه او چاته شکایت وکړی).. دملي اردو کارکوونکو ته دهیواد په ۸ زونونوکې ؛ په هرزون کې یوه ابتدائیه محکمه او توقیف ځای شتون لري. نظامي استناف او تمیز محاکم کابل کې موقیعت لري.

هغه قضایاوي چې په کښد نوموړیاحتساب ورکونې شرایط عملي کیږی ډیرې کمې دي. دملي دفاع وزارت د حقوقود رئیس د وینا پراساس ؛ تراوسه یوتن دملي اردو څخه دتوقیفی دوهلو په تور محاکمه شوی ؛ هغه هم دوه کاله وړاندی. دملي اردو دغه افسر د ګردیز په ولایت کې به شکنجې مرتکب شوی و چې په یوکال حبس باندی محکوم شو[190]. د همدی له کبله دحساب ورکول د اوسنی داخلي جوړښت کې دشکنجې پروړاندي ګټور ندی ځکه ډیری لړی قضیې دنظامی محاکمو له لاری تعقیبیږي.

---

[188] توقیفییان نمبر: ۱۰۲ ، ۱۵۸ ، ۱۶۴ ، ۱۹۸ ، ۳۶۳ ، ۳۶۵ ، ۳۹۶ ، ۴۹۴ ، ۵۱۵ ، ۵۸۶ ، ۵۸۷ ، ۶۵۶ ، او ۶۵۷ .

[189] د نظامی محاکمو د اجرااتو قانون ، رسمی جریده ۱۰ ۲۰۱۲ کال می ، (ګڼه..۱۰۲۰)

[190] یوناما د ملي دفاع وزارت د حقوقود رئیس برید جنرال عبدالمجید نائب (خاوری) سره د۲۰۱۲کال نومبر ۲۸ ولیدل.

## د افغان محلي پولیسو چلند

*"دوي زه ونیولم او د محلي پولیسو قوماندان ... چک پوستې ته یې راوستلم. ... نومي؛ یوه ودانۍ کې د درې اطاقونو شخصي زندان لري. زما لاسونه او پښې تړل شوي وي او یوتن محلي پولیسو زما په پښو او بل تن یې زما په پښو کښیناست. دقوماندان ... په ګډون ۶یا ۷ تنو محلي پولیسو په ورنونو باندی په نیم متر اوږد او لس انچې ډبل پایپ باندي ووهلم. ... مجبور کړم چې اعتراف وکړم."*

**(توقیفی نمبر ۶۰۱ ، چارده ، کندز ، ۲۰۱۲ کال اګست)**

### تاریخچې

د۲۰۱۲ کال د جنوری څخه تر جون پوري یوناما د دولت ، پولیسو ، د ټولنېد مشرانو ، قومي مشرانو څخهپه ۵۱ ولسوالیو کې دمحلي پولیسو د پرګرام د پلي کیدو په هکله دهغوی نظریات راغونډ کړل[191] . دټولنې او د دولت ډیري مسؤلینو دمحلي پولیسو پواسطه امنیت راتلو راپور ورکړ ؛ دوی ویلي چې په هغو سیموکې چیرته چې محلي پولیس ځای پرځاي شوی امنیت ښه شوی. که څه هم یوناما دمحلي پولیسو لخوا بشری حقونوته د درناوی په هکله ضد او نقیص راپورونه ترلاسه کړي[192] . یوناما لیدلي چې که څه هم محلی پولیس په محل کې د امنیت د راوستو په موخه اجازه لری چې خلک وساتي ؛ ولی دوي دنافذه قوانینو پربنسټ دخلکو په نیولو او توقیف کې کوم نقش او واک نه لري. دمظنونینو په موقته توګه د نیولو په هکله ورکړل شوی واک د وخت له لحاظه تعریف یا روښانه شوی ندي[193] .

### د سیمه ایېزو پولیسو لخوا شکنجه

یوناما دافغانستان په څلورو ولایتونو (کندز ، فاریاب ، کندهار ، او ارزګان) کې دمحلي پولیسو لخوا د شکنجې او بدچلند پېښې مستندي کړیدي. دمحلي پولیسو لخوا نیول شوو ۱۲ تنو توقیفیانو له جملي څخه چې یوناما مرکه کړي ؛ لسوتنو یې د بدچلند او شکنجې خبر ورکړی[194] . د۱۲ له جملي څخه ۷ تنو کندز کې دسیمه ایېزو پولیسو لخوا شکنجه کیدو خبرورکړی[195] ، لدی جملې څخه یې څلور تنو دخپلي شکنجی د مرتکب نوم او رتبه ښودلي[196] . توقیفیانو دشکنجې اساسی ډول په پایپ او کیبل سره وهل ښودلي.

---

[191] د ۲۰۱۰ کال اګست ، دافغانستان حکومت دسیمه ایېزو پولیسو پروګرام په لاره واچوه. دکورنیو چارو وزارت لخوا رهبری کدیونکي دغه امنیتی اداره ددولت ضد عناصر څخه دولسوالیو ساتني مسؤلیت په غاړه لری. دغه اداره کې دسیمې خلک په مسلح قواوو کې دمحدود واک په درلودلو ګمارل کیږی. دولسوالۍ په کچه سیمه ایېز پولیس ، دولسوالی پولیسو قوماندان ته راپور ورکوي. دامریکا متحده ایالاتو ځانګړی پوځ(سپیشل فورس) مخکی لدی چې دسیمې امنتی واک سیمه ایېز پولیسو ته وسپاری ، دمحدود وخت لپاره پرته دکوم رسمی نظارتی رول روزنه ورکوي.

[192] د۲۰۱۲ کال جون ۲۲نیټه پوری دټول افغانستان په کچه ۱۵۰۰۰ محلي پولیسو ۷۰ ولسوالیو کې فعالیت درلود. هیله کیږی چې ۲۰۱۴ کال اخرپوری یاد شمیر ۳۰۰۰۰ تنو ته ورسیږي.

[193] د ۲۰۱۰ کال اګست کې دمحلی پولیسو تاسیس طرزالعمل تصویب شو او ۲۰۱۲کال جنوری کې اصلاح شو.

[194] توقیفیان نمبر: ۳۳ ، ۸۱ ، ۱۵۲ ، ۳۵۴ ، ۵۰۰ ، ۵۱۱ ، ۶۰۰ ، ۶۰۱ ، ۶۰۵ ، او ۶۵۳.

[195] توقیفیان نمبر: ۸۱ ، ۱۵۲ ، ۳۵۴ ، ۵۱۱ ، ۶۰۰ ، ۶۰۱ او ۶۰۵.

[196] توقیفیان نمبر: ۵۱۱ ، ۶۰۰ ، ۶۰۱ ، او ۶۰۵.

## د سیمه ایېزو پولیسو حساب ورکونه  او څارنه

په سیمه ایېزو پولیسو باندی دبیروني څارنې او حساب ورکونې عملا نشتون په هکله چې د ۲۰۱۱ کال جنوری او جون د میاشتو ترمنځ د ملکي وګړو د ساتنې په[197] راپور کې مستند شوی یوناما یو ځل بیا په خپلو اندېښنو باندې تاکید کوي. ۲۰۱۲ کال جنوری او جون د میاشتو ترمنځ یوناما په دوامداره توګه راپورونه ترلاسه کول چې محلي پولیسو تر زیات حده دکورنیو چارو د وزارت څخه په خپواکه توګه فعالیت کاوه او دسؤاستفادي ادعا ګانو په صورت کې یې عدلی مصئونیت درلود.

د یوناما د معلوماتو پر بنسټ ؛ په ۲۰۱۲کال کی دکورنیو چارو وزارت د محلي پولیسو ریاست ، په افغان ملي پولیسو او ایساف د محلي پولیسو د بیروني نظارت په موخه ځیني ګامونه اوچت کړل. دغه کوښښونه عبارت وو له:  دکورنیو چارو وزارت محلي پولیسو ریاست لخوا په سیمه کې د محلي پولیسو څخه لیدنه ، د اړوندو ولایاتو امنیه قومندانیو او دمحلي او ملي پولیسو فوکل پاینټ(استازي) سره په منظمه توګه لیدل او د محلي پولیسو له قوماندانانو او د محلي مشرانو سره لیدني. برسیره پردې ، ایساف دمحلي پولیسو د تقویت په موخه یو دوامداره میکانیزم رامنځته کړي ، لکه محلي پولیسوته د ټریننګ ورکولو په موخه په محلي پولیسو کې دافغان سپیشل فورس ځای پرځای کول چې ځینو ولسوالیو کې پیل شوي.

همدارنګه راپور ورکړل شوی ، چې د کورنیو چارو وزارت پلان لری چې دمحلي پولیسو تشکیل کې یو څانګه جوړه کړی ترڅو دمحلي پولیسولخوا بشری حقونو څخه ادعا شوی سرغړونې بررسي کړي. دغه څانګه دنده لری چې دمحلي پولیسو پروړاندی دبشری حقونو د جدی سرغړونو ادعاګانی عدلی او قضایې  اداراو ته دعدلی تعقیب په موخه واستوي. تریوحده پوری دغه څانګړی بخش د اړوند ولایت امنیه قوماندان ، د جنایې  تحقیقاتو ریاست ، دملي امنیت او دمحلي شوراګانو استازي اړوند سیمې ته ځي او د محلي پولیسو سرغړونې بررسی کوي[198] . که څه هم په ۲۰۱۲کال کې یوناما په دوامداره توګه دټولنې څخه راپورونه ترلاسه کړي چې ملي پولیسو دبشري حقونو مظنون سرغړونکي محلي پولیس ندي نیولي.

محلي مشران ، محلي پولیسو ته دټریننګ پراهمیت باور لري او یوناما ته یې ویلي چې اوسني مقدماتي ۲۱ورځنې ټریننګ محلي پولیسو ته کافی ندی. پدی نژدي وختونوکې دنوو محلي پولیسو ګمارل کیدو روزنیزو موادوکې دبشري حقونو روزنیز مواد شامل کړاي شوي ؛ په شمول د افغانستان په اساسی قانون کې د بشري حقونو مفهوم. دمحلي پولیسو د ښه پوهاوی په موخه چې څرنګه بشری حقونه په عمل کې ساتل کیدي شي[199] . د محلي پولیسو استخدام او ټریننګ تر ډیره حده پوځی ډول لری نستب ملي پولیسو ته ؛ داهم روښانه نده چې د بشری حقونو ټریننګ به دمحلي پولیسو احترام بشری حقونوته په عمل کې راولی او که نه[200] .

[197] د مسلحانه شخړو په دوران کې دملکی خلکو حفاظت ، دیوناما ۲۰۱۲ کال فبروری راپور ، ۳۵-۳۶ مخونه.

[198] د۲۰۱۲کال د جون په میاشت کې یوناما د کورنیو چارو وزارت د محلي پولیسو قوماندان  جنرال علیشاه احمدزی سره ولیدل.

[199] یوناما د ۲۰۱۲ کال جون ۲۲ نیټه د ایساف مرکزی قوماندانی او د امریکا ... سره ولیدل.

[200] د(افغانانو روزنه د افغانانو لخوا) دپرانسیب پراساس ، اوس مهال حداقل دمحلي پولیسو ۸ ځایونوکې افغان ملي اردو ځانګړي پوځ(افغان سپیشل فورس) محلي پولیسو ته روزنه ورکوی. که څه هم داروزنه محلي پولیس پیاوړي کوي ولی ملي پولیس پکښی برخه نه لری. ایساف ویلي چې په راتلونکي کې به  افغان ملي پولیس نه یواځی دمحلي پولیسو استخدام بلکی روزنه کې هم پیاوړی رول ولري. (د۲۰۱۲ کال جون ۲۲ ، یوناما سره دایساف ملاقات).

## د ملي امنيت او ملي پوليسو چلند د هغو توقيفيانو سره چې د نړيوالو پوځونو لخوا ورته سپارل شوي

### تاريخچې

ديوناما لخوا ۱۶ په نبنه کړاي شوی توقيف ځايونوته دايساف لخوا د توقيفيانو ليږد وځنډيد ؛ ايساف هغه توقيف ځايونوته د توقيفيانو انتقال پيل کړ چې د يوناما لخوا د شکنجې څخه پاک ښودل شوی وو. مخکي لدې چې ايساف دغه توقيف ځايونوته توقيفيان استول پيل کړي ؛ دتوقيف ځای د مدير او مشر څخه يې اطمنان ترلاسه کاوه چې توقيفيان به هغو توقيف ځايونوته نه استوی چيرته چې د اعتماد وړ د شکنجې راپور ورکړل شوی وي هغه توقيف ځايونه چې دايساف لخوا تاييد شوی د دوهم ځل لپاره يې ورته انتقال پيل کړی. هغه توقيف ځايونه چې به مشروط ډول تاييد شوی وو ؛ دتوقيفيانو انتقال څخه وروسته په ۷۲ ساعتونو کې ايساف دانتقال شوو توقيفيانو کتنه کوله او دهغوی سره يې د چلند په هکله پوښتل.

سره لدې چې يوناما د هغه توقيف ځايونو توقيفيانو د شکنجو ادعاګانې چې دايساف شپږ پړاوايېز پروګرام پکې پلي شوی نه و ؛ او دايساف لخوا نيول شوي وو او بيا ملي پوليسو يا ملي امنيت ته انتقال شوي وو ، ثبت کړي. نوموړي ادعاګاني د يوناما لخوا ايساف ته دلازياتو څيړنو په موخه واستول شوې. داستول شوو قضاياو د څيړنو په هکله ايساف په ټولو قضاياوکې دنړيوالو پوځونو په شمول د امريکايي  ځانګړوقواو شتون ردکړی. ايساف يوناما ته وړانديز کوی چې يادې قضاياوی يې په سيمه کې دامريکايي  امنيتی غير رسمی کمپنيو سره شريکې کړي.

### د نړيوالو پوځي ځواکونو لخوا د افغانستان ملي امينت او ملي پوليسو ته د توقيفيانو ليږد

يوناما دتوقيف ځايونو څخه د نظارت په بهيرکې د ۷۹ مرکه شوو توقيفيانو خبروکړی چې دهغوي په نيولو کې نړيوال پوځونه يا نورې دولتی اداري په يواځې توګه ياهم دافغان امنيتي ځواکونو سره په ګډه شتون درلود او بيا د ملي امنيت يا ملي پوليسو توقيف ځايونوته استول شوی[201]. يوناما په کافی اندازه معتبر او د اطمنان وړ شواهد موندلي چې د ۷۹ تنو له جملې څخه ۲۵ تنه (۳۱ سلنه) توقيفيان دملي امنيت ، ملي اردو ، او ملي پوليسو په توقيف ځايونوکې شکنجه شوي. دغه حالت دشکنجې ضد کنوانسيون پربنسټ يوخل بيا تشويش برسيره کوی چې هيوادونوته اجازه ورنکړي چې هغو توقيف ځايونوته توقيفيان واستوي چيرته چې دشکنجې خطر شتون لري.

د۷۹تنو توقيفيانو له جملې څخه ۱۳تنه (۱۶سلنه)[202] توقيفيان دملي امنيت لخوا ورسره بدچلند شوې او يا شکنجه شوي وو. ۷تنو توقيفيانو خبروکړي چې دکندهار په ملي امنيت کي شکنجه شوی ( څلورتنه توقيفيان د کندهار ملي امنيت په رياست کې شکنجه شوی وو ، يوتن دپنجواي ولسوالۍ د ملي امنيت لخوا شکنجه شوی ، دري تنه نور دتوقيف په بديل ځای يا د ملاعمر په کورکې شکنجه شوی وو). يوناما موندلي چې دوه تنه توقيفيان د خوست په ملي امنيت کې شکنجه شوی ، يوتن توقيفی د بغلان

---

[201] توقيفيان نمبر: ۹ ، ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۷ ، ۱۸ ، ۲۰ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۴ ، ۴۳ ، ۴۴ ، ۴۵ ، ۴۹ ، ۶۴ ، ۷۵ ، ۱۱۱ ، ۱۳۱ ، ۱۳۲ ، ۱۳۳ ، ۱۳۴ ، ۱۳۵ ، ۱۳۷ ، ۱۷۲ ، ۱۷۳ ، ۱۷۴، ۱۷۵ ، ۱۷۶ ، ۱۷۷ ، ۱۷۸ ، ۱۸۲ ، ۱۸۷ ، ۲۰۸ ، ۲۲۲ ، ۲۳۰ ، ۲۳۴ ، ۲۳۹ ، ۲۴۶ ، ۲۴۷ ، ۲۴۸ ، ۲۴۹ ، ۲۶۱ ، ۲۶۶ ، ۲۶۷ ، ۲۷۰ ، ۲۸۳ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۸۸ ، ۲۱،۳۰۱ ، ۳۱۶ ، ۳۱۸ ، ۳۲۶ ، ۳۸۴ ، ۴۰۰ ، ۴۰۳ ، ۴۴۰ ، ۴۴۶ ، ۴۴۹ ، ۴۸۴ ، ۴۸۵ ، ۴۸۶ ، ۴۹۲ ، ۴۹۳ ، ۴۹۴ ، ۵۲۴ ، ۵۴۰ ، ۵۷۵ ، ۵۸۰ ، ۵۸۵ ، ۵۹۲ ، ۶۱۵ ، ۶۱۶ ، ۶۳۰ ، ۶۴۶ ، ۶۵۰ ، ۶۵۶ او ۶۵۷.

[202] توقيفيان نمبر: ۱۴،۱۷ ، ۷۵ ، ۱۱۱ ، ۲۷۴ ، ۲۸۴ ، ۲۸۶ ، ۲۸۷ ، ۲۹۱ ، ۴۴۰ ، ۴۴۹ ، ۴۸۴ ، او ۶۴۶.

په ملي امنيت کې د شکنجه کيدو خبروکړی او بل تن هم دمزارشريف په ملي امينت کې دشکنجه کيدو خبروکړی. برسيره پر دي ، يوناما مونډلي چې يوتن توقيفی د۲۰۱۲کال په جولای کې دملي امنيت په ۱۲۴ رياست کې شکنجه شوی. يوناما ياداشت کړيده چې د کندهار او خوست په ولايتونوکې د۲۰۱۲ کال سپتمبرکې راپورکړی شوی.

يوناما مونډلي چې د ۷۹ تنو توقيفيانو جملې څخه ۱۰ تنه [203](۱۲ سلنه) توقيفيان د ملي پوليسو لخوا شکنجه شوي وو. څلورتنو توقيفيانو د کندهار په ولايت کې دشکنجه کيدو خبروکړی(دري تنه دملي پوليسو په امنيه قوماندانۍ کې او يوتن توقيفی دپنجوای امنيه قوماندانۍ کې). څلورتوقيفيانو خبروکړي چې دقلات (زابل) امنيه قوماندانۍ کې دملي پوليسو لخوا شکنجه شوي دي او يوتن توقيفی راپور ورکړی چې دخوست په امنيه قوماندانۍ کې دملي پوليسو لخوا شکنجه شوی.

دنړيوالوځواکونو يا نورو دولتي ادارو لخوا د۷۹ تنو انتقال شوو توقيفيانو له جملې څخه دوه تنه دافغان ملي اردو لخوا شکنجه شوي. دوارو توقيفيانو ويلي چې دبادغيس بالامرغاب په ولسوالۍ کې شکنجه شوي دي[204].

دملي امنيت ، ملي اردو ، او ملي پوليسو نه يواځې هغه توقيف ځايونوکې چې دايساف نظارتي پروګرام پلی شوی بلکې ټولو هغو ځايونوته چې توقيفيان ورانتقال شوی ؛ يوپياوړی بيرونی نظارت اړين دی. دملي امنيت دوه توقيف ځايونه (دبغلان او تخار ملي امنيت توقيف ځايونه) او دملي پوليسو دوه توقيف ځايونه (زابل کې او پکتيکا کې دامنيه قوماندانيو توقيف ځايونه) هغه ځايونه دي چې يوناما هلته دشکنجې په هکله کافي اندازه معتبرې او د اطمنان وړ قضاياوي مونډلي ؛ ددی اړتيا شته چې برسيره پر هغو ۱۶ توقيف ځايونوچې دايساف نظارتی پروګرام پکې عملي شوی ، نور نظارت ځايونه بايد هم تر نظارت لاندی ونيول شي.

## بد چلند او شکنجې ته د رسيدګي په موخه د افغانستان د حکومت اقدامات

### کتنه

ملي امنيت او کورنيو چارو وزارت دواړو ويلي چې د خپلو کارکونکو لپاره يې دبشری حقونو او دتوقيفيانو سره د انساني چلند په ګډون نوي ترينګونه په لاراچولي. دتوقيفيانو دحقونو د خونديتوب په هکله يې پوليسوته لارښود صادرکړي ، ديوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د راپور د خپريدوڅخه وروسته دشکنجود ادعا ګانو د څېړنو په موخه يو هيئت ټاکل شوی او دملي امنيت په تشکيل کې يوه نوې څانګه (دملي امنيت د بشري حقونو څانګه) تاسيس کړه[205] ترڅو دبشري حقونو سرغړونوته رسيدګي وکړی.

### د ملي امنيت عمومي رياست

#### څېړنې

يوناما دافغانستان په توقيف ځايونوکې دمنازعې اړوند توقيفيانو سره د چلند ترعنوان لاندي د راپور يوه کاپی د۲۰۱۱کال اکتوبر ۱۰ نيټی دخپريدو څخه يوه مياشت دمخه د افغانستان دولت ته و سپارله. د۲۰۱۱کال اکتوبر په ۶ مه نيټه[206] دملي امنيت په ځواب کې ويل شوی وو چې د شکنجو د ادعاګانو د څېړنو په موخه يو هييت ټاکل شوی ؛ او يوکاری پلان جوړاو عملي شوي چې

[203] توقيفيان نمبر: ۱۸ ، ۲۳۰ ، ۲۷۰ ، ۲۸۸ ، ۲۸۹ ، ۳۸۴ ، او ۴۸۶ ، ۴۹۲ ، ۴۹۳ ، او ۴۹۴ .
[204] توقيفيان نمبر: ۶۵۶ او ۶۵۷.
[205] توقيفيان نمبر ۶۵۶ ، ۶۵۷.
[206] دوهمه شميره ضميمه وګوری.

ديوناما لخوا څرګند شوو تشويشونوته رسيدګي وکړی. دملي امنيت د حقوق بشر د څانګې پربنسټ تر ډيرحده داخلي نظارت د پارلمان د غړو په شمول يو د خپلواکه هيئت له لوري بشپړ شوی چې موندني ئي په عامه ډول خپري نه شوي.

تردي مودي ، ملي امنيت دهيڅ يو هيئت که هغه دملي امينت يا بيروني هيئت دی چې څېړنې يې ترسره کړي ؛ موندني ئي ندي خپري کړي. دملي امنيت حقوق د بشر څانګې د وينا پراساس ، چې توقيفيان يې مرکه کړي ولی دملي امنيت د کارکونکو لخوا دشکنجي کومه ادعا نده موندل شوی ، او په ځيونو قضاياوکي هيئت معلومات نه درلودل ، ولی بياهم دملي اميت د حقوق بشر څانګه نيت لري چې دنورو توقيفيانو سره هم مرکې وکړي. تردې مهاله دتعقيب کوم راپور ندی ورکړل شوی.[207]

## عدلی تعقيب

د ليکلو ترمهاله دملي امنيت هيڅ يو کارکوونکی هم دشکنجی او بدچلند په تړاو ندی محاکمه شوی ؛ څکه چې دهيئت يا دملي امينت حقوق بشر څانګې لخوا هيڅ يو مظنون ندی پيژندل شوی. يوناما مشاهده کړی چې هيڅ بی پری بيرونی نظارت شتون نلری ؛ لکه څنګه چې ديوناما د ۲۰۱۱کال د اکتوبر په راپور کې وړانديز شوی و.

## د ملي امنيت د حقوق بشر څانګه

د۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې دملي امنيت د حقوق بشر څانګې دملي امنيت توقيف ځايونه وڅارل[208]. يادې څانګې ته دنده سپارل شوی وه چې دملي امنيت ټول توقيف ځايونه وڅاري. دوي ديوشمير ولاياتونو د توقيف ځايونو څخه ليدنه وکړه[209]. سره لدی ، دوي راپور ورکړي چې دملي امنيت ۴۰ رياست توقيف ځای څخه په اونی کې دوه ځله ليدنه کوی[210]. د ملي امنيت حقوق بشر څانګې مشر د وينا پراساس ؛ دظرفيت کمبود له کبله ددوی موثريت محدود دی. داستخدام پلان بی نتيجې ځکه دی چې په ملي امنيت کې دکم معاش له کبله دوي نشی کولای چې ښه کانديدان وهځوی چې د ملي امنيت په حقوق بشر څانګه کې دندې ترسره کړی. د ملي امنيت حقوق بشر څانګه پلان لري چې دهيواد په ۱۶ ولايتونوکې څانګې پرانيزي. د ملي امنيت د حقوق بشر ۱۶ څانګي به دنده لری چې د ملي امنيت کارکوونکو تهد حقوق بشر په برخه کې ټريننګ ورکړی ، دبشری حقونو د سرغړونو څخه څارنه وکړی ، او دتوقيفيانو لخوا دشکنجي ادعاوی وڅېړي.[211]

## د ملي امنيت د کارکوونکو تبديلول

ديوناما د۲۰۱۱کال اکتوبر د مياشتې راپورته د ملي امنيت ليکلي ځواب[212] د ملي امنيت ۱۲۴ رياست ګڼ شمير کارکوونکي له دندي ګوښه شوي او د کندهار ، خوست ، لغمان ، ننګرهار ، کندز ، کاپيسا ، کونړ ، فراه ، پکتيکا ، پکتيا ، تخار ، او بلخ ولايتونو د ملي امنيت ريېسان تبديل شوي دي. برسيره پردی ، دفراه ولايت د ملي امنيت ريېس دنده ځنډول شوې. دامعلومه نده چې دا تغيرات په څه دليل ترسره شوي. دامکن د اداری تاديب برخه اوسی ؛ ولی په مجازاتو کې نشي حسابيدي. په ځينو بيلګو کې

---

[207] : پورتنی مرجع.

[208] بوناما ياداشت کړی چي دملي امنيت رياست حقوق بشر څانګه د(حقوق بشر نظارت امريت ) د۲۰۱۲ کال جنوری ۲ نيټه تاسيس شو. دکال په بهير کې دملي امنيت کارکوونکو سره ليدو پرمهال ډير دحقوق بشر امريت ډير کم کارول کيده ، همدی کبله ددی راپور کې دحقوق بشر څانګې به نوم ياد شوی.

[209] د ۲۰۱۲کال فبروری ۲ نيټه ، د ښاغلي محمد نبی (د ملي امنيت حقوق بشر څانګی مشر ) سره ديوناما ليدنه.

[210] د۲۰۱۲کال جنوری ۲۵نيټه ، دښاغلي مهمند (دملي امنيت ۴۰ رياست مشر) سره ديوناما ليدنه.

[211] د۲۰۱۲ کال می ۹ نيټه ؛ دښاغلي نبی (دملي امنيت حقوق بشر مشر) سره ديوناما ليدنه.

[212] افغانستان توقيف ځايونوکې دمنازعي اړوند توقيفيانو سره چلند ؛ ديوناما/ او ايچ سی ايچ ار ۲۰۱۱کال اکتوبر راپور دوهمه ضميمه وګوري.

دا دمکافات (پرمختګ ) شان ښکاري ؛ د بیلګې پتوګه ، دلغمان ولایت د ملي امنیت ریس دننګرهار شرقی ولایتونو د ملي امنیت د ریس پتوګه وګمارل شو.

**روزنې**

د ملي امنیت د روزنی څانګه ، د د ملي امنیت د تولو زونونو تحقیق کوونکو ته د بشری حقونو اړوند پنځه ورځنی ورکشاپونه جوړوي[213]. د دغه عمل ابتکار دعدلیې وزارت ( د یو این ډی پی عدلې او حقوق بشر څانګې په مالي مرسته) تمویلیږي[214]. همدارنګه دافغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ملي امنیت ۱۲۴ ریاست تولو تحقیق کوونکوته یو درې ورځنی روزنیز ورکشاپ ورکړی. د ملي امنیت اکاډمی ( دانګلستان د سفارت په ملاتړ) د ملي امنیت د۱۲۴ ریاست او ۴۰ ریاستونو ۸۰ تحقیق کوونکوته دتحقیق دروشونو او حقوق بشر په هکله ټریننګونه ورکړیدي[215]. د ملي امنیت ریاست ؛ د ملي امنیت تولو کارکوونکوته دتوقیفیانو دحقونو د خوندیتوب په هکله دهغوی وظیفوی مکلفیت ته متوجه کولو په موخه عملي لارښودونه صادر کړي[216]. د ملي امنیت په حقوق بشر څانګه کې دظرفیت د نه شتون له کبله یاد لارښودونه ډیر ورو عملي شوي دي.

**د ملي امنیت اوامر**

ملي امنیت لارښودونه وضع کړي د بیلګې پتوګه[217]، د۲۰۱۱ کال په اپریل کې یولارښود وضع کړ-(دیوناما دراپورخپریدو څخه دمخه) چې دمظنونینو دنیول کیدو دمخه باید لازم ، مستند ، او مناسب شواهد راغونډ شوی وي. همدارنګه یاد لارښود په ۲۵ ساعتونوکې د ملي امنیت ۴۰ ریاست ته دتوقیف خبرورکولوته هم راجع کیږی ؛ او همدارنګه که چیری په ۷۲ ساعتونوکې تحقیق بشپړ نشی نو د څارنوالی لخوا توقیف تمدید کړی شي. داساسي قانون ۳۰مه ماده او د ملي امنیت لارښو هم د ملي امنیت د مسؤولیت حکم کوي[218]. د ښه نیت سره سره ، دیوناما د ۲۰۱۱ کال راپور او ددي راپور موندنو څخه ښکاره ده چې دلارښو د وضع کیدو څخه یوکال وروسته دشکنجي مخنیوی ، د فرد ازادی سلب شوی شخص دقانونی مراحلو د طی حق په تضمین کې ډیر لږ تاثیر درلود.

**د څېړنو په دوران کې مدافع وکیل ته نه لاس رسی**

دیوناما ۲۰۱۱کال د اکتوبر د راپور په څواب کې که څه هم ملي امنیت د افغانستان د اساسی قانون او نافذه جزایې اجرااتو قانون پربنسټ توقیفیان د مدافع وکیل درلودلو حق پیژني ، ولی دمدافع وکیلانو عدم علاقمندی دیته چې د منازعی اړوند توقیفیانو وکالت وکړی او دهیواد په ځینو برخو کې دمدافع وکیلانو نه شتون دتوقیفیانو داحق محدود کړی دی.[219]

---

[213] د۲۰۱۲کال می ۹ نیټه ، دملي امنیت حقوق بشر څانګی مشر نبی سره دیوناما لیدنه.
[214] د ۲۰۱۲ کال می ۹ نیټه ؛ د یو ان ډی پی علې او حقوق بشر څانګې سره یوناما لیدنه.
[215] د۲۰۱۲کال جولای ۴ نیټه ؛ یوناما د انګستان سفارت سره ولیدل.
[216] دملي امنیت لخوا صادر شوو لارښودونو کاپی یوناما ته استول شوي.
[217] دملي امنیت یاد لارشود یوه کاپی یوناما ته استول شوي.
[218] د۲۰۱۱کال اپریل ۴ نیټه دملي امنیت لارښود وضع شوی.
[219] دیوناما ۲۰۱۱کال اکتوبر ، دافغانستان توقیف ځایونوکې دمنازعی اړوند توقیفیانو سره چلند ، دوهمه ضمیمه.

ددی ستونزی دحل په موخه ، دملي امنيت رياست دافغانستان دمدافع وکيلانو انجمن سره يو هوکړه ليک لاسليک کړی ، چې د ملي امنيت اړوند توقيف ځايونوکې ټولو توقيفيانوته مدافع وکيلان لاس رسی ولري[220]. دافغانستان د مدافع وکيلانو انجمن مدافع وکيلان او د نورو اداراو وکيلان وايې چې د ملي امنيت په توقيف ځايونوکې يواځې هغه وخت توقيفيانوته لاس رسی پيداکوی چې تحقيق ختم شوی وي چې دا د اساسی قانون د ۳۱مې مادی څخه سرغړونه ده.[221] د ملي امنيت ۱۲۴ رياست ته هيڅ مدافع وکيل لاس رسی نلری ؛ له همدی کبله د ملي امنيت او دافغانستان د مدافع وکيلانو انجمن ترمنځ هوکړه ليک په بشپړ ډول ندی عملي شوی.[222]

پداسی حال کې د ملي امنيت خبره هم سمه ده چې دمدافع وکيلان تمرکز لويو ښارونوته ددی سبب شوی چې دمنازعی اړوند توقيفيانو وکالت کول محدود کړي.[223] داښکاره ده چې د ملي امنيت لخوا دمحدوديتونو وضع کول ، مدافع وکيلانوته لاس رسی محدود کوی ؛ نسبت دمدافع وکيلانو شميرته چې هيواد په کچې فعاليت کوی. حقيقت کې ګڼ حقوقی خدمتونو وړاندی کوونکو اداراتو څرګنده توګه ويلي چې غواړی ملي امنيت توقيفيانو وکالت وکړي. مګر دير کم وخت کولای شي د ملي امنيت توقيف ځايونوکې توقيفيانوته لارس رسی ولري. همدی دليل ، مدافع وکيلانوته داناممکنه ده چې ملي امنتی کې دمنازعی اړوند توقيفيانو وکلالت وکړی ترهغې چې دکورنيو چارو وزارت اړوند توقيف ځای ته انتقال نشي.[224]

يوناما موندلي ، چې د ۶۳۵ مرکه شوو توقيفيانو جملي څخه ، ۱۱۱ تنو مدافع وکيلانو ته لاس رسی درلود ، که څه هم يواځې دوه تنه د يادو ۱۱۱ تنو څخه د ملي امنيت توقيف ځای تحقيق دوران کې مدافع وکيلان ټاکلي[225]. پاتي ۱۰۹ توقيفيانو بياهغه وخت مدافع وکيل ته لاس رسی پيداکړی ، کله چې اتهام نامه تياره شوې او ابتدائه يا استناف محکمې ته دوسيه تللي. يواځې ۵تنه توقيفان د۱۱۱تنو جملي څخه کله چې د ملي امنيت توقيف ځای کې شتون درلود ، مدافع وکيلانوته لاس رسی درلود ؛ او پاتي ټولوتوقيفان کله چې د زندانونو عمومي رياست اړوند توقيف ځايونوته تللي نوبيايې مدافع وکيلانوته لاسرسي پداکړي[226]. برسيره پردي چې اساسی قانون کې د شخص نيول کيدو سره سم يوقيفی حق لری مدافع وکيل ولري[227] ، مګر داښکاره ده چې دقانون پلي کوونکو اداروکې توقيفيانو لاس رسی مدافع وکيل ته مخنيوی کيږی ؛ په ځانګړی توګه هغه توقيفيان چې د ملي امنيت توقيف ځايونوکې ساتل کيږی.

[220] افغانستان توقيف ځايونوکې دمنازعي اړوند توقيفيانو سره چلند ؛ ديوناما / او ايچ سی ايچ ار ۲۰۱۱کال اکتوبر راپور دوهمه ضميمه وګوري.

[221] دغه راپور ته دملي امنيت رياست ځواب چې شپږمه ضميمه ده. ملي نه قبلوی چې مدافع وکيلانوته دتوقيفيانو لاس رسی محدود کړي.

[222] د۲۰۱۲ کال اپريل ۱۸ نيټه دتوقيف کاری ګروپ ليدنه (ميټنګ). دغه کاری ګروپ دمعلوماتو شريک کوی او دتوقيف اړوند پاليسی اصلاحات بحث او وړانديز کوی ؛ دی کاری ګروپ غړی عبارت دی له: يوناما ، افغانستان پرانستی ټولنه ، دمدافع وکيلانو انجمن ، دافغانستان دبشر حقونو خپلواک کميسيون ، دحقوق خدمتونو وړاندی کوونکی اداری ، او نور نړيولا ادرای چې دی برخه کې کارکوی. ضمن ددی اړوند وزارت خانی استازی هم ځينون ميتنګونوکی بلل کيږی ؛ کله چې اړوند وزارت خانی هلکه موضوع اوسی.

[223] افغانستان کې مدافع وکيلانو شمير نسبت هغه توقيفيانوته چې دمدافع وکيل ته اړتيا لری کم دی.

[224] د۲۰۱۲ کال اپريل مياشت کې دتوقيف کاری ګروپ ليدنه.

[225] توقيفيان نمبر: ۶۶ او ۶۷ دبدخشان ملي امنيت توقيف ځای کې ، توقيفی نمبر۶ دهرات ملي امنيت توقيف ځای ، توقيفی نمبر۱۰۹ دبلخ توقيف ځای کې او توقيفی نمبر ۶۴۶دملي امنيت ۴۰ رياست کې.

[226] توفيقان نمبر: ۶۶ او ۶۷ بدخشان کې ، توقيفی نمبر۶ په دهرات ملي امينت کې ، توقيفی نمبر۱۰۹ دبلخ ملي امنيت کې ، او توقيفي نمبر۶۴۶ دملي امنيت ۴۰ رياست کې.

[227] دافغانستان اساسی قانون ۳۱ ماده وګوري.

یوشمیر مدافع وکیلانو یوناما ته خبر ورکړی چې ددوه ماشومانو په ګډون ، دهیواد شپږو زونوکې ، خپلو ګڼ شمیرموکلینو څخه شکنجی ادعاګاني ترلاسه کړي. اکثر مدافع وکیلانو ملي امنیت ئي دشکنجی منبع پتوګه ښودلی ، او یلي چې د ملي پولیسو لخوا دشکنجی ادعا ګانو صورت کې د ملي پولیسو توقیف ځایونوکې مثبت تغیرات ډیر ورو حالت کې لیدل کیږی.

څرنګه چې شکنجه اکثرا دتوقیف هغه ځایونوکې ترسره کیږي ، چې لاس رسی ستونزمن وي[228]. دعدلي تعقیف په ټولو مراحلو کې مدافع وکیل ته لاس رسی ، د ابتدایې تحقیقاتو په شمول ، دشکنجی او بدچلند مخنیوی باعث ګرځی. دشکنجي او نورو ظالمانه ، غیرانساني ، تحقیرآمیز اعمالو او مجازاتو په هکله دملګرو ملتونو فرعی کمیټه هم مدافع وکیل ته لاس رسي ګټور ښودلی[229].

همدلی کبله ، دشکنجی او بدچلند څخه دافرادو محافظت بهترینه لاره دپولیس توقیف ځایونو کې دتوقیفیانو لارس رسی مدافع وکیلانوته دي ؛ دمدافع وکیل شتون یواځې دشکنجی مخنویی نه کوي ؛ بلکی ، مدافع وکیل ته توانایې ورکوي چې دشکنجی صورت کې لازم اقدامات وکړي. همدارنګه ، یوناما لخوا مرکه شوي مدافع وکیلان مشاهده کړي ، چې دشکنجی دپېښېدو څخه دوه الی پنځه میاشتو موده کې شکایت شوی ؛ همدی کبله جبر یا زور سره اقرار ثابت کول ستونزمن کوي. حقیقت دادی چې هیڅ میکانیزم نشته چې توقیفیان خپل توقیف قانونیت پوښتنی لاندی راولی ؛ یواځې لمړنی وخت چې یومتهم کولایې شي دشکنجی او بد چلند په هکله شکایت وکړی هغه وخت دي چې مدعی علیه محکمي کې حضور پیداکړي. یعنی تحقیق څخه څومیاشتي وروسته.

**د توقیفیانو محدود لاس رسی خپلوکورنیوته**

ملي امینت ریاست ، د ملي امنیت ۴۰ ریاست کې یونوی دفتر پرانستلی چې دتوقیفیانو کورنیوته دتوقیفیانو دځای پرهکله معلومات ورکوي. یوناما موندلي چې د ملي امنیت ټولو نظارت شوو توقیف ځایونوکې په استثنا د ملي امینت ۱۲۴ ریاست ؛ توقیفیان کولای شې چې دتحقیق پای ته رسیدلو وروسته ، دخپلو کورنیو سره اوونیی کې دوه ځله وګوری.

**یوناما د ملي امنیت سره قضایاوی دتعقیب په موخه شریک کوی**

ملي امنیت ، یوناما باندی نیوکه کوي چې د ۲۰۱۱کال اکتوبر میاشت راپور خپریدو څخه دمخه ؛ دشکنجي مالومات او شواهد یې دوي سره ندي یوځای کړي[230]. دحاضر نظارت مودي بهیرکې ، یوناما ملي امینت ته دشکنجی شمیر دوسیه چې په ولایتونوکې د ملي امنیت ریاستونوتوقیف ځایونوکې ترسره کیږي ، ولیږدولي او د ملي امنیت دغه تشویش یې حل کړ[231]. دتوقیفی پت ساتلو په موخه دتشخیص ټولي نښې پټي شوي وي. ملي امینت دیوناما تشویش ته ځواب ورکړ[232]. ملي امنیت دتوقیفیانو لخوا دشکنجی تایې د شوي قضیه ردکړي. ملي امنیت وویل چې یادی قضایاوی یې د ملي امنیت څارنوال او مرکه شوو توقیفیانو سره بررسی کړي. دواړه توقیفیانو اقرار کړي او همدی کبله خپله ګناه یې منلي ده ، د ملي امنیت وینارپربنسټ.

---

[228] د ۲۰۰۲ کال اګست ۱۷ نیټه دشکنجی او نورو ظالمانه ، غیرانسانی ،او تحقیر آمیز چلند یا مجازاتو اړوند ، دملګرو ملتونو ځانګراستازی راپور وګوري.

[229] دنتیجه له لحاظه ، مدافع وکیلانو ته لاس رسی د بدچلند مخنیوی کوی ، لازیات معلوماتو له پاره وګو.ر: (.CAT/OP/MDV/1,26 FEBERUARY2009,at62)

[230] د ۲۰۱۲ کال فبروری ۲ نیټه دملي امنیت ریاست حقوق بشر څانګې مشر ښاغلی نبی سره دیوناما لیدونه.

[231] د ۲۰۱۲کال جون میاشت کې یوناما دشکنجی تائید شوی قضایاوی دملي امنیت سره شریکي کړي.

[232] د ۲۰۱۲کال جون ۲۴ نیټه یوناماته دملي امنیت لیک.

ملي امنيت پدي برخه کې چې توقيفيان جبر سره اقرار ته مجبورکړاي شوي وو يا هم داچې ايا شکنجه شوي وو يانه ، پاتې راغلی. ددغه راپور ليکلو وخت کې ، يوناما ليدلي چې ديادو توقيفيانو جملې څخه يوتن د ملي امنيت لخوا آزاد کړاي شوی دی.[233]

## افغان ملي پوليس او د کورنيو چارو وزارت

### ځېړنه

د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست وويل: "دافغانستان امنيتي اداري دا ادعاګاني په جدی توګه ردوي او يادونه کوي چې دوي مجبور دي چې دملګرو ملتونو هيئت ته امکانات برابر کړي چې د زندانونو ؛ او توقيف ځايونو د وضيعت او د توقيفيانو څخه څارنه ارزيابي وکړي "[234].

افغان ملي پوليسو راپور ورکړي چې دوي دشکنجي ادعاګاني ځېړلې او ديوناما په ۲۰۱۲ کال راپورکې ښودل شويو ولايتونوته ئې پلاوی استولی:

"دپلاوي غړو په جدی توګه وضيعت ارزيابی کړی او دتورن شخص سره يې ادعاګانو ته رسيدګي کړي. دکورنيو چارو وزارت لخوا په يوې ارزيابي کې د ۴۰ تنو څخه دوه تنو د ملي پوليسو لخوا د شکنجې ادعا کړي. د لغمان په ولايت کې د ۲۱ محکوم شوو کسانو څخه هيڅ يوهم دپوليسو لخوا دشکنجې ادعا نده کړې. په کندهار کې ، د۴۷۶ تنو څخه ۱۳ تنو دپوليسو لخوا د بدچلند شکايت کړی ، او په کندز کې د۸۲ تنو څخه ۶ تنو شکايت کړی".[235]

دافغانستان په توقيف ځايونوکې دمنازعې اړوند توقيفيانو سره چلند راپور[236] ته دکورنيو چارو وزارت په ځواب کې ويلی: د کورنيو چارو وزارت يوهيئت دلغمان ، کندهار او کندز ولايتونوته دشکنجې د راپورونو د پلټنې په موخه استول شوی. ياد هيئت دکورنيو چارو د وزارت جزوتامونو ، د زونونوقوماندانيو ، او امنيه قوماندانيو کې دبشری حقونو وضيعت وڅيړه. يوناما پوهيږي چې هغو توقيفيانو چې دشکنجې او بدچلند شکايت کړي ؛ د کندهار ، کندز ، او کابل(پلچرخی) په زندانونو کې وو. يوازې په شفاهی توګه شکايتونه هيئت ته ورکړل شوی وو او هيڅ يو ليکلی شکايت ندي اخستل شوی. دکورنيو چارو وزارت قبلوی چې دا شکايتونه لازياتو څيړنوته اړتيالری. په همدې موخه دکورنيو چارو وزارت دجندر ، حقوق بشر او د ماشومانو څانګې پلان لری چې يادو توقيف ځايونوته ولاړ شی او د دغو توقيفيانو سره مرکې وکړي.[237]

د يوناما کتنې داښکاره کوي چې دکورنيوچارو وزارت دشکنجې او بدچلند راپورونه په جدی توګه نه بررسی کوي. په يوه عمومي کتنه کې د محبوسينو سره ترسره شوی ؛ د پلچرخې په زندان کې د ۴۰ تنو څخه ۲ تنو د ملي پوليسو لخوا د شکنجه کيدو شکايت کړی ؛ په کندهار کې د ۴۷۶ تنو څخه ۱۳ تنو د ملي پوليسو لخوا د شکنجه کيدو شکايت کړي او په کندز کې ۸۲ تنو څخه ۶ تنو د ملي پوليسو لخوا د شکنجه کيدو شکايت کړی.[238]

---

[233] توقيفی نمبر: ۹۸

[234] دد۲۰۱۱ کال سپتمبر ۷ نيټه دکورنيو چارو وزارت او ملي امنيت رياست ګډه مطبوعاتي اعلاميه.

[235] د۲۰۱۱ کال راپور دوهمه ضيمه وګوري.

[236] دياد راپور وهمه ضميمه وګوری

[237] د۲۰۱۲کال می ۹ نيټه ؛ يوناما دکورنيو چارو وزارت دجندر ، حقوق بشر او ماشومانو څانګې او دملي امنيت دبشری حقوق څانګې سره وليدل.

[238] د۲۰۱۲ کال مارچ مياشت کې د کورنيوچاروزارت راپور.

**عدلي تعقيب**

دکورنیو چارو وزارت دجندر، حقوق بشر او د ماشومانو د حقونو د ملاتړ ریاست یوناما ته خبر ورکړی چې دشکنجې د ورکولو له کبله هیڅ افسر هم ترعدلی تعقیب لاندی ندی نیول شوی. دلویې څارنوالۍ د معلوماتو پربنسټ، نظامي څارنوالان چې د ملي پولیسو د جزایي قضایاوو مسولیت لري، د ملي پولیسو ۳۵ قضیې چې د وهلو تورونه وو، او ۴۰ قضیې چې ملی پولیس پکې په قتل تورن وو ، نظامی څارنوالۍ ته رسیدلي. دلویې څارنوالۍ په معلوماتو کې داروښانه نه وه چې ایا د دغو پیښو قربانیان توقیفیان وو یا دا قضایاوې د جنایي بررسیو او تحقیقاتولاندی وې.[239]

**روزنې**

دکورنیو چارو وزارت دیوناما دوړاندیزونو د تطبیق په برخه کې د پام وړ اعمال ترسره کړی په ګډون دپولیسو د اکادمي په درسی نصاب کې دپولیسو اکادمي ټولو زده کوونکوته د بشری حقونو ۱۸ ساعته اضافی درس ځای پرځای کو؛. برسیره پردي د پولیسو لپاره دبشری حقوونو په هکله دوه ډوله نور ټرینګونه هم شته؛ لمړي ډول یې دکورنیو چارو وزارت د حقوق په ریاست کې ټرینګ دي چې دکورنیو چارو وزارت ټولو کارکوونکوته ورکول کیږی، او دوهم ډول یې دکورنیو چارو وزارت دحقوق بشر د څانګي لخوا دافغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون په ملاتړ ترسره کیږی. تراوس مهاله یاد ټرینګ یواځی په کابل کې د ۱۰۱زون لپاره ورکړل شوي او اراده داده چې یاد ټرینګونه دافغانستان ټولو زونونو او ولایتونوکې ترسره شي.

دبشری حقونو ریاست اقتصادی منابع نه لری چې دا دنده ترسره کړی. ګډونوال د ملي پولیسو او جنایي تحقیقاتو د ریاست کارکوونکې دی. که څه هم دبشری حقونو ټرینګ یواځی دتحقیق د موثرو او قانوني طریقو څخه ندی کوم چې د یوناما لخوا په ۲۰۱۱کال اکتوبر راپورکې وړاندیز شوي و. د کورنیو چارو وزارت په یواځی توګه داتوان نه لری چې په بشپړ ډول تحقیق کوونکي په قانونی او موثرو طریقوسره او دشکنجې مخنیوی مکلفیت په هکله وروزي. دوی دنړیوالی ټولنی مالی او تخنیکي مرستوته اړتیالري ترڅو تحقیق قانونی او موثره طریقو په هکله طزالعمل تیارکړی.

**د کورنیو چارو د وزارت اوامر**

یوناما سره یوه لیدنه کې د کورنیوچارو وزارت د۲۰۱۲کال مارچ کې دټولو صادرو شوو اوامرو یوه کاپی شریکه کړه. دغه لاربښودونه دشکنجې او نورو غیر انسانی اعمالوپه ممنوعیت باندی تاکید درلود. پرته د بشر حقونو د مظنون، توقیفی او زندانی؛ او پرته داړوندو قوانینو او نړیوالو لاربښودونو چې افغانستان یې غړیتوب لری. یاد لاربښودونه خپل سری توقیفونه منع کوی او تاکید کوی چې توقیف باید د قانون پربنسټ اوسی او غیر قانونی او خپل سري توقیفونه او دقدرت څخه سؤاستفاده دپولیسو لخوا جرم دي چې د عدلی تعقیب لاندی راتلی شی. لاربښودونه دلمړنیو تحقیقاتو په شمول د برائت الزمه او مظنون ته دهغه دحقونو په هکله د معلوماتو په ورکولو باندی تاکید کوي. همدارنګه پولیسو ته یادونه کوی چې د ۷۲ ساعته نظارت په مودی کې دهر مظنون د نیولو څخه د ۲۴ ساعتونو په بهیر کې څارنوالی ته خبر ورکړی.[240] لاربښودونه دکورنیو چارو وزارت جندراو حقوق بشر ریاست ته په کابل کې او څانګوته یې په ولایتونوکې هدایت کوي چې دمظنونینو، تورنو او د زندانیانو د حالت څخه نظارت وکړي[241]. ۱۶۹ نمبر احکام ټولو ولایتونو او ولسوالیو ته صادرشوی[242]. یوهیئت ټاکل شوی ترڅو دیادو احکامو د تطبیق څخه

---

[239] د۲۰۱۲ کال جون ۲۵ نیټه یوناما دلویه څارنوالۍ څخه دامعلومات ترلاسه کړي.
[240] د۲۰۱۲کال مارچ ۱۴ نیټه، دکورنیو چارو وزارت لاربښودونه
[241] پورتنی مرجع.

ښارنه وکړی. یاد هیئت دولایاتو د امنیه قوماندانیو او نظارت خانوڅخه لیدنې کوی او د ملي پولیسو افسرانوته پیغامونه انتقالوي[243].

یوناما دکورنیو چارو د وزارت د لاربښودونوقدرداني کوی ، که چیري دهیواد په کچه د قانون پلی کوونکو چارواکوته دځانګړو ترییننګونو سره واستول شي او له تطبیق څخه یې نظارت وشی ، نو په اوږد مهال کې دتوقیفی دحقوقو ضامن او شکنجه به له منځه ولاړه شي. حکومت باید داسي لاربښود دموثریت ټاکلو لپاره روښانه معیار رونه وټاکي او وخت پروخت موندنی یې دیوناما او نورو هغو اداراو سره یوځای کړي چې دبشری حقونو د نظارت په برخه کې کارکوی.

دتوقیفی دحقونو د نظارت په برخه کې په ځانګړی توګه چې د ملي امنیت په توقیف ځایونوکې ساتل کیږی ، یوناما له حکومت څخه غواړي چې دخپواکه او مستقله ناظرینو نظارت پرته دکوم قید او شرط څخه یقینی کړي.

## د قانوني مراحلو طی او د جزایې عدالت سیستم ځواب

دافغانستان دجزایې اجرااتو قانون او د اساسي قانون پربنسټ ، دشکنجی دلاری ترلاسه شوي اعتراف نباید دمظنون د محکومیدو د اساس پتوګه وکارول شي. څرنګه چې په دي راپور کې روښانه شوي ، تردي مهاله په ټولو قضایاوو کې داسي استفاده شوی چې د ملي امنیت او ملي پولیسو چارواکو د اعتراف ترلاسه کولو لپاره په بدچلند او شکنجي باندي د مصلحت له مخی تکیه کړي. د ملي امنیت په توقیف ځایونوکې د ۱۷۹ توقیفیانو له جملې څخه چې دشکنجی او بدچلند راپور یې ورکړی ، ۱۳۷ تنو ویلي چې د تحقیق په بهیر کې دشکنجی دریدو په موخه یې اعتراف کړی.

څرنګه چې د۲۰۱۱ کال د اکتوبر په راپور کې یادونه شوی ، یوناما موندلي چې اکثره قضایې چارواکو د محاکمی په بهیر کې د عدلی تعقیب لپاره جرم باندی دمدعی علیه پر اعتراف تکیه کړي. ډیری وخت اتهام ، توراو محکومیدل د هغو اثبابیه مدارکو پربنسټ کیږي چې د بدچلند او شکنجي دلاری ترلاسه شوی وی ، او ډیر کم وخت دا شواهد په محکمه کې دسوال لاندی راځي.

### د شکنجو ادعا ګانو ته د قاضیانو او ښارنوالانو لاسرسی

یوناما ګڼ شمیر قاضیانو او ښارنوالانو سره مرکې کړي چي دشکنجی او زور سره ترلاسه شوی ادعاګانو ته څرنګه رسیدګی کوی[244]. ګڼ شمیر قاضیانو منلي چې د محاکمې بهیر کې دشکنجی ادعاګانی ترلاسه کړي ، پداسی حال کې چې ښاروالانو بیا د داسی ادعاو ترلاسه کول رد کړي.[245] ګن شمیر قاضیانو منلی چې په محاکمو کې دشکنجی ادعاګانی ترلاسه کړي. دیوناما لخوا مرکه شوو چارواکو ، د ملي امنیت ، ملي پولیس دولسوالیو په کچه او یوه قضیه کې د جنایې مدیریت دشکنجی د منبع پتوګه ښودلي. که څه هم دوی په‌خپله دداسی ادعا ګانو ترلاسه کول رد کړي.[246]

---

[242] دکورنیو چارو وزارت احکامو یوکاپی یوناماته لیږدول شوی

[243] د ۲۰۱۲کال می ۹ نیټه یوناما د کورنیو چارو وزارت جندر ، حقوق بشر او ماشومانو څانګۍ رئیسی سره ولیدل.

[244] دافغانستان توقیف ځایونوکې دمنازعی اړوند توقیفیانو سره چلند (۲۰۱۱ کال اکتوبر) ، دیوناما او دبشری حقونو په هکله دملګروملتونو عالی کمیشنری دفتر

[245] د۲۰۱۲ کال فبروری ۹ او ۲۸ ترمنځ یوناما د ۱۵ قاضیانو ، ۱۵ ښارنوالۍ استازو ، دوته دلویه ښارلوالی استازو سره کابل کې لیدلي.

[246] د۲۰۱۲ کال فبروری ۹ او ۲۸ نیټو ترمنځ یواما د لویه ښارنوالی ۱۵ استازو ، چې ۱۳ تنو ۱۱ ولایتونوکې کارکاوه ، او کابل کې دلویه ښارنوالی دوه تنه استازو سره مرکه کړي.

دقاضيانو لپاره هيڅ کوم ځانګړی لارښود ندی وضع شوی چې دشکنجی ادعاګاني څرنګه بررسی کړي یاهم هغه قضایاوو کې چې اعترافپه زور او د شکنجی له لارې ترلاسه شوی وي ، څرنګه رسیدګی وکړی. په حقیقت کې ګڼ شمیر قاضیانو ، څارنوالانو ، او د مدافع وکیلانو یادونه کړي چې په اوسنی نظام کې دشکنجی دواقع کیدو اثبات مسؤلیت دمدعی علیه (تورن) پرغاړه دی. داسی ښکاری چې ملي امنیت ، ملي پولیسو ، څارنوالانو او محاکمو ته لازمی ده چې مدعی علیه ددی توان ولری ترڅو پڅپل بدن باندی دشکنجې څرګند ټپونه ښکاره او ثابت کړي چې شکنجه او بدچلند ورسره شوی.[247]

ډیر شمیر قاضیانو په ښکاره توګه منلی چې طبی معائناتوته دشکنجی اثبات لپاره دمتهم استول یو نامناسب کاردی ځکه چې ملي امنیت اکثره توقیفیان په قانون کې د ټاکلي مودی څخه زیا ت وخت په توقیف کې ساتي. کله چې اکثر متهمین محکمی ته حاضریږی نو ډیر ناوخته وي چې دشکنجی نښې ښکاره شي ، په ځانګړی توګه فزیکي نښی له منځه تللی وي. ددی ستونزی لپاره ملي امنیت اکثره دخپلو طبی کارکوونکو څخه کار اخلی ترڅو دشکنجی د ادعاو قربانی معائنه کړی. دغه عمل دتوقیفیانو د طبی معائناتو د خپواکې په هکله اندیښنې رامنځته کوي چې ناشونی ده چې د ملي امنیت ډاکتر چې د ملي امنیت د کارمند پر وړاندی د شکنجې د اتهامشواهد وړاندی کړي.

### د شکنجی د لاری ترلاسه شوی اعتراف په رد کې د قضا مسؤولیت

ځینو قاضیانو او څارنوالانو ښودلی چې د شکجی له لاری د ترلاسه شوی اعتراف ادعا د اثبات په اړوند ددوی صلاحیت محدود دي ځکه چې دافغانستان د جزا او د جزایې اجراتو په قانون دشکنجی دجرم عناصر په واضحه توګه ندی تعریف شوي. پداسی حال کې چې شکنجه منع شوی ؛ ولی قانون په روښانه توګه جرم ندی تعریف کړی. تراوس مهاله دشکنجی نړیوال تعریف دافغانستان په قوانینونو او پالیسی کې ندی منعکس شوی[248].

همدارنګه یوناما دیوشمیر مدافع وکیلانو سره خبری کړی چې شکنجه شوی موکلینو څخه یې دفاع کړي[249]. په ټولو راپورونوکې دشکنجی موضوع په محکمه کې مطرح شوې[250]. یوتن مدافع وکیل ویلي چې هیڅ تجربه نه لری چې قاضی دیدقانون د هغو تطبیق کوونکو ادارو پر وړاندی چې شکنجه ترسره کړی عملي ګام واخستلی شي ، مګر یواځی قاضیایو ویلی چې دوی فکر کوی چې اعتراف زور سره اخستل شوی دی. بل تن مدافع وکیل ویلی چې که دشکنجی فزیکي نښی شتون ولری اوکه نه ، هغه په محکمه کې دشکنجه کیدو شکایتکوی ولی په اکثرو دوسیو کې قاضیانو دغو ادعاوو ته پاملرنه نده کړی. همداشان نورو مدافع وکیلانو ویلی چې دوی هیڅکله داسی قضیه نده درلودلي چې د شکنجي ادعا دقاضیانو لخوا منل شوی وي او د متهم پروړاندی تورونه رد شوی وي.

یوناما سره قاضیانو دبحث په دروان کې دقانون د تطبیق کوونکو اداراو سره پخپلو مسلکی اړیکوباندی هم رڼا واچوله. یوتن قاضی وویل چې د ملي امنیت او ملي پولیسو څخه یې غوښتي وو چې محکمي ته حاضر شي او دشکنجی ادعاوو ته ځواب ووایې ولی بی نتیجې وو. بل تن بیاوویلي چې که چیری پرته دکابل څخه د ملي امنیت ۴۰ ریاست پوښتنوکې برخه ولری نو ممکن

---

[247] دمرکه شوو قاضیانو او څارنوالانو جملی څخه ډیر ځانګړی توګه دوه تنو ویلی چې ملی امنیت دمنازعی اړوند توقیفیانو سره بدچلند او شکنجه کوي.
[248] مخکنی ماخذ
[249] د۲۰۱۲کال فبروری ۹ څخه تر ۲۸ پوری یوناما دقانون حاکمیت څانګی کارکوونکو د ۱۲ مدافع وکیلانوسره ولیدل چې په ۱۱ ولایتونوکې یې کارکاوه.
[250] د۲۰۱۲ کال ۹ او ۲۹ نیټه ترمنځ یوناما د ۱۲ تنو مدافع وکیلانو سره لیدلی چې ۱۱ ولایتونوکې کار کاوه.

محکمې ته یې احضارکړي. بل تن قاضی ویلی تراوسه پورې په عمومی توګه مسئولین حتی ډاکټران نه غواړي چې د ملي امنیت پروړاندي د شکنجې اثار تاییدکړي.

ځینو قاضیانو او څارنوالانو دقضایې او ملي امنیت کارکوونکو ترمنځ دیوظریف ارتباط تائید کړی او دشخصي امنیت اندیښنې یې څرګندی کړی چې دقضایاو تعقیب باندی تاثیر لري. همدااز اندیښنې دمدافع وکیلانو او ممکن د ډاکټرانو په برخه کې چې دشکنجې قربانیان معائنه کوی هم موجودیوي.

**بد چلند او د شکنجو حل ته قانوني ځواب**

دجزایې اجرااتو د قانون مسوده تر کارلاندی ده. ددې مسودې چې پروسه یې دعدلیې وزارت لخوا پرمخ وړل کیږي ، که چیری تصویب شی نو ګڼ شمیر مادی لری چې د توقیفی په ګټه دقانونی مراحلو طی مراعت کول تظمینوی او دشکنجی او دخپل سری توقیف اوسنی ممنوعیت غښتلی کوي.[251]

یوناما تشویق شوی چې دجزایې اجرااتو قانون په مسوده کې څارنوال ته مسؤلیت ورکول کیږي ترڅو داثابته کړی چې دمتهم پروړاندی قانوني شواهد پرته دزور یا شکنجی ترلاسه کړي. پدی قانون کې به داسی مادی شتون ولری چې دعدلی تعقیب په هره مرحله کې باید توقیفی مدافع وکیل ته لاس رسی ولري.[252] په اوسنی مسوده کې یوه ماده دتوقیف د مدافع وکیل درلودل لازمی ګڼی هغه هم هغه جدی قضایاوو کې چې حداقل مجازات یې اوږد حبس وی.[253]

دحکومت لخوا دحقوقی خدماتو وړاندوینه بی بضاعته توقیفیانوته په یوه ماده کې شوی[254] ، په شمول ددی چې څارنوال او قاضی باید اطمنانی کړي چې په زور اخستل شوی اعتراف د متهم د دوسیې څخه خارج کړی شوی دی[255] . ددااسی قانوني حفاظت شتون او جدی تطبیق کیدل به نه یواځې دافغانستان قانوني او بشری حقونو نړیوال مکلفیت تضمین کړی بلکی د مظنونینو څخه به تحقیق اوڅیړنی دقانون په چوکاټ کې ځای پر ځای کړي.

یاده مسوده(د جزایې اجرااتو د قانون مسوده) دتوقیفی حق تضمینوي چې توقیفی دتوقیف مودی د ختمیدوڅخه درې ورځی مخکی محکمې ته وړاندي کړی شی. دڅیړنو په بهیر کې د تحقیق موده ۱۰ ورځی ده چې هر ځل د توقیف موده د ۳۰ ورځو څخه زیاته نشی تمدیدای. په مجموع کې د توقیف موده باید ۱۸۰ ورځو څخه زیاته نشی. هرځل دتوقیف د مودې دتمدید باید د محکمې څخه وغوښتل شي چې توقیفی یا وکیل یې په محکمه کې شتون ولری ترڅو دتمدید مودی باندی اعتراض وکړی.

**د توقیف د مشروعیت د څېړنې د حق نشتون او د هغه تاثیر په خپل سرو او غیر قانوني توقیفیو باندی**

دافغانستان حقوقی نظام دتوقیف په مشروعیت باندی د اعتراض حق ندی وړاندي کړی[256] کوم چې دغیرقانوني توقیف په هکله اضافی قانوني حراست وړاندی کوي. اکثره وخت یوتوقیفي ترڅو محکمه ترسره نشي قاضی نشی لیدلي. دنیول کیدو دوخت څخه

---

[251] مدافع وکیلانو یوناما خبرورکړي چې ځانګړی توګه دري قضایاووکې شکنجه ، او عدلی طب معائنات ددوسیه سره یوځای وړاندی کړي.

[252] دجزائی اجرااتو قانون مسوده اوس مهال پارلمان کې قانوني مراحل طی کوی. د۲۰۱۲ کال اکتوبر ۲ نیټه پارلمان دتقنین کمیټی یاده مسوده باندی کارپیل کړی.

[253] پورتنی مرجع ، ۱۰ ماده.

[254] پورتنی مرجع ، ۱۰ او ۱۱ ماده.

[255] پورتنی مرجع ۲۲ ماده.

[256] پدی معنی چې توقیفی ته حق ورکوي چې محکمې ته دخپل توقیف مشروعیت باندی اعتراض پاېه وړاندی کړی ؛ چې داقانونی عمل افراد دخپل سرو او غیرقانونی توقیف څخه ساتي.

ترمحاکمې پورې دتوقيف موده درې مياشتو مودې پورې غځيدلی شي[257]. هغه جوړښت چې توقيفي وکولای شي د خپل توقيف د عدم مشروعيت په هکله قاضی ته شکايت وړاندې کړی ؛ دافغانستان قوانين به دافغانسان اساسي قانون سره همغږی کړی او همدارنگه ددولت مکلفيت دمدنی اوسياسی حقونو کنوانسيون دغږی هيواد په توگه ترسره کړی[258]. پرته لدی چې توقيفيان وکولای شي د خپلو توقيف کيدو قانونيت په محاکمه کې اعتراض وکړي. ډيری توقيفيان دتوقيف ځايونو چارواکو لخوا پخپل سر توقيف کې ساتل شوي بغير لدی چې قانوني مودې او مدافع وکيل ته د لارس رسی حقونوته احترام وشي.

په خواشينی سره هيڅ داسی تظمين شتون نلری چې يوځل دقانون ياده مسوده دپارلمان لخوا تصويب شي بيادی نو داسی قانونی مادی پکې ځای پرځای شی. دافغانستان داساسی قانون سره سم داسی قانونی جوړښت ته اړتيا ده چې توقيفی وکولای شی محکمې ته دخپل توقيف قانونيت باندی غور کولو په موخه عرض وړاندی کړي.

## ستره محکمه او لويه څارنوالی

د يوناما مسؤلينوته خبرورکړل شوی چې محکمه او لويه څارنوالی هم دشکنجی د مخنيوی اړوند لارښودونه صادرکړي او دشکنجی ادعا گانی به تعقيب کړي. دقاضيانو سره ديوناما د مرکو په موده کې(۲۰۱۲کال فبروری ۹-۲۸ نيټی) دوه تنو قاضيانو د دوه کلونو وړاندی دستری محکمې لخوا لارښودونوته اشاره وکړه . ولې نه يوناما او نه هم کوم ځواب ورکونکی دستری محکمې لخوا دکوم (نوي يا پخواني) لارښود په هکله معلومات درلودل. يوناما دقضا ټولو چارواکو او د قانون تطبيق کوونکو ادارو چارواکو باندی غږ کوي چې دتحقيق معياری او ټاکلي لارښودونه چې ټولو قانون تطبيق کوونکو اداروته تطبيق وړ وي تنظيم او نشر کړي. دابه نه يواځی خپلواکه مستقله نظارتی ادارتوته وړتياورکړي چې دلارښودونو موثر نظارت وکړي بلکی ددولت مثبت اقدامات دشکنجی د مخنيوی او طی مراحلو په حق کې اوسي.

### د عدليې وزارت څخه د کورنيو چارو وزارت ته د محابسو د عمومي رياست د مسؤليت انتقال

د۲۰۱۱کال جنوری کې دمحابسو د عمومي رياست مسؤوليت دعدليې وزارت څخه د کورنيو چارو وزارت ته انتقال شوچې نړيوالې ټولنې پرې خپل تشويش څرکند کړ[259]. نړيوالې ټولنې تاکيد کاوه چې بايد دمحابسو عمومي رياست دکورنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې د مستقل رياست (معينيت) پتوگه شتون ولريترڅو د ملي پوليسو او امنيتی ادارو توقيفيانوته دلاس رسی مخنيوی وکړي. همدارنگه دا خبره هم ياده شوه چې دقانون نافذين او امنيتی ادارې بايد دمحابسو په چارو او اداره کې مداخله ونکړی ، چې دکورنيو چارو وزير موافقه وکړه او د دی موقف څخه ئې په علنی توگه ملاتړ وکړ.[260]

### د محابسو اداره کې د کورنيو چارو د وزارت او د ملي امنيت رياست د لاس وهنو په هکله انديښنې

په دی نژدی وخت کې د کورنيو چارو وزارت د محابسو عمومی رياست ټولو ولايتی اومرکزی محابسو کې د يوې ((کشفی څانگی)) ځای پرځای کولو پلان خپورکړ. پدغه اداره کې به داستخباراتی او تحقيقاتي ادارو او وزارتونو استازی گډون ولری د ملي امنيت د رياست او د جنايې جرمونو د رياست د استازو په شمول. دغه اداره به دمحابسو په داخل کې موقيعت ولری او د جاسوسی ،

---

[257] دجزائی اجراتو موقت قانون ۶ او ۵۳ ماده .
[258] دجزائی اجرااتو موقت قانون ۹ ماده ۱ بند
[259] قانوني ډول د ۲۰۱۱ کال دسمبر ۱۷ نيټه دجمهوری رياست فرمان پراساس انتقال صورت نيولی وو.
[260] د۲۰۱۲کال جنوری ۱۰ نيټه دکورنيو چارو پخوانی وزير ښاغلي بسم الله خان محمدی بيانيه.

مخدره موادو او تروریزم سره د مبارزی د بررسی او تحقیق مسؤولیت لری. دوي به دمحابسو عمومی ریاست ته مسؤل نه وي بلکې هرشخص به خپلی خپلی اداری ته ځواب ورکوونکی وي.

نړیوالو دکورنیوچارو وزارت باندی نیوکه وکړه او ویلیيې دي چې دغه پلان دبشری حقونو د بالقوه سؤاستفادو څخه ډک دی او دمحابسو د نړیوال اصلاحی معیار سره په تضاد کې دی[261]. ترټولو ستر تشویش دادی چې د ملي امنیت ریاست ته اجازه ورکوی چې دتوقیفیانو انتقال د ملي امنیت څخه زندانونوته بیاهم چانس ورکوی چې په زندان کې د محبوسیونو څخه اعتراف ترلاسه کړی.

**سرپوزه(کندهار)**

یوناما دکندهار د مرکزی زندان(سرپوزه) په داخلي چارو کې دامنیه قوماندان د لاس وهنو په هکله ګن شمیر راپورونه ترلاسه کړي. دمحبس دچارواکو په نسبت د ملي پولیسو ، ملي امنیت کارکوونکو او څارنوالانو نفوذ ورځ تربلی د محبس چاروکې زیاتیږی او د محبس دچارواکو ، توقیفیانو او د زندانیانو د اندیښنو سبب شوي. دګنو اداراو یو روښانه رول نه شتون ، توقیفیانو او زندانیانو ته دمحکمې او کورنیو سره دملاقات په برخه کې ځینې ستونزی رامنځته کړي. دغه موضوع د یوناما لخوا د کورنیو چارو له وزارت سره شریکه کړی شوه. د کورنیو چارو وزارت وویل چې دزندانونو په داخل کې د ملي امنیت له فعالیت څخه خبرندي.[262]

## د توقیف ځایونو څخه د نړیوالو مرستندویه ځواکونو (ایساف) د پلټنې پروګرام

"زه یې د تلاشۍ پوستې ته تر وړلو درې ورځې وروسته ځوړند کړم. دوی زما لاسونه زما ترشا ولچک او په یوه توټه یې زما په ملا پورې کلک وتړل او د توت په یوې ونې کې یې راځوړند کړم. دوی دې کار ته تر ډیره مودې دوام ورکاوه ، ترڅو به چې ما خپل هوش له لاسه ورکړ. دشپږو ورځو نه د زیاتې مودې په اوږدو کې یې دا کار راسره هره شپه ترسره کاوه. زه به په یو کانتینر کې را په حال کیدم چیرته چې به دوی د بې هوښۍ په وخت کې وړلم. کله به یې چې زه ځوړند کړم نو د وینې جریان به مې بند شو او ګوتو به مې حس نه درلود. شاوخوا درې ځلې یو بهرنی هییت چې د امریکایي فوځیانو نه جوړ ؤ او فکر کوم چې د حوزې د کتلو لپاره به راته ،راغی خو هر ځلې به یې زه ترې پټ ساتلم. دوی ماته وویل که زه ځا ن پټ کړم نو خوشی به مې کړي. زما ښی مټ او لاس کار نه کوي ، زه سم حرکت نشم ورکولی."

{ یوناما ولیدل چې د توقیف شوي کس ښی لاس او مټ بې حرکته ؤ او لاس یې د لمس کولو وړتیا نه درلوده.}

**(۲۶ نمبر توقیفي ، د ملي پولیسو ۱۵مه حوزه ، کندهار ، د ۲۰۱۱ کال ډسمبر)**

**د سمون شپږ پړاویز پلان**

د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې ایساف د سمون شپږ پړاویز پلان په لاره واچاوه چې د توقیفیانو سره د چلند او د استنطاق په روشونو کې د سمون د راوستلو په برخه کې ، له افغان چارواکو سره مرسته وکړي. دغه سیستم ، د توقیف ځایونو څخه د باقاعده پلټنو ، د پرسونل او توقیفیانو سره د مرکو پراړتیا ټینګارکوي چې د ملي امنیت او ملي پولیسو له خوا د توقیفیانو سره د

[261] دنړیوالی ټولني استازید۲۰۱۲کال د می په ۲۹ نیټه د محابسو په کاری ګروپ کې په رسمی توکه خپل تشویش دکورنیو چارو پخوانی وزیر ښاغلی بسم الله محمدیسره شریکه کړه.

[262] د۲۰۱۲ کال د می ۲۹ نیټه ، یوناما دکورنیو چارو پخوانیوزیر ، ښاغلی بسم الله خان محمدی سره شریکه شوه.

ناوړه چلندونو په پېژندنه کې اساسي وسیله ګڼل کیږي. ایساف به د سفارتونو او نړیوالو سازمانونو سره په دوه اړخیزه توګه کار وکړي ، د توقیف ځایونو دمشرانو او د تحقیق د پرسونل لپاره چې له توقیفیانو سره تماس لري او د خپل چلند لپاره مسؤل دي ، روزنیز سیمینارونه په لاره اچولي. نوموړو روزنیزو پروګرامونو ،له توقیفیانو سره پر انساني چلند او دتحقیق پر غیر اجباري تخنیکونو چې تحقیق کوونکي یې د شکنجې د یو بدیل په توګه کارولی شي ، تمرکز درلود. همدارنګه نوموړو پروګرامونو د بشري حقونو پر معیارونو او د توقیف ځایونو د داخلي وضعیت پر ښه کیدو هم ټینګار کاوه.

د روزنې د بشپړولو او د توقیف ځایونو څخه د نااعلان شوې پلټنې دویمې مرحلې نه وروسته کیدای شي د ملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونه د هغې پروسې لپاره تایید شي چې له مخې یې د نړیوالو ځواکونو څخه د بندیانو سپارلو بیا پیلولو ته لاره هوارېږي. تایید یا منل یوازې د ایساف قوماندان ته وړاندیز کیدی شي ، که چیرې د توقیف ځایونو ټول اړوند پرسونل چې له توقیفیانو سره د ناوړه چلند مرتکب شوي وي ، په دې روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کړی وي او د ایساف د روزونکو د قناعت وړ ګرځیدلي وي. د توقیف ځایونو پلټنې هغه وخت بشپړې وي چې ایساف به وکولی شول په هر ځای کې د ټاکلی شمیر توقیفیانو سره مرکې وکړي —په بیلا بیلو توقیف ځایونو کې د توقیفیانو شمیر یو تر بله توپیر درلود. [263]که د توقیفیانو سره د مرکو په لړ کې به که د ایساف د پلټونکو له خوا څه ستونزې او یا د ناوړه چلند ادعاوې ترلاسه شوې ، نو د توقیف ځایونو د پرسونل سره چې د ناوړه چلند مسؤل وو د چټکو اصلاحي اجرااتو د ترسره کولو په موخه به ملي امنیت او یا ملي پولیسو ته وړاندې کیدې. په ځینو قضیو کې به ایساف د توقیف ځایونو د پرسونل لپاره په نورو روزنیزو پروګرامونو ټینګار کاوه.

د روزنو او پلټنو نه وروسته ، د ایساف د پروګرام په چوکاټ کې د باقاعده څارنې پروګرام په لاره واچول شو چې د دوی پرسونل به یې ترسره کوي. په دې لړ کې د نړیوالو ځواکونو پرسونل د توقیف ځایونو څخه ، چیرته چې دوی توقیفیان سپارلي وو ، په باقاعده ډول څارنې کړي دي ترڅو له هغوی سره د محاکمې نه مخکې بهیر وڅیړي.

**د توقیف ځایونو د تایید پروسه**

د ایساف د قوماندان له خوا د توقیف ځایونو د تایید پروسه د ۲۰۱۱ کال د نومبر پر ۸مه د نړیوالو ځواکونو له خوا د بندیانو په سپارلوسره د هرات د ملي امنیت د توقیف ځای په پاک ښودلو سره پیل شوه. د ۲۰۱۲ کال د مارچ پر اتمه نیټه ایساف اعلان وکړ چې دا ثابته شوې چې د یوناما له خوا له ۱۶ نه تر ۱۴ توقیف ځایونه پیژندل شویدی چیرته چې شکنجه وجود لري. [264] د یوناما د معلوماتو پر اساس ، د ایساف له خو د تایید پروسه د ایساف د قوماندانۍ له خوا د دې منلو په معنی نه ده چې په توقیف ځایونو کې به شکنجه نه کارول کیږي او یا د دې ضمانت نه دی چې د توقیف ځایونو پرسونل په اړخیزه توګه بیا وروزل شي تر څو د استنطاق ناوړه کړنلارو څخه ګټه وانخلي[265]. تاییدې څرګندونه کوي چې د ملي امنیت او ملي پولیسو توقیف ځایونو د اصلاحي پروګرام لومړنۍ درې مرحلې بشپړې کړي او ایساف د نورو ناوړه چلندونو په اړه معلومات نلري.

---

[263] دتاییدد پروسې د یوې برخې په توګه ، د ایساف پلټونکو د هر توقیف ځای د توقیفیانو د ټولټال شمیر څخه له ۳-۴ سلنې پورې توقیفیانو سره پر مرکو پیل وکړ او یا یې په هر ځای کې لږترلږه شپږ توقیفیانو سره مرکې وکړې. په ځینو توقیف ځایونو کې د توقیفیانو په شمیر کې د ډراماتیک کمښت له امله ، ایساف ونشول کولی له ټاکلي شمیر توقیفیانو سره مرکې وکړي ترڅو دا معلومه کړي چې ایا شکنجه اوس هم په نوموړو ځایونو کې شته او کنه. سربیره پر دې ، په ځینو ځآیونو کې لکه د کاپیسا او لغمان په توقیف ځایونو کې ایساف د لوجیستیکي محدودیتونو له امله ونشول کولی پلټنې او ټریننګونه ترسره کړي.

[264] د لغمان ، کاپیسا ، تخار ، هرات ، خوست ملي امنیت او د ملي امنیت ۱۲۴ ریاست ، د ارزګان ملي پولیس ، د خوست یونیفورم دار پولیس ، د ژیړۍ ملي پولیس ، د کندوز یونیفورم دار پولیس ، د ارغنداب او دامان یونیفورم دار پولیس ، د دشت ارچي یونیفورم دار پولیس ، د کندهار د ۹مې حوزې ملي پولیس.

[265] د۲۰۱۱ کال فبروری میاشت کابل کې دایساف قوماندانانو سره لیدنه.

سره لدې چې د ملي امنيت د ۱۲۴ نمبر رياست په ګډون ، په ځينو ټاکليو ځايونو کې يوناما د توقيفيانو سره د ناوړه چلند جدي پيښې ثبت کړي دي ، د تاييد پروسې يې ډير وخت واخيست. په ځينو ځايونو کې د دوامداره ستونزو او په ځينو توقيف ځايونو کې د توقيفيانو د شمير د ډراماتيک کمښت له امله ، د ايساف څارونکو ونشول کولی دکافي شمير توقيفيانو سره مرکې ترسره کړي او قضاوت وکړي چې له توقيفيانو سره څه ډول چلند کيږي. ايساف په مشروط ډول يو ځو ځايونه تاييدکړل.[266] دا په دې معنی ده چې ايساف به د توقيفيانو د سپارلو پروسې بيا پيلولو ته اجازه ورکړي خو د توقيف ځايونو څارنه او پلټنه به د ټاکلي شمير توقيفيانو سره د مرکوکولو پورې دوام ولري ترڅو د توقيفي چلند په اړه دوی د قضاوت کولو جوګه کړي.[267] د ۱۴ څخه ۵ ځايونه په مشروط ډول په ګوته شوي او د هغوی پلټنې به دوام لري.[268]

د ډيرو پلټنو او روزنيزو پروګرامونو سره سره ، په کندهار کې نه د ملي امنيت او نه هم د ملي پوليسو توقيف ځايونه تاييد شوی دی. په وروستيو ملاقاتونو کې ، د جنوب په سيمه ايزه قوماندانۍ کې د ايساف پرسونل يوناما ته دا څرګنده کړې ده چې دوی په دې عقيده دي چې د دوی د پلټنو او روزنو رژيم د ملي پوليسو او ملي امنيت په توقيف ځايونو کې د توقيفيانو سره د چلند په سمون کې اغيزمن واقع شوی دی.

**د ځينوتوقيف ځايونو د تاييد د پروسی د لغوی کيدو تاييد**

د بيلګې په توګه ، د۲۰۱۱ کال د نومبر په ۸مه نيټه ، د هرات د ملي امنيت د توقيف ځای د لغوې د تاييد په تعقيب چې يوناما د نهوهغو توقيفځايونو ليسټ واخيست چې د پوښتنو ګروپرنو د هغه چلند سره مخامخ شوي ووچې شکنجه يې درلوده[269]. په همدې مرکز کېد شکنجې تر ټولو وروستي قرباني پخپلې مرکې کې وويل چې د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په مياشت کې ربړول شوی و ، چې دا پيښه دهرات د ملي امنيت تاييد شوې توقيف ځای ته د ورتګ څخه نهه مياشتې وروسته پيښيږي . همدارنګه ، ايساف د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په ۲۵مه نيټه د خوست د ملي امنيت توقيف ځای تاييد کړ په کوم کې چې يوناما څلور توقيف شوي کسان چې د مستنطيقينو لخوا شکنجه شوي وو موندل ، چې دا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبرپه مياشت کې بالکل وروستۍ پيښه وه[270] .

د ۲۰۱۲ کال د مارچ په مياشت کې[271] ، يوناما د خوست د ملي پوليسو په توقيف ځای کې يو او د کندوز د ملي پوليسو په مرکزي قوماندانۍ کې دوه توقيفيان وروسته لدې وموندل چې ناوړه چلند ورسره شوی واوياهم شکنجه شوي وو ، پداسې حال کې چې ايساف دا دواړه توقيف ځايونه تاييد کړي وو[272] .

[266] د ۱۴ څخه پنځه ځايونه د ايساف له خوا په مشروط ډول له شکنجې پاک اعلان شوي دي ولې د هغوی پلټنې به جريان لري ، د ملي امنيت ۱۲۴ رياست ، د لغمان ملي امنيت ، د ارغنداب ، دامان او د کندهار د ۹مې حوزې ملي پوليس.

[267] ايساف کولی شي چې مشروطه تاييدشويو ځايونو ته توقيفيان وليږدوي ، په دې ډول چې په ۷۲ ساعتونو کې به په نااعلان شوي ډول ورڅخه ليدنه کوي ترڅو توقيفيانو سره د هغوی د چلند او نور وضيعت په اړه مرکې وکړي.

[268] د لغمان ملي امنيت ، د ملي امنيت ء۱۲۴۔رياست ، د ارغنداب ملي پوليس ، د دامان ملي پوليس او د کندهار د ۹مې حوزې ملي پوليس.

[269] د ۱۶۶ ، ۲۳۶ ، ۲۳۷ ، ۲۶۰ ، ۳۷۶ ، ۳۷۹ ، ۴۰۵ ، ۴۱۱ او ۶۰۹ نمبر توقيفيان

[270] ۳۲۸ ، ۴۴۵ ، ۴۴۹ او ۵۷۹ نمبر توقيفيان

[271] د شکنجې ترټولو وروستني قرباني وويل چې د ۲۰۱۲ کال د مۍ په مياشت کې ، د خوست د ملي امنيت د توقيفځا ې د تاييد څخه درې مياشتې وروسته شکنجه شوي.

[272] ۳۵۵ ، ۴۵۲ او ۴۴۵ نمبر توقيفيان

د شکنجې پیښې په نژدې ۲۰۱۲ کال اګسټ کې د خوست اوکندوز د ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې د تایید څخه شپږ میاشتې وروسته راڅرګندې شوي دي. د ملي امنیت په ۱۲۴ ریاست کې یوناما د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په میاشت کې شکنجې په پوره باوري اوډاډمن ډول موندلې دي. پردې برسیره ، یوناما څو نورې د شکنجې قضیې د ملي امنیت په ۴۰ـ ریاست کې ترلاسه کړیدي ، سره لدې چې ایساف ددې توقیف ځای د پنځم پړاو څارنه[273] هم بشپړه کړیده . دغه څو اړخیزه پیښې چې د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په میاشت کې رامنځته شوې دي ، د ایساف د څارنې د پروګرام د عملي کیدو څخه پنځه میاشتې وروسته پیښې شویدي .

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۴مه نیټه ایساف FRAGO[274]لاسلیک کړه د کوم له مخې چې د ملی امنیت ۴۰ریاست ، ۱۲۴ ریاست ، د لغمان ملي امنیت. د خوست ملي امنیت ، د هرات ملي امنیت ، د خوست مرکزي ملي امنیت ، ملي پولیسو او د کندوز مرکزي ملی پولیسو توقیف ځایونه نا تایید اعلان شوي او هغوې ته یی د توقیفیانو لیږدول درولي.

**د ایساف د څارنی پروګرام**

ښايي پلټنو او ترینګونو د ملي امنیت او د ملي پولیسو په ډیرو توقیف ځایونو کې د نظافت د څرنګوالي په پرمختګ کې نتیجه ورکړې وي. توقیفیانو او هغو ادارو چې د توقیف ځایونو څخه څارنه کوي ، یوناما ته د کیسو په ډول ویلي وو چې د ایساف د لمړني غذايي رژیم څخه وروسته د خوړو او درملو په معیار کې بهبود راغلی دی. ځینې ثبوتونه د کیسو په ډول دی او دې ته اشاره کوي چې ترینګونو د ملي امنیت او ملي پولیسو د کارمندانو د پوهاوي د کچې په پورته بیولو کې مرسته کړیده تر څو پدی وپوهیږي چې له کوم ډول چلند څخه شکنجه منځ ته راځي. پداسې حال کې چې ایساف د توقیف ځایونو پلټنې کولې او د هغوې د سمون لپاره یې د کلیدي پرسونل لپاره تریننګونه برابرول ، یوناما په ډیرو توقیف ځایونو کې د شکنجو او ناوړه چلند په اړه د تورونو په ترلاسه کولو کې یو ښکاره کموالی ښودلی دی. په هر حال ، د ایساف د سمون د پلان موثریت محدود شویدی او ډیر دلایل موجود دي چې هغه ثمره اولاسته راوړنې چې د دې پلان څخه په ګوتو راغلي ، لنډ مهالې ثابتوي. د سمون دغه شپږ پړاویز پروګرام پخپل شکل او عمل کې محدود دی کوم چې پخپل وار د محدودو منابعو منعکس کوونکې دی چې ایساف یې د پلي کیدو لپاره په لاس کې لري. څرنګه چې د عسکرو تعداد کم شوی او د قدرت انتقال دوام کوي ، ایساف محدودی بشري منابع په لاس کې لري چې د پلټنو ، ترینګونو او د څارنې دندې یې پرمخ بیولې وای.

په عین وخت کې ، اکثره د ایساف پرسونل چې په پلټنو او ترینګونو کې دخیل وو د بشر د حقونو د څارونکو ، د قانون د اجرا کوونکو مامورینو ، ترینرانو او یا هم د متخصصینو په څیر نه وو تربیه شوي تر څو پدی وپوهیږي چې له توقیفیانو سره څرنګه او په څه ډول مرکې وکړي. دا هم یوه پرانستی پوښتنه ده چې آیا توقیفیانو په هغه وخت کې د پوره هوساینې احساس کاوه کله چې څارونکو په نظامي جامو کې او یا هم په مجهزو محافظوي سامان آلاتوکې ، چې اکثره یې بندیان خپل دښمنان ګڼي ، د هغو سپکوونکو چلندونو په اړه څه ووایي چې له دوی سره شوي وو. د توقیفیانوسره د انټروي کولو یو ژور اصل دا دی چې د پولیسو او یا د نظامیانو په یونیفارم کې شکنجه شوي توقیفان نهایي بې زړه کوي تر څو ډاډه خبرې وکړي او د حقوق بشر ناقضین وپیژني.

---

[273] د بشرحقونو خپلواک کمیسیون / اوپن سوسایټی د عامه راپور په تعقیب ، په ۲۰۱۲ مارچ کې د خلاصې ټولنې ، ایساف د ملي امنیت ۴۰ نمبر ریاست د پنځم پړاو په څارنه کې واچاوه.

[274] دغه امر دامریکا متحد ایالاتو ځواکونو قوماندانانو له پاره په وخت باندی همکاری په موخه لیږدولی کیږی.

پداسې حال کې چې ایساف ټرینران او متخصصین له بهر څخه راوستل تر څو د هغوی د ټریننګونو ظرفیت بشپړ کړي. د ټریننګونو ساعتونه محدود شوي او د موضوعاتو دایره تر پوښښ لاندی نیول شوی. په ایساف کې د ټریننګونوغونډی د ورکړل شوي واک په پلان کې د توقیف ځایونو او د هغوی د موجوده منابعو پر اساس چې په مختلفو سیمه ایزو ملي ځواکونو کې یې لري توپیر کوي. په ځینو ځایونو کې د ملي امنیت او ملي پولیسو مستنطیقینو یواځې دوه نیم ساعته د بشري حقونو او انساني سلوک په اړوند ټریننګونه اخیستي دي ، دا پداسی حال کې ده چې په ځینو نورو ځایونو کې همدا ټریننګ ډیر اوږد او ډیر پراخه و ، د بیلګې په توګه ، د ملي امنیت په ۱۲۴ـ ریاست کې ، او د کندهار ولایت د ملي امنیت او ملي پولیسو په مرکزي قومندانۍ کې.

پلټنو یواځې هغه توقیف ځایونه تر خپل پوښښ لاندی راوستي دي چیرې چې یوناما یا د بشر د حقونو نورو ډلو د شکنجې استعمال سیستماتیک او متداوم عمل پیژندلی دی. دی کار ملي امنیت او ملي پولیسو ته امکانات په لاس کې ورکړیدي تر څو توقیفیان نورو ځایونو ته او یا د قانون نورو اجراکوونکو ادارو ته ولیږي چیرې چې د څارونکو ادارو یا پام نه وي او یا هم د امنیتي ملحوظاتو له امله نشي ورتللې.

دغو کمزوریو د سمون د پلان ټول موثریت محدود کړیدی. څرنګه چې د راپور په جریان کې یاده شویده چې په ډیرو توقیف ځایونو کې ایساف د سمون پلان پلی کاوه ، په ډراماتیک ډول سره پکې د جنګي بندیانو شمیره رالویدلې وه. ددې کمښت لپاره ډیرې احتمالي څرګندونې شته ، په شمول د هغو نیول شویو اشخاصو چې د ایساف لخوا د شپې د چاپیزو عملیاتو په ترڅ کې او یا هم د جنګ په میدان کې نیول شوي وو ، وقفه راغله د کومې له سببه چې د ټولو هغو بندیانو په شمیره کې کمې راغې چې د ملي امنیت او یا د ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې ساتل کیدل. په اکثرو ځایونو کې ، سره له دې چې ښکاره نښې نښانې موجودې وې چې ملي امنیت او ملي پولیس بندیان پټوي او یا یې نورو پټو ځایونو ته چې رسمي توقیف ځایونه ندي لیږدوي ، په شمول د ملي امنیت او ملي پولیسو هغو لیرې توقیف ځایونو ته چې په همغه ولایت کې شتون لري.

**د احتساب نشتوالی**

ایساف منلی ده چې د توقیف ځایونو دهغو مشرانو او مستنطیقینو احتساب مهم دی چې د بندیانو په شکنجه کولو تورن دي. سره لدې چې ایساف پدې ټینګار کوي خو بیا هم د دوی د کار ساحه محدوده ده ، دا پدی معنا چې افغانستان یو خپلواک هیواد دی[275]. د دوی د شپږپړاویزه پلان له مخې ، ایساف ژمنه کړی چې یواځی په هغو توقیف ځایونو کې چې دوی پکې د بندیانو د بد چلند او د بشري حقونواو نورو سرغړونو څخه څارنه کوي ، د احتساب ملاتړ کوي. په احتمالي توګه دا کار د شکنجې مرتکبین په نښه کوي ، ثبوتونه او یا نور اړین معلوماتو چمتو کوي کوم چې په تحقیقاتو او قانوني تعقیب کې د افغانستان د جزایي عدلي سیستم سره مرسته کوي. ایساف د دغو مرتکبینو نومونه نه خپاره کړي او نه یې د دغو موضوعاتو د احتساب لپاره کوم داسي اقدام کړی کوم چې په سیاسي ارادې باندې خواشینونکې اثر پریباسي. د بیلګې په ډول ، د هغو مالي او یا تخنیکي

---

[275] د ۲۰۱۱ کال جنوری میاشت کې دایساف قوماندانانو سره دیونما لیدنه دشپږ پړاویز پروګرام طرح کیدو په موخه.

مرستو او د ظرفیت لوړوني پروګرامونو او پروژې چې په ملي امنیت او د کورنیو چارو وزارت کې پلي کیږي ، که په شکنجې د تورنو مرتکبینو منفکې او عدلي تعقیب پکې شرط وګڼل شي ، یو خواشینونکی حالت رامنځ ته کوي[276] .

احتساب یو داسی حساس فکتور دی چې هڅه کوي د شکنجې هغه کلتور بدل کړي کوم چې د افغانستان په توقیف ځایونو کې شتون لري. یو د هغو دلایلو څخه چې ولی د ملي امنیت او ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې شکنجه دوام لري دا دی چې ژر اعتراف او معلومات لاس ته راوړي. که د شکنجې مرتکبین د تحقیقاتو په سپکونکو تخنیکونو ګرم ونه ګڼل شي ، خپلې دندې او معاشونه له لاسه ورنکړي ، او یا قانوني تعقیب لاندې ونه نیول شي ، شکنجه به دوام ومومي. د احتساب نه شتون په ملي امنیت او د ملی پولیسو په ادارو او لیکو کې ، د ایساف دغه شپږ پړاویز پلان بې ارزښته او محدود کړی دی: شکنجه یوازی په لنډ مهالو ترینګونو او څارنو باندی نشي دریدلای. پداسي حال کې چې د پلټنې او ترینګونو سیستم معرفی په شپاړسو هغو توقیف ځایونو کې د شکنجو د تورونو شمیره راکمه کړه په کومو کې چې د ایساف خپل شپږ پړاویز پلان پلی کوي او د شکنجو استعمال بیرته په هغو توقیف ځایونو کې منځ ته راغلي کومې چې ایساف تایید کړی وي.

د یادونې وړ ده چې د ملي امنیت داخلي پلټنو د شکنجو د تورونو او د هغې د سیستماتیک استعمال په اړه لړه نتیجه ورکړې ده. ایساف او همدا ډول یوناما دا درک کړیده چې هغه معلومات او شواهد چې د ملي امنیت سره یې د خپلو پلټنو او څارنو په پایله کې ترلاسه کړي ، شریک کړیدی خو بیا هم ملي امنیت پدې اړوند څه ندی کړي.

## د ملي امنیت او کورنیو چارو وزارت څخه نړیوال ملاتړ

### برطانیه

د لیکلو په وخت کې د برطانوي ځواکونو څخه د توقیفیانو سپارل افغان ځواکونو ته یو قانوني موده وجود لري تر څو د شکنجې او ناوړه چلند ډار له منځه یوسي. دغه قانوني موده د برطانیې او ویلز د استناف محکمې د حکم پر اساس چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۶ مه نیټه ورکړل شو په کوم کې چې برطانیې ته امر شوی دی چې دغه موده کم له کمه د مرافعه محکمې تر هغه حکم پوری برقراره وساتل شي کوم چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۲۷مه نهایي کیږي[277].د تازهمعلوماتو په رڼا کې د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۲۹مه ، د برطانیې د دفاع وزیر دغه قانوني موده پر ځای وساتله او ملي امنیت ته یې د بندیانو په انتقال موقتي بندیز ولګاوه اوداسی یې وویل "داسې معقول او باوري دلایل شته چې باور پری وشي چې هغه بندیان چې د برطانیې ځواکونو لخوا نیول شوي وو او لشکرګاه ته انتقال شوي ، ښایي د یوه رښتیني ناوړه چلند سره مخامخ وي."[278]

[276] شکنجه او بدچلند دملي امینت او ملي پولیسو لخوا دلاهه "Leahy Law " قوانینو طبیق مانع کیږی. دیاد قانون پربنسټ امریکا متحد ایالات نشی کولای هیڅ نهاد یا مرسته نشی کولای دکوم نهاد لخوا تخطیو په هلکه دامریکا متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت کره شواهد ولری.

[277] وروستنی محاکمه د سردار محمد په اړه وه چې د برطانوي ځواکونو له خوا په ۲۰۱۰ کال کې د هلمند په ولایت کې بندي شو ، چې بیا ملي امنیت ته وسپارل شو ، سردارمحمد ادعا کړې چې د ملي امنیت په توقیف خانه کې شکنجه شوی دی. د سردارمحمد مدافع وکیل د برطانیې له دولت څخه وغوښتل چې هغه قانوني واک ورته وښیي د کوم له مخې چې دده مؤکل ملي امنیت ته سپارل شوی ؤ. د ۲۰۱۲ د مۍ په میاشت کې ددې ادعا له مخې په برطانیا کې تصمیم ونیول شو چې افغان ځواکونو ته د بندیانو په سپارلو بندیز ولګوي.

[278] د برطانیې د دفاع وزیر فلیپ هاموند مکتوب

د ۲۰۱۱ نومبر او ۲۰۱۲ کال د مارچ په منځ کې د برطانیې دولت د برطانیې ملي پولیسو د پرمختګ د نماینده ګۍ بنسټ کیښود چې د ملي امنیت ۸۰ مستنطیقینو ته د مصاحبې د مهارتونو او د شواهدو د استعمال اړوند ټرینګ ورکړي[279]. دغه مستنطیقین د ټول افغانستان څخه په ځانګړې ډول د ملي امنیت د ۴۰ او ۱۲۴ نمبر ریاستونو څخه راغلي وو. ددې ټرینګ موخه دا وه چې ملي امنیت سره مرسته وکړي تر څو د تور د شواهدو په لاسته راوړنه کې د بدیلو منابعو څخه ، پرته لدې چې تورن اعتراف وکړي  وده ورکړي. د ملي امنیت مستنطیقینو ته د مسلکي پرمختګ لپاره د ټرینګونو یو پراخه پروګرام تنظیم شویدی چې د ۲۰۱۲ اپریل او ۲۰۱۳ مارچ په منځ کې پلی کیږي. دا پروګرام به د محل د واقعې په پلټنو او تحقیقاتو ، د محل د واقعې د کروکي اخیستنې ، د داخلي دسپلیني پلټنو او برطانیې ته د ملي امنیت د لوړپوړو مامورینو او غوره شویو څارنوالانو په مطالعاتي سفر مشتمل وي. پر دی برسیره ، د برطانیې دولت د ملي امنت سره د عدلي طب د توانمندۍ په پرمخ بیولو کې مرسته کوي تر څو د شواهدو په راغونډولو او معایناتو کې ورڅخه استفاده وکړي[280].

ددی نه علاوه ، د برطانیې دولت د ملي امنت او د تروریزم ضد څارنوالانو ته سلاکاران ورکړیدي چې د قانون او شواهدو پر وړاندی د دوی پوهاوې ، او د دوی توانایي د مشهودو دعوو او د هغوی د استعمال او د حقوق بشر اړوند شکایتونو د انتروي تخنیکونه غښتلي کړي[281].مالي مرستې شوي دي تر څو د ملي امنیت د توقیف ځایونو حالت وده ومومي . د برطانیې دولت د ملي امنیت اود مرکزي محبس د مدیریت  سره کار کوي تر څوCCTV کمری نصب کړي او فعالیتونه ثبت کړي او د توقیفیانو انځوریزې او غږیزې مرکې ددی وسایلو پر مټ تیاری کړي.

## د امریکا متحده ایالات

د امریکا متحده ایالات هم د ۲۰۱۲ کال څخه راپه دیخوا د افغان دولت سره د یو قرارداد په لټه کې دی ترڅو د توقیف ځایونو د څارنې لپاره یو مُلکي مکانیزم جوړ کړي. په داسې حال کې چې د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان دولت ته د توقیف ځایونو دڅارنې د پلان طرحه وړاندې کړې ده ، خو تراوسه هیڅ موافقې ته سره نه دي رسیدلي. د افغانستان دولت ته د پروان زندان نه سپارل شاید  د امریکا د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت سره د څارنې د پروګرام د میکانیزم د ټرون په پلي کیدو کې ستونزې وزیږوي.

## د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام

د ملګرو ملتونو پراختیایي  پروګرام (UNDP) ملي امنیت ته د هغوی د عدلي او بشرحقوقو پروګرام له لارې مرستې برابروي ، کوم چې د عدلیې وزارت د بشرحقوقو د ملاتړ د څانګې د ټرینګونو یا روزنو له لارې د ملي امنیت د مامورینو مرسته کوي[282]. د برطانیې د سفارت په ملتیا د وزارتونو ترمنځ دا مکانیزم (ملي امنیت او د عدلیې وزارت) د ملي امنیت د ټرینینګ د نصاب څخه د

---

[279] د ۲۰۱۲ کال جون ۲۶ نیټه یوناماته په کابل کې دانګلستان سفارت بریښنالیک ، او جلسه .

[280] په ۲۰۱۱ ډسمبر کې د برطانیې د پولیسي خدمتونو د تحقیقاتو پخوانی سلاکار وګماره چې په کابل کې د ملي امنیت ۴۰ ریاست سره کار وکړي. که څرګنده وواېو ، دداسې ټرینګونوساحه باید پراخه شي ترڅو د ملي امنیت په سیستم کې ټول مستنطقین تر پوښښ لاندې راولي او د ارزونې داسې یو مکانیزم جوړ شي چې د ټراینینګونو څرنګوالی او ګټې په ګوته کړي.

[281] په تیرو دوه کالو کې د برطانیې دولت د خپلو نورو نړیوالو ملګرو سره یوځای په ټول افغانستان کې شاوخوا ۹۰ د تروریزم ضد څارنوالانو ته څو ټرینګونه ورکړل. همدا راز برطانیې په کابل کې د تروریزم ضد قاضیانو سره کار پیل کړی دی چې په سیستم کې مشکلات په نښه کړي او وګوري چې د هغوی د مؤثریت په اړه څه باید وشي.

[282]ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د عدلي او بشر حقونو پروګرام د کاناډا ، ډنمارک ، المان ، ناروې ، د پرمختګ او همکارۍ لپاره د سویس د نمایندګۍ او برطانیې د دولت په ګډو مرستو تمویلیږي.

بشرحقونو برخې تدریسوي. څرنګه چې دا نوښت د ۲۰۱۲ کال په پیل کې منځته راغلو ، د ملي امنیت ټولو مامورینو په کې د ملي امنیت په ۴۰ ریاست کې برخه واخیسته. بله دا چې د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د عدلیې وزارت د بشر حقونو د ملاتړ د څانګې له لارې د ټرینرانو یا روزونکو په روزلو سره ددې نوښت تل پاتیوالی غواړي. دا یوه اوږدمهاله موخه ده ، په دې معنی چې د ملي امنیت کارکوونکو ته د بشر حقونو ټرینګونو د ملي امنیت په ټولو تربیوي پروګرامونو کې د ۲۰۱۵ کال پورې په درې میاشتنیو تکراري کورسونو کې یو ځای او رایج کړي ، ترڅو د بشرحقونه په ملي امنیت کې یو قانوني ځای ونیسي[283] .

سربیره پردې ، د عدلیې وزارت د بهرنیو چارو له وزارت سره کار کوي ترڅو د افغانستان دولت د نړیوالو میثاقونو مسؤلیتونو د شکنجې ضد تړون د عملي کولو او د راپور ورکولو د شرایطو پر اساس اجراء کړي. په ۲۰۱۳ کال کې به د افغانستان دولت د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د شکنجې ضد کمیسیون ته خپل ابتدایي راپور د عدلیې وزرات له لارې وسپاري ، د کوم له امله چې به د افغانستان له دولت سره مرستې وشي.

## په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو ماموریت

په تیرو دوه کالو کې په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو ماموریت (EUPOL) د یوې بهرنۍ خپلواکې څارنې او ځیړونکې ډلې د منځته راتګ لپاره مشورې ورکوي ، کومه به چې د ملي پولیسو په اړوند شکایتونه راغونډوي. د ۲۰۱۱ کال په جریان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو ماموریت او د عدلیې وزارت په کافي اندازه څرګند پرمختګ کړی دی ترڅو د (پولیسو نه د شکایتونو د څیړلو ماموریت) ایجاد کړي چې د افغانستان د بشرحقونو خپلواک کمیسیون کې به ځای ولري[284] . ددې دفتر لپاره پلټونکی او ملاتړی پرسونل ټاکل شوی دی ، په داسې حال کې چې یوناما به دغه پرسونل ته د ټریننګونو په برابرولو کې مرسته کوي. پولیسو نه د شکایتونو د ماموریت د مکانیزم د جوړیدو مقدماتي نیټه د ۲۰۱۱ کال د دسمبر نیمایي ټاکل شوې وه خو دغه پلان د کورنیو چارو وزارت په امر وځنډېدو. په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د پولیسو ماموریت د راتلونکو پلانونو د مخته تګ د نوښت سره سره بریالی نه دی.

## په مخکې لار: د راتلونکي لپاره د توقیف ځایونو څخه د څارنې په اړه وړاندیز

د افغانستان په توقیف ځایونو کې د اقرار یا اعتراف اخیستو په موخه د شکنجې کارول یو سابقه لرونکی روش دی چې د له منځه وړلو لپاره یې د افغان حکومت هر اړخیزو هڅو ته چې د نړیوالې ټولنې دوامداره ملاتړ ولري ، اړتیا لیدل کیږي. لکه وړاندې لیدل شوي دي ، چې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د یوناما د راپور د خپرولو راهیسې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د مهارتونو په روزنه ، د پوهاوي د کچې په لوړاوي او د څارنې د مکانیزمونو په رامنځته کولو تمرکز کړی چې دا ټول د شکنجې او ناوړه چلند د پای ته رسولو بنسټیزه وسیله ګڼل کیږي. خو دا ډول هڅو د شکنجو په ختمولو کې ډیر لږ پرمختګ کړی دی. نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د بندیانو سره د چلند د بررسۍ په موخه د توقیف ځایونو د څارنې او پرسونل د روزنې یو سیستم رامنځته کړی دی. د څارنې دغه پروسې د بندي خانو او په ټوله کې د بندیانو په حالت کې یو څه پرمختګونه راوستي دي ، خو له بده مرغه دغه مکانیزم دوامداره نه دی. د امنیتي مسؤلیت د لیږد رواني پروسې سره چې په ۲۰۱۴ م کال

[283] د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۴مه د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د عدلي او بشر حقونو له پروګرام سره د یوناما لیدنه.
[284] ۲۰۱۲ کال اپریل میاشت کې داروپا اتحادیه حقوق بشر او قانون حاکمیت روزونکو سره جلسه.

کې به ټول نړیوال څواکونه امنیت سپاري ، نوموړی مکانیزم هم په وخت پورې محدود دی. د نورو پرمختیاوو د کمیدو په څیر ددوی فیزیکي حضور چې د توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړي ، له منځه ځي.

د توقیف ځایونو څخه څارنه او کتنه د نړیوالو څواکونو له وتلو وروسته هم اړینه ده. د خپلواکو څارونکو له خوا د توقیف ځایونو څخه کتنه د حساب ورکونې د پیاوړتیا او د توقیفیانو سره د انساني سلوک په رامنځته کولو کې مهم عنصر ګڼل کیږي. د بشر حقونو نړیوال معیارونه او غوره رویې په ځانګړي ډول د شکنجې ضد اختیاري پروتوکول د دا ډول مکانیزمونو لپاره یو کاري چوکاټ رامنځته کړی او غړیو دولتونو ته په کار ده چې د شکنجې د مخنیوي ملي مکانیزمونه جوړ او تمویل کړي[285] . زیاتره دا ډول تخصصي څیړونکې ادارې ملي اوپه حکومت پورې تړلې خپلواکې ادارې دي چې د بشري حقونو ملي ټولنو له خوا همغږي کیږي. دوی باید واک ولري چې هغو توقیف ځایونو او بندي خانو ته په ازادانه ډول لاسرسی ولري چې د قانون له مخې جوړې شوي دي. او دوی باید په بشپړه توګه د حکومت له خوا تمویل شي ، سره له دې چې بودجه یې د سیاسي لاسوهنې له مخې ترسره کیږي[286] .

د شکنجې ضد نړیوال کنوانسیون غړي دولتونه شته چې د شکنجې د مخنیوي په موخه یې د مخنیوي ملي مکانیزمونه رامنځته کړې دي. سره ددې چې د فعالو ، خپلواکو او اغیزمنو مکانیزمونو ډیرې بریالۍ بیلګې شته خو تر اوسه ددوی د فعالیت د څرنګوالي په اړه تعقیب نه دی شوی. ځینو دولتونو د بشرحقونو اړونده موجوده ملي ادارو څخه ګټه پورته کړې چې واکونه یې په اساسي قانون کې راغلي دي چې د حکومت توقیف ځایونو او بندي خانو او اسنادو ته لاسرسی لري او خپلواکه څیړنې ترسره کوي ، چې دا د مخنیوي د ملي مکانیزمونو پیلامه ګڼل کیږي.[287]

ازربایجان یو د دا ډول دولتونو له ډلې څخه دی چې د بشر حقونو ملي کمیسار او د شکایاتو د څیړنې مامور(امبوډزمن) یې حمایه کړې ترڅو د خپلې ادارې دننه یوه ځانګه جوړه کړي چې د څارونکي او پلټونکي مکانیزم په توګه کار وکړي او د شکنجې مخنیوی وکړي.[288] د شکنجې د مخنیوي د ملي مکانیزمونو یوه ډله چې د امبوډزمن د دفتر له پرسونل څخه جوړه ده ، په باقاعده ډول د ټولو هغو توقیف ځایونو څخه چې خلک پکې توقیفیږي ، لیدنې کوي ، کیدای شي نوموړي ځایونه مؤقتي توقیف ځایونه وي ، اداري توقیف ځایونه ، دارالتآدیبونه ، محبسونه ، د ساتنې خونې انظباطي څانګې او یا لیونتونونه وي. لکه څنګه چې د امبوډزمن دفتر د څارنې یو غیر قضایي اداره ده نو د مخنیوي ملي مکانیزم کولای شي چې د حکومت د عمل او د پارلمان له خوا د تقنیني اصلاحاتو لپاره خپلې موندنې او وړاندیزونه تیار کړي. د اساسي قانون له مخې حکومتي ادارې یو ټاکلی وخت لري چې د امبوډزمن د دفتر وړاندیزونو او موندنو ته ځواب ووایي.[289]

---

[285] هغه هیوادونه چې اختیاری پروتوکل لاسلیک کړی او مخنیوی ملی میکانیزم ایجاد کړی : آلبانیا ، اذربایجان ، کرواسی ، قزاقستان ، مالی ، نیکاراګوا ، صربیا ، اسلوونیا ، مقدونیه ، دیخوانی یوګوسلاویا جمهوریتونو څخه ، ترکیه او تونس.

[286] دبشپړ لست لپاره دغه ویب سایټ وګوی: http://www2.Ohchr.org/English/bodies/cat/opcat/mechanism.htm د ۳۵ څخه زیات میکانیزمونه رامنځته شوی.

[287] د شکنجې ضد کنوانسیون اختیاري پروتوکول له ډاټابیس سره یو ځای کیدل یوه غوره سرچینه ده چې یوناما د مخنیوي ملي مکانیزمونو لپاره د نړیوالو معیارونو په اړه مشوره ، د غړیو هیوادونو په اړه چې اختیاري پروتوکول پلی کړي او ملي مکانیزمونه جوړي کړي ، او ددې اړوند راپورونه او تحلیلونه لري: *http://ww.aptch/en/opcat/*.همدا ډول د بشر حقونو لپاره د لوډویګ بولټزمن انستیتیوت ، د اطلس د شکنجې پروژې سرچینه: *http:/www.univie.acat/bimtor/*

[288] د ازربایجان د جمهوریت د بشر حقونو کمیشنره امبوډزمن ، د شکنجې ضد ملي مکانیزم راپور ، د ۲۰۰۹ نه تر ۲۰۱۰ ، ۳-۴ مخونه مخونه

[289] همغه راپور ۲۲.۱۵ مخونه.

خو څرنګه چې افغانستان تر اوسه د شکنجې ضد اختیاري پروتوکول غړی هیواد نه دی ، نو د توقیف ځایونو او بندي خانو څخه د څارنې او د شکنجې د مخنیوي په موخه د ملي مکانیزمونو جوړولو ته جدي اړتیا لري. دا ډول مکانیزمونه کولای شي د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون دننه جوړ شي ترڅو د هماهنګۍ رول ولوبوي او یا هم نوموړی مکانیزم په غوره توګه اداره کړي. کیدای شي د بشر حقونو د کمیسیون موجوده ظرفیت اغیزمن نه وي ، نو د نړیوالو تمویلونکو ملاتړ کولی شي د پلټونکو ښه او مناسب استخدام ډاډمن کړي.

یوناما او مدني ټولنې هم کولای شي په لومړنیو مرحلو کې د مکانیزم لپاره د موجوده افغان متخصصینو په واسطه ملاتړ پیدا کړي ، ترڅو د هغوی فعالیت ډاډمن شي. نوموړي پلټونکي باید پیاوړي شي چې بشپړه پلټنې ترسره کړي او په باقاعده ډول له حکومت سره کار وکړي ترڅو داسې وړاندیزونه تیار کړي چې څنګه کولای شو حالات ښه کړو او د ناوړه چلند شکایتونه چیرته راجع شي چې حساب ورکونه یقیني او ملاتړ یې وشي.

## سپارښتنې

### د ملي امنیت عمومي ریاست ته

- د ملي امنیت په ټولو توقیف ځایونوکې باید ژر ترژره داسې اقدامات ونیول شي چې شکنجه او ناوړه چلند ودرول شي بالخصوص په هغو توقیف ځایونوکې چې داسې اعمال دتحقیق دمیتود په توګه پکې کارول کیږي.
- دفاریاب ، هرات ، جوزجان ، کندهار ، خوست ، کندز ، لغمان ، ننګرهار ، پکتیکا ، او تخار په ولایتونو کې د ملي امنیت په توقیف ځاینونوکي او د ملي امنیت ۱۲۴ ریاست او ۴۰ نمبر ریاستونو په توقیف ځایونوکي باید دشکنجې او بدچلند راپورونه وڅیړل شي . داڅیړنې باید چې معتبره ، موثره ، او خپلواکه وی، او د ملي امنیت دمسولینو جرمي کړنو ته توجه وشي.
- په نوموړو پلټنو او تحقیقاتو باندې دی د بې پرې خپلواکه نظارت اجازه ورکړای شي او د پلټنو او تحقیقاتو لاسته راوړنې او د ترسره شویو جوړوونکو اقداماتو دی عام راپور ورکړای شي.
- د ملي امنیت هغه کارکوونکې چې د توقیفیانو په شکنجې مسؤل وګڼل شی ، باید نظامي څارنوالی ته د معرفی کیدو په شمول مجازات او تادیب شي ، له دندو څخه دی ګوښه شي ، یاهم وظیفه یې تعلیق شی او د تقاعد او نورو امتیازاتو څخه بې برخې شي.
- د توقیف ټول غیر رسمي ځایونه دي وتړل شي ،
- خپلواکه څارونکو ته دی ( د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او یوناما په شمول) د ملي امنیت ټولو توقیف ځایونو( په شمول د ملي امنیت۱۲۴ ریاست) ته دی د څارنې په موخه منظم او پرته له ځنډ څخه د لاس رسی اجازه ورکړل شی.
- ټول تحقیقات باید په غږیز یا انځوریز ډول ثبت شي (چیرته چې د سی سی تی وی (څارګری کمری) موجودی وی) او د قاضیانو ، څارنوالانو ، او نظارتی اشخاصو په واک کی دی ورکړی شي چی غوښتنه یی کوی.

- ملي امنيت تړولو توقيفيانو لپاره د بريښنايي  مرکزي راجستر سيستم جوړ کړي ، او تړولو خپلواکه نظارتی اداراو ته  په شمول (د افغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون ، يوناما ، او نور) دي ازادانه لارس رسی يقينی کړی شي او په شفافه توګه دي هروخت دا راجستر اپ ډيټ کيږي.
- د توقيفيانو د عمر د معلوملو شته پاليسي او کړنې دې غښتلې شی چې د توقيفيانو عمر د توقيف پرمهال يقينی شی ترڅو ماشومان (هغه کسان چې د ۱۸ کلونو کم عمر لری) د عدلی تعقيب لاندی راتلو سره سم د ماشومانو د اصلاح او تربيت ځايونو ته واستول شي.
- يقينی دي شي چې ماشوم توقيفيان د نيول کيدو له شيبې څخه په بشپړه توګه د بالغو توقيفيانو څخه په جلا ځاي کې ساتل کيږي لکه څنګه چې په قانون کې  د ماشومانو لپاره وړاند وينه شوې.

## دکورنيو چارو وزارت او افغان ملي پوليسو ته

- د ملي  پوليسو او سيمه ايزو پوليسو لخوادشکنجې او بدچلند دمخنيوی په برخه کې ټول لازم اقدامات ترسره شي په خانګړي توګه په هغو ځايونوکې چې يادېکړنی دتحقيق د ميتود پتوګه ترسره شوي وي.
- دبغلان ، هلمند ، هرات ، کندهار ، کندز ، پکتيکا ،تخار او زابل ولايتونوکې د ملي  پوليسو په توقيف ځايونوکې او دفارياب ، کندز ، کندهار او ارزګان په هغو ولسواليو کې چې محلی پوليس پکې شتون لری ، د ملي  پوليسو او محلی پوليسو لخوا دشکنجې ټول راپورونه دی وڅيړل شي.
- دتوقيف ټول غير رسمي ځايونه دی وتړل شی.
- ملي پوليسو او سيمه ايزو پوليسو ټول هغه کارکوونکې او آمرين ئي چې دتوقيفيانو دشکنجي کولو مسؤل وګڼل شی بايد د د نظامي خارنوالی ته معرفی کيدو په شمول  ، مجازات ، تاديب او شي کولو دندی څخه ګوښه شي ، ياهم وظيفه يې  تعليق شی او دتقاعد او نورو امتيازاتو څخه بي برخې شي ،
